# د ارمیا نبي کتاب

## د کتاب پېژندنه

ارمیا اورشلیم ته نژدې په یو کلي کې کاهن ؤ. هغه د مسیح د پیدایښت نه شاوخوا ۶۵۰ کاله مخکې زېږېدلی ؤ او خپل نبوت يې په ځوانۍ کې د یوشیا پاچا د واکمنۍ په وخت کې په اورشلیم کې پیل کړ. ارمیا د اورشلیم د سقوط او ویجاړېدو مخکې او بیا وروسته نبوت وکړ.

په دې کتاب کې د ارمیا پېشګویانې او د هغه ژوند او خدمت تشریح شوی دی. دا کتاب د بابل د زیاتېدونکي واک په اړه لیکل شوی دی چې په پای کې اورشلیم ویجاړوي او ګڼ شمېر اسراییلیان جلاوطنۍ ته بیايي. ارمیا په یهودا کې د مخ په زیاتېدونکې ګناه په وخت کې د خدای له خوا رابلل کیږي، ترڅو خلکو ته د راتلونکي قضاوت د اورشلیم د ویجاړۍ او جلاوطنۍ په اړه خبرداری ورکړي.


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

هغه اسراييل او د هغه مشران د خدای سره د خپل لوظ په ماتولو، بت پرستۍ او بېعدالتۍ باندې تورنوي او په دروغجنو پيغمبرانو نيوکې او انتقادونه کوي. هغه د خدای د خلکو بېوفايي د زناکارۍ يا فحشا سره پرتله کوي. وروسته په ارميا باندې د خيانت تور لګول کېږي او هغه د بابليانو په طرفدارۍ باندې تورن کېږي. دا ځکه چې هغه باور درلود چې خدای د نبوکدنصر په مشرۍ د بابل له ملت څخه کار اخلي، ترڅو اسراييلو ته د دوی د ګناهونو په خاطر سزا ورکړي. ارميا د اسراييلو شاوخوا هېوادونو ته هم د نبوت پيغامونه ورکوي.

ارميا د خدای له خوا د پيغمبرۍ بلنه نه غواړي، خو خدای ورته ډاډ ورکوي چې هغه ته به قوت ورکړي او هغه به پياوړی کړي. مونږ د ارميا د خدمت په دوران کې چې خدای ورته سپارلی ؤ، د هغه شخصي ژوند او د هغه د مبارزې په هکله ډېر څه لولو. د ارميا په وړاندې د يهودا د پاچاهانو دښمني چې د يوشيا څخه وروسته راغلل مخ په زياتېدو وه، په ځانګړي توګه يهوياقيم پاچا چې د ارميا د نبوت طومار يې وسوځاوه (۳۷ فصل). د ډېرو کلونو دپاره د


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

باروک په نوم د دربار د یو منشي له خوا د ارمیا سره مرسته کېدله. ارمیا د مشرانو له خوا په اورشلیم کې ډېر وځورول شو.

د اورشلیم له سقوط وروسته بابلیانو ارمیا ته د ازادۍ اجازه ورکړه. هغه پرېکړه وکړه چې د ځینو هغو اسراییلیانو سره واوسېږي چې په وطن کې پاتې شوي وو. که څه هم ارمیا دوی ته خبرداری ورکوي چې مصر ته لاړ نه شي، خو هغوی هلته ځي او ارمیا هم له ځانه سره بیایي چې هغه هلته مړ کیږي. دا کتاب د اورشلیم د سقوط په تشریح سره پای ته رسیږي. په وروستي فصل کې د یهویاکین پاچا د خوشې کېدلو په هکله هم لیکل شوي دي چې د ۳۷ کلونو دپاره په بابل کې بندي ؤ. نو دا کتاب د یوې هیلې په یادونې سره پای ته رسیږي.

که څه هم زیاتره وختونه ارمیا خفه کوونکي پیغامونه لري، خو هغه د خدای رحمت او لوظ ته د وفادارۍ په هکله هم خبرې کوي. دا جلاوطني به د ۷۰ کلونو دپاره دوام وکړي، خو په راتلونکي کې به د داود کورنۍ په اسراییلو باندې حکومت وکړي او خدای به خپل قانون د خپلو خلکو په زړونو کې ولیکي (۳۱:۳۱–۳۴)، ترڅو دوی


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

هغه وپېژني او د هغه اراده ترسره کړي.

## د موضوعګانو لست

د ارمیا ښخه بلنه: لومړی فصل

د یوشیاه، یهویاقیم، یهویاکین او صدقیا د واکمنی په وخت
نبوتونه: ۲ – ۲۵ فصلونه

د ارمیا د ژوند پېښې: ۲۶ – ۴۵ فصلونه

د قومونو په ضد نبوتونه: ۴۶ – ۵۱ فصلونه

د اورشلیم سقوط: ۵۲ فصل

۱ په دې کتاب کې هغه خبرې دي چې د حلقیا کاهن زوی
ارمیا کړې دي. حلقیا کاهن د بنیامین په سیمه کې د عناتوت د ښار
د کاهنانو د ډلې ښخه ؤ. ۲ څښتن د یهودا د پاچا آمون د زوی
یوشیا د پاچاهۍ په دیارلسم کال د ارمیا سره خبرې وکړې ۳ او


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

څښتن بیا په هغه وخت کې چې یهویاقیم د یوشیا زوی د یهودا پاچا
ؤ، د هغه سره خبرې وکړې. له هغې وروسته د یوشیا د زوی صدقیا
د پاچاهۍ تر یوولسم کال پورې څښتن څو څو ځلې د ارمیا سره
خبرې وکړې. د هماغه کال په پنځمه میاشت د اورشلیم خلک
جلاوطنه شول.

## څښتن ارمیا د پیغمبرۍ دپاره ټاکي

۴ څښتن ما ته وویل: ۵ «مخکې له دې چې ته مې د مور په
خېټه کې پیدا کړې، ته مې پېژندلې او مخکې له دې چې دنیا ته
راشې، ته مې غوره کړې چې د قومونو دپاره پیغمبر شې.»

۶ ما په ځواب کې وویل: «ای څښتن تعالی، زه نه پوهېږم چې
څنګه خبرې وکړم، ځکه چې زه لا ډېر ځوان یم.» ۷ خو څښتن ما
ته وویل: «دا مه وایه چې ته ډېر کوچنی یې، خو هغو خلکو ته
ورشه چې زه دې ورلېږم او د کومو شیانو حکم چې درته کوم،
هغوی ته یې ووایه. ۸ د هغوی نه مه وېرېږه، ځکه چې زه به


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

درسره مل یم او ساتنه به دې کوم. ما څښتن داسې ویلي دي!»

۹ بیا څښتن خپل لاس رااوږد کړ او زما په خوله یې کېښود او
ما ته یې وویل: «واوره، ما درته هغه خبرې وښودلې چې باید ویې
کړې. ۱۰ ګوره، زه نن تا ته د ټولو قومونو او پاچاهیو د له منځه
وړلو او راچپه کولو، بربادولو، راغورځولو او د ودانولو او کرلو اختیار
درکوم.»

## ارمیا دوه رویا ګانېویني

۱۱ نو بیا څښتن زما څخه پوښتنه وکړه: «ای ارمیا، ته څه
وینې؟» ما ځواب ورکړ: «د بادام د ونې یوه څانګه.» ۱۲ څښتن
وویل: «ته رښتیا وایې او زه ګورم چې زما خبرې به رښتیا شي.»

۱۳ څښتن د دوهم ځل دپاره زما سره خبرې وکړې. هغه پوښتنه
وکړه: «نور څه وینې؟» ما ځواب ورکړ: «زه د شمال خواته یو دېګ
وینم چې خوټېږي او نژدې دی چې زمونږ خواته راتوی شي.» ۱۴
هغه راته وویل: «مصیبت د شمال له خوا نه د دې وطن په ټولو


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اوسېدونکو باندې راروان دی، ۱۵ ځکه چې زه د شمال نه ټول
قومونه راغواړم چې راشي. د هغوی پاچاهان به خپل تختونه د
اورشلیم د دروازو او د هغه د شاوخوا دېوالونو او د یهودا د نورو
ښارونو شاوخوا کېږدي. ۱۶ زه به د خپلو خلکو په هکله قضاوت
وکړم او هغوی ته به سزا ورکړم، ځکه چې هغوی ګناه کړې ده. هغه
دا چې زه يې پرېښی یم او نورو خدایانو ته يې قرباني وړاندې کړې
دي. هغوی بتان جوړ کړي دي او عبادت ورته کوي. ۱۷ خو ای
ارمیا، ته تیار شه، لاړ شه او زه چې د هر هغه څه حکم درکوم
هغوی ته يې ووایه. اوس د هغوی نه مه وېرېږه او که نه، نو کله چې
ته د هغوی سره یې، زه به دې نور هم زیات ووېروم. ۱۸ ای ارمیا
واوره، په دې وطن کې چې هرڅوک وي، که هغه د یهودا پاچاهان
وي، که هغه مامورین وي، که کاهنان وي او که عادي خلک وي، هر
یو به ستا په ضد وي. خو نن زه تا ته داسې قوت درکوم چې د
هغوی په وړاندې ټينګ ودرېږې. ته به د یو قوي ښار، د اوسپنې د
پایې او د برنجو د دېوالونو په شان یې. ۱۹ هغوی به ستا په ضد
وجنګیږي، خو تا ته به ماتې نه شي درکولای، ځکه چې زه به ستا
سره یم، ترڅو تا وژغورم. ما ښښتن داسې وویل.»


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# په ځوانۍ کې د اسراييلو وفاداري

١ ښبنتن ما ته وويل: ٢ «دا پيغام د اورشليم ټولو خلکو ته
اعلان کړه:

زما په ياد دي تاسو څومره وفادار وئ

د ځوانۍ په وخت کې

تاسو ته ګران وم لکه د ناوې په شان

تاسو په دښته کې وئ راروان ما پسې

داسې وطن کې چې کرل شوي

په کې هيڅ هم نه وو

٣ اې اسراييلو، تاسو وئ يوازې زما

لومړني حاصل په شان وئ تاسو زما دپاره


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چا چې کوله هڅه چې مصیبت راولي تاسو باندې

شول ګناهکار هغوی

نازلاوه مې مصیبت

او تباهي راغله په هغوی باندې ما څښتن داسې ویلي دي.»

## د اسراییلو د نیکونو ګناه

4 ای د یعقوب اولادې او د اسراییلو قبیلو، د څښتن پیغام ته غوږ ونیسئ. 5 څښتن داسې وایي:

ستاسو نیکونو وه لیدلې څه بې‌انصافي په ما کې

هغوی په څه دي لرې تللي ما نه؟

کړي عبادت هغوی د بې‌فایدې بتانو


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

نو بې‌ارزښته شول هغوی په خپله

٦ هغوی ونه کړله پروا زما

سره له دې چې دوی مې وویستل د مصر څخه

او لارښوونه مې د دوی وکړه په بیابان کې

چې ؤ د دښتو او کندو کپرو وطن

یو وچ او ډېر تیاره وطن

چې سفر نه کوي هېڅوک په کې

او نه اوسیږي هېڅوک په کې

٧ هغوی مې راوستل یو حاصلخېز وطن ته

چې د فصلونو او ښو شیانو نه یې خوند واخلي



Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

خو د دې په ځای، دوی ناپاک کړلو وطن زما

ما چې ورکړی کوم وطن ؤ دوی ته

د کرکې وړ کړ هغوی

٨ پروا ونه کړه کاهنانو زما

که څه هم دوی دي د شريعت عالمان

خو ما نه پېژني

زما په وړاندې به سرکښي کوله واليانو

د بعل په نامه به پېشګويي کوله پيغمبرانو

او عبادت يې کاوه د بېفايدې بتانو

## د خپل قوم په وړاندې د څښتن دعوه



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ښښتن داسې وايي:

٩ نو زه به بيان خپله دعوه کړمه بيا د خپل قوم په خلاف

او هم به بيان کړمه خپله دعوه د هغوی د اولادې په
خلاف

١٠ لاړ شئ د غرب په لوري جزيرې ته د قبرس وګورئ

او څوک ولېږئ ختيځ خوا د قيدار وطن ته

چې وکړي ښه څېړنه

تاسو به وګورئ چې داسې کله شوي نه دي مخکې

١١ بل هېڅ قوم کله نه دي بدل کړي خپل خدايان

که څه هم هغه نه وو خدايان

خو زما خلکو بدل کړی يم زه


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغو خدایانو په خاطر چې کولای نه شي مرسته

که څه هم هغوی لیدلی دی جلال زما

۱۲ ای اسمانونو تاسو راشئ په لړزه له ویرې

شئ حیران او هک پک پاتې شئ

۱۳ ځکه چې قوم زما کړي ګناهونه دي دوه

هغوی پریښی یمه زه چې یم چینه د ژوندون د اوبو

هغوی کړې جوړې ذخیرې د خپل ځان دپاره

داسې سوری ذخیرې چې ساتلی نه شي اوبه

## د اسراییلو د بې‌وفایی نتیجه

څښتن داسې وایي:



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۴ غلام نه دی اسراییل

او پیدا شوی نه دی په غلامۍ کې

نو بیا ولې اسراییل ښکار شي

د دښمنانو خپلو؟

۱۵ هغوی غړمبېږي لکه زمریو په شان

په اسراییلو په لوړ اواز باندې

هغوی وطن د دوی بدل کړلو په دښته باندې

او ښارونه یې بیخي وران دي او پراته دي خوشې

۱۶ هو، ویې خریل د دوی سرونه چې غلامان شي

د ممفیس او تحفنحیس د ښارونو سړي


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۷ ای اسراییلو، تاسو په خپله په ځان کړي داسې
تاسو پریښی یمه زه خپل ښتن خدای
په داسې حال کې چې ما په لاره کې
کوله لارښوونه ستاسو
۱۸ تاسو دا فکر کوئ چې وبه کړئ ګټه
مصر ته تللو باندې
او د نیل سیند نه په اوبو ښبلو؟
یا آشور ته په تلو او د فرات سیند نه
ګټه به وکړئ تاسو د اوبو په ښبلو؟
۱۹ خپله بدي به سزا درکړي درته


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او زما نه مخ اړول به کړي محکوم تاسو

تاسو به پوه شئ چې څومره بده او دردوونکې ده دا

چې پرېږدئ ما خپل څښتن خدای

او نور به زما نه تاسو نه وېرېږئ

داسې وېلي دي ما مطلق قادر څښتن

# اسراییل څښتن ته د عبادت کولو څخه انکار کوي

٢٠ نو څښتن تعالی داسې وايي:

ای اسراییلو، د ډېر پخوا نه مې مات کړی

ستاسو جغ د غلامۍ

او ما خلاصې کړلې زولنې د اسیرتوب ستاسو


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

تاسو وکړ انکار چې اطاعت او خدمت مې وکړئ

په هرې لوړې غونډۍ او هرې لویې ونې لاندې

نورو خدایانو ته په عبادت کولو تاسو وکړه زناکاري

٢١ سره له دې چې ته مې وکرلې د غوره تاک په شان

د ډېر ښه تخم ثخه

خو ګوره له تا نه ثه جوړ شول

یو خراب او ځنګلي تاک

٢٢ که ته خپل ځان ووینځې په ښه صابون باندې هم

خو زه به بیاهم وینم ستا د ګناه داغونه

٢٣ څنګه کولای شې ووایې


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې دې خپل ځان ناولی کړی نه دی

او نه دې کړی دی هېڅکله عبادت د بعل؟

ګوره، څنګه دې وکړه ګناه هغې دره کې

وګوره څه دې وکړل

ته یې په شان د هغې مستې اوښې

چې اخوا دې خوا ګرځي د نر اوښ پسې

۲۴ ته یې هغې وحشي خرې په شان چې وي په دښته کې روانه

چې شوق یې راشي، نو مخه یې نیولی شي څوک؟

لازمه نه ده چې نر سترې کړي خپل ځان ورپسې

ځکه حاضره همېشه ده هغه


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د مستۍ په وخت کې يوځای کېدو دپاره

۲۵ ای اسراييله، نو مه وهه دومره منډې

چې دې خپلې وشکيږي

مه وچوه خپل ستونی

خو ته داسې وايې: نه! راګرځېدلی بېرته نه شمه زه

ما کړې مينه پردو خدايانو سره

او په هغو پسې روان به يمه

## اسراييل د سزا ليدلو لايق دي

۲۶ څښتن وايي: «لکه څنګه چې يو غل ونيول شي او رسوا
شي، نو همداسې به تاسو ټول اسراييليان، ستاسو پاچاهان، ستاسو
مشران، ستاسو کاهنان او پيغمبران هم وشرمېږئ. ۲۷ تاسو چې وايئ


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

يوه ونه ستاسو پلار دی او يو ګټ ستاسو مور ده، نو تاسو ټول به
وشرمېږئ. داسې به وشي، ځکه د دې په ځای چې ما ته رجوع
وکړئ، تاسو زما نه مخ اړولی دی. خو کله چې تاسو د کوم تکليف
سره مخ شئ، نو بيا زما نه غواړئ چې راشم او تاسو وژغورم. ۲۸
هغه خدايان چې خپلو ځانونو دپاره مو جوړ کړي دي، هغه چېرته
دي؟ کله چې تاسو په تکليف کې يئ، نو که هغوی کولای شي تاسو
دې وژغوري! ای يهودا، ته چې څومره ښارونه لرې، نو هغومره
خدايان هم لرې.»

۲۹ څښتن داسې وايي: «تاسو څه شکايت لرئ؟ تاسو زما په
وړاندې ولې سرکښي وکړه؟ ۳۰ ما تاسو ته سزا درکړله، خو هېڅ ګټه
يې ونه کړه، زه مو پرېښبودم چې تاسو اصلاح کړم. تاسو د يو
داړونکي زمري په شان خپل پيغمبران ووژل.

۳۱ ای د اسراييلو خلکو، زه څښتن چې درته څه وايم هغو ته
غوږ ونيسئ. ايا زه ستاسو دپاره د يوې دښتې په شان او يا د يوه
تياره او خطرناک وطن په شان وم؟ نو بيا ولې وايئ چې هغه کارونه
به کوئ چې زړونه مو غواړي او هېڅکله به زما خواته بېرته نه


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

راګرځئ؟ ۳۲ ایا یوه پېغله خپلې ګاڼې هېروي او یا یوه ناوې خپل د واده کالي هېروي؟ خو دومره ډېرې ورځې چې نه شمېرل کېږي، زه خپلو خلکو هېر کړی یم. ۳۳ ته بې له شکه په دې پوهېږې چې څنګه د خپلو معشوقو پسې وګرځې. حتی ډېرې خرابې ښځې هم کولای شي چې ستا نه دا چل زده کړي. ۳۴ ستا کالي د داړه مارانو په وینو نه، بلکې د غریبانو او بې‌ګناه خلکو په وینو باندې لړل شوي دي. ۳۵ خو سره له دې بیاهم ته وایې: ‹زه بې‌ګناه یم، بې له شکه چې څښتن به نور په ما باندې نه په قهرېږي.› خو زه څښتن به تا ته سزا درکړم، ځکه چې ته وایې چې تا ګناه نه ده کړې. ۳۶ تا خپل ځان د نورو قومونو خدایانو ته په ورګرځېدلو باندې شرمولې دی، نو مصر به هم لکه د آشور په شان تا وشرموي. ۳۷ ته به له شرمه تېټ سر د مصر نه وځې. په چا باندې چې ته توکل کوې، ما هغه رد کړي دي. د هغوی نه به تا ته هېڅ کومه ګټه در ونه رسېږي.»

# بې‌وفا اسراییل

۱ څښتن وایي: «که چېرې یو سړی خپلې ښځې ته طلاق


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ورکړي او هغه ورځخه لاړه شي او د بل سړي ښځه شي، نو دا سړی
نه شي کولای چې هغه بیا خپله ښځه کړي. په دې کار به ټول وطن
ناپاکه شي. خو ای اسراییله، ته ډېر عاشقان لرې او اوس غواړې
چې ما ته راوګرځې؟ ٢ د غونډیو سرونو ته وګوره، ایا هلته داسې
کوم ځای شته چې تا په کې زنا نه وي کړې؟ تا به د لارې په غاړه
د خپلو عاشقانو دپاره داسې انتظار کاوه لکه یو غل چې په کمین کې
ناست وي. تا په خپل بدلمنتوب باندې وطن ناپاکه کړی دی. ٣ نو
په دې خاطر باران ولاړ دی او د پسرلي اوربښت نشته. ته د یوې
بدلمنې په شان یې او په تا کې هېڅ شرم نشته. ٤ اوس ما ته وایې:
‹ته مې پلار یې او د وړکتوب له وخت نه راسره مینه کوې. ٥ تل
به په ما باندې په قهر نه یې او ستا غضب به تر اخره پورې په ما
باندې نه وي.› ای اسراییله، دا هغه خبرې وې چې تا وکړلې، خو
چې څومره بدي دې له لاسه کېدله هغه دې وکړه.»

## اسراییل او یهودا باید توبه وباسي

٦ په هغه وخت کې چې یوشیا پاچا ؤ، څښتن ما ته وویل: «ایا


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تا ولیدل چې اسراییل د بې‌وفا ښځې په شان څه وکړل؟ هغې زما نه مخ اړولی دی او د هرې لوړې غونډۍ او هرې سیوري لرونکې لویې ونې لاندې یې د یوې بدلمنې ښځې په شان زنا کړې ده. ۷ ما فکر کاوه چې د دې ټولو کارونو نه وروسته چې هغې وکړل، هغه به په رښتیا سره ما ته راوګرځي. خو هغه ما ته راونه ګرځېدله او د هغې بې‌وفا خور یهودا دا هر څه ولیدل. ۸ یهودا دا هم ولیدل چې ما بې‌وفا اسراییل ته طلاق ورکړ او هغه مې وشړله ځکه چې هغه بدلمنه شوه، خو ما ولیدل چې د اسراییل بې‌وفا خور یهودا ونه وېرېدله. هغه هم بدلمنه شوه ۹ او هېڅ ونه شرمېدله. هغه وطن یې ناپاک کړ او تیږو او ونو ته په عبادت کولو سره یې زنا وکړه. ۱۰ خو سره له دې ټولو خبرو، د اسراییل بې‌وفا خور یهودا خپل ځان داسې ښوده چې ګوندې هغه ما ته بېرته راګرځي، خو هغه رښتینې نه وه. ما څښتن داسې ویلي دي.»

۱۱ بیا څښتن ما ته وویل: «اسراییل زما نه مخ اړولی دی، خو بیاهم هغې دا ثابته کړه چې د بې‌وفا یهودا نه ډېره ښه ده. ۱۲ اوس شمال خواته پیغام ورسوه: ‹ای بې‌وفا اسراییله، بېرته ما ته راوګرځه.


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

زه رحم کوونکی یم او تر پایه پورې به په تا باندې نه په قهرېږم، زه څښتن داسې وایم. ۱۳ یوازې دا اقرار وکړه چې ګناهکاره یې او د خپل څښتن خدای په وړاندې دې سرکښي کړې ده. اقرار وکړه چې د هرې سیورې لرونکې لویې ونې لاندې دې پردیو خدایانو سره مینه کړې ده او زما اطاعت دې نه دی کړی.› ما څښتن داسې ویلي دي.

۱۴ زه څښتن دا هم وایم: ‹ای بې‌وفا خلکو، بېرته راشئ، تاسو زما یئ. زه به د هر ښار نه ستاسو یو یو کس او د هرې طایفې نه دوه دوه کسان واخلم او بېرته به مو د صهیون غره ته راولم.

۱۵ زه څښتن به تاسو ته داسې والیان درکړم چې زما په شان فکر ولري او هغوی به لکه د یو شپون په شان د حکمت او پوهې له مخې ستاسو ساتنه کوي. ۱۶ نو کله چې ستاسو شمېر په هغه وطن کې زیات شي، خلک به نور زما د لوظ د صندوق په هکله خبرې نه کوي. هغوی به نور د هغه په هکله نه فکر کوي او نه به هغه رایادوي، حتی هغوی به ورته اړتیا هم نه لري او نه به بل صندوق جوړوي. ۱۷ کله چې هغه وخت راشي، نو اورشلیم به «د څښتن د


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

تخت» په نوم یاد شي او ټول قومونه به هلته سره راټول شي چې
زما عبادت وکړي. هغوی به نور هغه کارونه نه کوي چې د هغوی
سخت او بد زړونه يې غواړي. ۱۸ په هغه وخت کې به يهودا د
اسراييلو سره په شمال کې چې جلاوطنه دي، يوځای بېرته هغه
وطن ته راستانه شي چې ستاسو پلرونو ته مې د تلپاتې جايداد په
توګه ورکړی ؤ.›»

## د خدای له خوا د خپلو خلکو څخه د توبې غوښتنه

۱۹ ما څښتن ویلي دي:

ای اسراييله، ما غوښتل چې دې قبول کړم

د خپل ماشوم په توګه

او درته دربه کړم د خوښې ځمکه

ټوله دنيا کې ډېره ښکلې ځمکه


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

ما غوښتل ستا نه چې راته پلار ووایې

او ما نه به نه اړوې مخ هېڅکله

٢٠ خو د بې‌وفا ښځې په شان چې خپل مېړه پرېږدي

تا وفا نه ده کړې زما سره ما څښتن داسې ویلي دي.

٢١ اورېدل کیږي شورماشور د غونډۍ له سره

دا دی قوم د اسراییلو چې کړي ژړا او زاری

ځکه پرېښې ده دوی سمه لاره

او هېر کړی هغوی خپل څښتن خدای دی

٢٢ ای بې‌وفا خلکو، بېرته راوګرځئ

تاسو به روغ او وفادار کړمه


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تاسو وایئ: «هو، مونږ تا ته راروان یو، ځکه چې ته زمونږ
ښښتن خدای یې. ۲۳ مونږ چې د غونډیو په سرونو باندې د بتانو
کوم عبادت کړی دی، په یقین سره چې مونږ ته یې کومه ګټه نه ده
رسولې. اسراییلو ته یوازې زمونږ د ښښتن خدای له خوا نه ژغورنه
راځي.

۲۴ د بعل یعنې د شرم وړ خدای عبادت د دې سبب شو چې
مونږ خپلې رمې، پادې، خپل زامن او لورګانې او هغه ټول شیان چې
زمونږ نیکونو د ډېر پخوا نه د هغو دپاره زحمت ویستلی ؤ، له لاسه
ورکړو. ۲۵ مونږ باید د خپلې رسوایۍ د لاسه خپلې سترګې پورته نه
کړو او په شرمونو پټ شو. مونږ او زمونږ نیکونو تل د خپل ښښتن
خدای په وړاندې ګناه کړې ده او د هغه حکمونه مو منلي نه دي.»

## د ښښتن له خوا توبې ته د اسراییلو رابلل

۱ ښښتن داسې وایي: «ای د اسراییلو خلکو، که چېرې تاسو
غواړئ چې ببرته ما ته راوګرځئ، نو راوګرځئ او که تاسو ما ته


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

وفادار يئ، نو دا د کرکې وړ بتان زما له مخې ځخه لېرې کړئ. ۲
نو تاسو به په رښتيا، په عدالت او نېکۍ سره زما په نوم قسم
خورئ. بيا به ټول قومونه زما نه وغواړي چې هغوی ته برکت ورکړم
او هغوی به په ما وياړ وکړي.»

۳ ښښتن د يهودا او اورشليم خلکو ته وايي: «د خپلو زړونو په
سختو پټيو کې چې قلبه شوي نه دي، هغه قلبه کړئ او د اغزيو په
منځ کې تخم مه کرئ. ۴ ای د يهودا او اورشليم خلکو، خپل
ځانونه ما ته وقف کړئ، ما ته وفادار پاتې شئ او زړونه مو د هر
ډول چټليو نه پاک کړئ. که داسې ونه کړئ، نو ستاسو د بدو کارونو
په سبب به زما قهر لکه د اور په شان بل شي. هغه به بليږي او
هېڅوک به نه وي چې هغه مړ کړي.»

## په يهودا باندې د حملې خبرداری

۵ د يهودا خلکو ته ووايئ او په اورشليم کې اعلان وکړئ:

سرنی ووهئ په ټول وطن کې


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چیغې ووهئ په زوره او ووایئ

راټول شئ او وتښتئ دېوال لرونکو قوي ښارونو ته

۶ کړئ په نښه د صهیون لاره

وتښتئ د خوندیتوب په خاطر مه کوئ ځنډ

شمال له خوا نه راولي ښبنتن بلا او تباهي لویه

۷ دی راروان تباه کوونکی د قومونو

لکه زمري په شان د خپل پټ ځای نه

راروان دی هغه چې ستاسو وطن تباه کړي

شي به بدل په کنډوالو د یهودا ښارونه

او هېڅوک به نه اوسېږي په هغه ځای کې


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٨ واغوندئ کالي د ماتم وکړئ وير او ژړا

ځکه چې زمونږ نه لېرې شوی نه دی

د خښتن سخت قهر

٩ خښتن داسې ووېل: «په هغه ورځ به پاچا او درباريان خپل همت له لاسه ورکړي، کاهنان به وېرېږي او پيغمبران به حيران پاتې شي.» ١٠ بيا ما ووېل: «ای خښتن تعالی، د اورشليم خلک غولېدلي دي! ځکه چې پيغمبرانو هغوی ته ويلي وو چې هلته به سوله راشي، خو د هغوی په ستونو باندې توره ايښودل شوې ده.»

١١ هغه وخت راروان دی چې د اورشليم ګران خلک به خبر شي چې د دښتې د غونډيو له خوا په هغوی باندې يو سوځوونکی باد راروان دی. هغه به داسې نرم باد نه وي چې يوازې بوس د ځان سره يوسي، ١٢ هغه باد چې د خښتن په حکم را الوزي، هغه به ډېر قوي وي! دا په خپله خښتن دی چې په خپل قوم باندې د سزا ورکولو حکم اعلانوي.


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

# يهودا د خپلو دښمنانو له خوا کلابند کېږي

١٣ ګورئ، دښمن لکه د ورېځې په شان راروان دی. د هغوی
جنګي ګاډی د ډېر تېز توفان په شان دي او د هغوی اسونه د عقاب
نه هم ډېر تېز دي. مونږ تباه او برباد شولو! ١۴ ای اورشليمه، د خپل
زړه نه دې بدي لېرې کړه، نو ته به وژغورل شې. ترڅو پورې به د
ګناه نه ډک خيالونه په خپل ذهن کې ساتې؟ ١۵ د دان د ښار او د
افرايم د غرونو نه استازو بد خبر راوړی. ١۶ هغوی راغلي دي چې
قومونو ته خبرداری ورکړي او اورشليم ته ووايي چې د يو لېرې
وطن نه دښمنان راروان دي. هغوی به د يهودا د ښارونو په ضد
چيغې ووهي ١٧ او اورشليم به داسې کلابند کړي لکه پهرهداران چې
يو پټی ساتي، ځکه چې خلکو يې د خښتن په وړاندې سرکښي کړې
ده. خښتن داسې ويلي دي.

١٨ ای يهودا، تا د داسې ژوند کولو او هغو کارونو په سبب چې
کړي دې دي، دا هر څه دې په خپل ځان باندې راوستلي دي. ته
خپلې ګناه د دې کړاو سره مخ کړی يې او ته يې په زړه سوری کړی


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

يې.

# د خپلو خلکو دپاره د ارميا پرېشاني

۱۹ دردا! دا داسې درد دی چې زه يې زغملی نه شم

زما زړه! سخت درزيږي زما زړه

پاتې کېدای نه شمه غلی زه

ځکه چې اورمه اواز د سرنې

او د جګړې چيغې

۲۰ يو مصيبت پسې راځي بل مصيبت

ټول وطن دی بدل شوی کنډوالو باندې

ناڅاپه لاړلې زمونږ خېمې له منځه


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

او ټوټې ټوټې شولې ناڅاپه پردې د هغې

(۲۱) زه به ترڅو د جنګ بیرغ وینمه

او اوازونه د سرني به زه ترڅو اورمه؟ (۲۲) څښتن وايي:

زما قوم دی کم‌عقل

هغوی نه پېژني ما

هغوی دي لکه بې‌عقله ماشومانو په شان

نه لري عقل هغوی

بدو کارونو ته تکړه دي هغوی

خو ښو کارونو په کولو کې بې‌وسه دي دوی

## د راتلونکې تباهی په هکله د ارمیا رویا


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۳ ځمکې ته وکتل ما، هغه خالي او وه بې‌شکله

اسمان ته وکتل ما، هلته نه وه رڼا

۲۴ غرونو ته وکتل ما چې لړزېدل هغه

او ټللې راټللې ټولې غونډۍ

۲۵ ما وليدل چې هلته خلک نه وو

حتی مرغۍ وې الوتلې لېرې

۲۶ ما وليدل چې بدل شوې وې

حاصلخېزې ځمکې دښته باندې

او بدل شوي يې ښارونه کنډوالو باندې

ځکه ښښتن ؤ په قهر شوی سخت



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۷ ځښتن داسې ویلي دي چې د ټولې ځمکې نه به دښته جوړه
شي، خو هغه به په پوره توګه له منځه نه وړي.

۲۸ ځمکه به ویر کوي له دې امله

اسمان به تور شي

ما ځښتن ویلي داسې

او نه بدلومه اراده خپله

دا پرېکړه کړې ده ما

او نه به اوړم له هغې نه

۲۹ د هر ښار خلک به تښتي د اس سوارانو څخه

او غشو ویشتونکو د اوازونو څخه

ځینې تښتي به ځنګل ته


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نور به خېژي د ګټهانو منځ ته د پټېدو په خاطر

ټول ښارونه به خالي پاتې شي

او بیا به نه اوسیږي هېڅوک په کې

۳۰ ای اورشلیمه، ته تباه شوی لا پخوا یې

ولې اغوندې تک سره کالي؟

ولې د سرو زرو ګاڼې اچوې او توروې سترګې؟

هسې خپل ځان سینګاروې ته

ستا عاشقان نور نه غواړي تا

او غواړي چې ووژني تا

۳۱ داسې فریاد مې واورېد لکه چې ښځه یې کوي


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

د لنګون په وخت کې

داسې زګېروي لکه چې ښځه يې کوي

د لومړني ماشوم د زېږولو وخت کې

دا ؤ فرياد د اورشليم چې يې نفس سوځېده

د ساه ويستو دپاره

خپل لاسونه يې اوږده کړي او ويل يې داسې:

زه تباه شوی يمه

دوی راروان دي چې ووژني ما

## د ارميا او خدای تر منځ خبرې

١ خښتن وايي:



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وګرځئ ښکته پورته د اورشليم کوڅو کې

وګورئ شاوخوا ته، وګورئ په غور سره

ولټوئ ټول چوکونه تاسو

پيدا کولای شئ يو داسې کس

چې وي صادق

او کوي کوښښ چې وفادار وي خدای ته؟

که مو پيدا کړ داسې کس، نو وبه وبخښم زه اورشليم

٢ که څه هم خلک قسم خوري د ژوندي څښتن په نامه

خو په دروغو دی قسم د هغوی ٣ ارميا وويل:

ای څښتنه ته يې په لټه کې د وفادارۍ


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

تا ووهل خپل خلک، خو هغوی ونه کړه ستا پروا

تا وځپل هغوی، خو هغوی نه شول اصلاح

دي سرتنبه خلک او لاس يې وانخيست

له خپلو ګناهونو څخه

۴ بيا مې فکر وکړ، دا غريبان او جاهلان خلک دي

هغوی کوي د بې عقلۍ کارونه

دوی په دې نه پوهيږي چې خدای څه غواړي

څښتن ترې څه غواړي چې څه وکړي دوی

۵ زه به ورشم قدرتمند خلکو ته

او د هغوی سره به وکړمه خبرې


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

په رښتیا هغوی پوهیږي

چې خدای څه غواړي له دوی نه

خښتن ترې څه غواړي چې څه وکړي دوی

خو مات کړی دی هغوی د خښتن د اطاعت جغ

او انکار یې کړی د هغه د خدمت نه

۶ په دې سبب به د ځنګل زمریان هغوی ووژني

لېوان د دښتې به هغوی وداړي

او پړانګ به پراته وي پړانګان د دوی د ښارو دباندې

که راووځي دباندې هغه خلک

دوی به یې ټوټې ټوټې کړي


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په دې خاطر چې ګناهونه دي بې‌شمېره د دوی

او ګرځېدلي دي له خدای نه هغوی په څو څو وارې

## ښبنتن به نور بخښنه نه کوي

۷ زه ولې وبخښمه ګناهونه ستاسو؟

تاسو پرېښی یم زه

او تاسو خوړلی دی قسم هغو بتانو باندې چې نه دي خدایان

ما ورکړي دي خپل قوم ته خواړه ترڅو ماړه شي هغوی

خو هغوی وکړه زنا

او تېر کړی یې خپل وخت فاحشه‌خانو کې


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٨ هغوی وو هغو اسونو په شان چې ښه ماړه او مست وي

او شنهېده به له مستۍ نه هر یو خپل ګاونډي د ښځې
پسې

٩ ایا ورنه کړمه سزا هغوی ته

د دې کارونو په خاطر؟

او بدل وانخلم زه د داسې قوم نه؟ زه څښتن داسې
وایم.

١٠ ای دښمنانو، لاړ شئ خراب کړئ

د هغوی د انګور باغونه

خو چې بېخي هغه تباه نه کړئ

تاسو ته وبه وایم چې لېرې یې کړئ څانګې


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځکه دا نه دي زما څانګې

١١ ځکه ما سره يې وکړ پوره خيانت

د اسراييلو او يهودا خلکو ما څښتن داسې ويلي دي.

## څښتن د اسراييلو په هکله د قضاوت اعلان کوي

١٢ د څښتن قوم د هغه نه منکر شوی او ويلي يې دي: «هغه به
هيڅ هم ونه کړي. په مونږ باندې به مصيبت رانه شي، په مونږ باندې
به جنګ او قحطي رانه شي. ١٣ د پيغمبرانو خبرې بې‌معنی دي او
هغوی ته د څښتن له خوا کوم پيغام نه راځي. نو څه چې دوی وايي،
هماغسې دې ورباندې وشي.»

١۴ مطلق قادر څښتن خدای ما ته داسې وويل: «ای ارميا، د دې
دپاره چې دوی داسې شيان وايي، نو زه به خپل کلام لکه د اور په
شان ستا په خوله کې کېږدم. خلک به د لرګيو په شان وي او دا اور
به هغوی وسوځوي.»


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۵ ای د اسراییلو خلکو، ښښتن داسې وایي:«زه به د لېرې ځای
نه یو قوم راولم، ترڅو په تاسو باندې حمله وکړي. دا یو قوي او
پخوانی قوم دی، یو داسې قوم دی چې تاسو یې په ژبه باندې نه
پوهېږئ. ۱۶ د هغوی ټول جنګیالي ډېر تکړه عسکر دي چې په
غشو باندې وژل کوي. ۱۷ هغوی به ستاسو حاصلات او خواړه
وخوري، ستاسو زامن او لورګانې به ووژني.» ستاسو رمې او پادې
به حلالې کړي او ستاسو د انګورو تاکونه او د انځرو ونې به له منځه
یوسي. هغه قوي ښارونه چې تاسوورباندې تکیه کوئ، هغه به د
هغوی د لښکرو له خوا وران شي.

۱۸ ښښتن وایي: «خو بیاهم حتی په هغو ورځو کې به خپل قوم
په پوره توګه له منځه نه وړم. ۱۹ کله چې ستا خلک پوښتنه وکړي
چې ما ولې د هغوی سره داسې کارونه وکړل، نو ای ارمیا هغوی ته
ووایه لکه څنګه چې هغوی زما نه مخ واړاوه او په خپل وطن کې
یې د پردیو خدایانو خدمت کاوه، نو تاسو به اوس په هغه ځای کې
چې ستاسو خپل وطن نه دی، د پردیو خلکو خدمت کوئ.»


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# خدای خپل قوم ته خبرداری ورکوي

٢٠ ښښتن وايي: «د يعقوب اولادې او د يهودا خلکو ته ووايئ:
٢١ ‹ای کم‌عقلو او ناپوهو خلکو، ای هغو خلکو چې سترګې لرئ،
خو څه نه شئ ليدلی او غوږونه لرئ، خو څه نه اورئ، غوږ ونيسئ.
٢٢ زه ښښتن يم، تاسو ولې زما څخه نه ويرېږئ؟ ولې زما په
مخکې له ويرې څخه نه رپېږئ؟ ما د شګو نه د بحيرې دپاره سرحد
جوړ کړی دی، يو داسې تلپاتې سرحد چې اوبه ورڅخه تېرېدلی نه
شي. که د بحيرې څپې په جوش هم راشي او په هغه باندې ولګيږي،
خو هغوی د هغه سرحد څخه اووښتلی نه شي او نه ورڅخه تېرېدلی
شي. ٢٣ خو ای خلکو، تاسو سرتمبه او سرکښه خلک يئ. تاسو زما
نه مخ اړولی او زه مو پرېښی يم. ٢٤ که څه هم زه په تاسو باندې په
مني او پسرلي کې بارانونه اوروم او هر کال درته د حاصلاتو د لو
کولو فصل درکوم، خو تاسو هېڅکله هم دا فکر نه دی کړی چې ما
ته درناوی وکړئ. ٢٥ د هغې په ځای، ستاسو ګناهونو تاسو د دې
ښو شيانو څخه بې‌برخې کړي يئ.


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۶ بدکاران زما د قوم په منځ کې اوسيږي. هغوی د هغو خلکو
په شان چې جالونه يې غوړولي دي چې مرغۍ په کې ونيسي او په
انتظار کې ناست دي، خو هغوی خلک په دام کې نيسي. ۲۷ لکه
څنګه چې ښکاري خپل قفس د مرغيو څخه ډکوي، هماغه شان
هغوی خپل کورونه په ټګۍ سره د غنيمت په مالونو باندې ډک کړي
دي. نو له دې امله هغوی قدرتمند او شتمن دي. ۲۸ نو ځکه هغوی
غټ او چاغ دي. د هغوی د بدو عملونو دپاره کوم حد نشته. هغوی
يتيمانو ته خپل حقونه نه ورکوي او د مظلومانو سره انصاف نه
کوي.›»

۲۹ زه څښتن داسې وايم: «خو زه به هغوی ته د دې کارونو په
خاطر سزا ورکړم او زه به د دې قوم نه بدل اخلم. ۳۰ په دې وطن
کې يوه هيبتناکه او لړزوونکې پېښه رامنځته شوې ده. ۳۱ پيغمبران د
دروغو پېشګويي کوي، د کاهنانو چې څنګه خوښه وي هماغسې امر
چلوي او زما قوم همداسې کارونه خوښوي. خو کله چې دا هر څه
پای ته ورسيږي، نو هغوی به څه کوي؟»


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# اورشلیم د دښمنانو له خوا کلابند کیږي

۱ ای د بنیامین خلکو، وتښتئ! د اورشلیم نه ووځئ او یو
خوندي ځای ته لاړ شئ! د تقوع په ښار کې سرنی ووهئ او په
بیت‌هکاریم کې د نښې په توګه اور بل کړئ. ځکه چې د شمال له
خوا یو لوی مصیبت او لویه تباهي راروانه ده. ۲ د اورشلیم ښار
ښکلی دی، خو هغه به وران شي. ۳ لکه شنګه چې شپانه د خپلو
رمو سره وي، همداسې به پاچاهان د خپلو لښکرو سره راشي. هغوی
به د ښار شاوخوا ته خېمې ودروي. هغوی هر یو به په هرځای کې
چې غواړي، ورانی وکړي. ۴ هغوی به وایي: «په اورشلیم باندې د
حملې دپاره تیار شئ! مونږ به د غرمې په وخت کې حمله وکړو! خو
وروسته به وایي، اوس ډېر ناوخته دی، ورځ تېره شوې ده او د
ماښام تیاره راخپرېږي. ۵ مونږ به د شپې له خوا حمله وکړو او د
ښار کلاګانې به ورانې کړو.»

۶ مطلق قادر څښتن داسې وایي: «ونې ووهئ او د اورشلیم د
دېوال ترخنګ یوه لویه د خاورو ډېرۍ جوړه کړئ، ترڅو وکولای


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شئ هلته ورسېږئ او اورشلیم کلابند کړئ. دې ښار ته باید سزا
ورکړل شي، ځکه چې په هغه کې ظلم ډېر زیات شوی دی. ۷ لکه
څنګه چې یوه څاه خپلې اوبه تازه ساتي، نو همداسې اورشلیم خپله
بدي تازه ساتي. زه د ښار په منځ کې د ظلم او تباهۍ اوازونه اورم.
زه تل ناروغۍ او زخمونه وینم. ۸ ای د اورشلیم خلکو، پرېږدئ
چې دغه تکلیفونه ستاسو دپاره یو خبرداری وي. که نه، نو زه به
تاسو نه مخ واړوم او ستاسو ښار به په دښته باندې بدل کړم، په
داسې یو ځای چې هېڅوک به په کې نه اوسېږي.»

## سرکښه اسراییل

۹ مطلق قادر څښتن داسې وايي: «اسراییل به داسې لوخ او لغړ
شي لکه څنګه چې د انګورو د باغ نه انګور راټول شوي وي. نو د
اسراییلو نه چې څوک پاتې شوي دي، ته هڅه وکړه چې هغوی
وژغورې.» ۱۰ ما ځواب ورکړ: «که چېرې د هغوی سره خبرې
وکړم او هغوی ته خبرداری ورکړم، نو څوک به زما خبرو ته غوږ
ونیسي؟ دا سرتمبه خلک دي او ستا پیغام ته غوږ نه نیسي. هغوی ته


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې ستا خبرې وکړم، نو د هغوی نه خوښېږي او ستا په کلام باندې ملنډې وهي. (۱۱) ای ښښتنه، لکه څنګه چې ته په هغوی باندې په قهر يې، داسې زه هم ورباندې په قهر يم او نور صبر نه شم کولای.»

بيا ښښتن داسې وويل: «زما قهر په کوڅو کې ماشومانو او هغو ځوانانو ته چې سره راټول شوي دي، وښايه. ښځې او مېړونه به هم په دې کې شامل وي او حتی ډېر زاړه خلک به هم پاتې نه شي. (۱۲) د هغوی کورونه به نورو خلکو ته ورکړل شي او همدارنګه د هغوی ځمکې او ښځې به هم نورو ته ورکړل شي. زه غواړم چې د دې وطن اوسېدونکو ته سزا ورکړم. (۱۳) هر يو، که هغه لوی دی او که وړوکی، ټول کوښښ کوي چې په بې‌ايمانۍ سره پيسې وګټي. حتی پيغمبران او کاهنان هم خلک غولوي. (۱۴) هغوی زما د قوم د زخمونو علاج په جدي توګه نه کوي. هغوی وايي: ‹سوله، سوله،› په داسې حال کې چې هېڅ سوله او ارامي نشته. (۱۵) ايا هغوی په دې د کرکې وړ کارونو باندې شرمېدل؟ نه، هغوی بيخي نه شرمېدل. هغوی حتی په دې هم نه پوهېږي چې شرم څه شی دی. نو دوی به له منځه لاړ شي لکه څنګه چې نور له منځه لاړل. کله چې هغوی ته


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

سزا ورکړم، نو دا به د هغوی پای وي. دا ما ښښتن ویلي دي.»

## اسراییل د خدای لاره نه مني

۱۶ ښښتن خپل قوم ته داسې وایي: «په څلور لارو کې ودرېږئ،
وګورئ او د پخوانیو لارو پوښتنه وکړئ چې ښه لاره کومه یوه ده او
په هماغې لارې باندې لاړ شئ، نو تاسو به په ارامۍ کې ژوند
تېروئ. خو هغوی وویل: ‹نه، مونږ به په دې لاره لاړ نه شو!› ۱۷ بیا
ښښتن پهره‌داران وټاکل چې د سرني د خبردارۍ اواز ته غوږ
ونیسي. خو هغوی وویل: ‹مونږ به ورته غوږ ونه نیسو.›»

۱۸ نو ښښتن وویل: «ای قومونو، غوږ ونیسئ او شاهدان اوسئ،
د دې نه ځان خبر کړئ چې زما په قوم باندې به څه کېږي. ۱۹ ای
ځمکې واوره، زه به په دې خلکو باندې مصیبت راولم، ځکه چې دا
د هغوی د خپلو ټولو دسیسو سزا ده. ځکه چې هغوی زما تعلیم نه
دی منلی او زما خبرو ته یې غوږ نه دی نیولی. ۲۰ زه د هغې قیمتي
خوشبویۍ چې د شیبا له سیمې څخه یې ما ته راوړي او د هغو


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

عطرونو چې د لېرې وطن څخه يې راوړي، څه پروا لرم؟ زه به د هغوی سوځېدونکې قربانۍ قبولې نه کړم او نه به د هغوی په قربانيو باندې خوشحاله شم.» ۲۱ نو څښتن داسې وايي: «زه به دې خلکو ته په لاره کې تيږې کېږدم چې د هغوی پښې ورسره ولګيږي او راوغورځيږي. ميندې او پلرونه، ماشومان، ملګري او ګاونډيان به ټول سره مړه شي.»

## د شمال له خوا حمله

۲۲ څښتن داسې وايي: «وګورئ، خلک په شمال کې د يو هېواد نه راروان دي، د يو لېرې هېواد نه يو قوي قوم د جنګ دپاره تياري نيسي. ۲۳ هغوی خپلې ليندې او تورې راخيستې دي، هغوی ظالمان او بې‌رحمه خلک دي. هغوی چې په خپلو اسونو باندې راروان وي، نو د هغې بحيرې په شان به وي چې غړمبيږي. ای د اورشليم ښاره، هغوی ستا په وړاندې په يووالي سره د جنګ دپاره تيار دي.»

۲۴ د اورشليم خلک وايي: «مونږ خبر شوي يو او د وېرې نه مو


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

لاسونه سست شول، په مونږ باندې داسې درد راغی لکه په ښځه
باندې چې د لنګون په وخت کې راځي. ۲۵ مونږ دا جرات نه شو
کولای چې د ښار نه دباندې ووځو یا په لارو کې وګرځو، ځکه چې
زمونږ دښمنان په تورو باندې سمبال دي او له هرې خوا نه په مونږ
باندې ویره راغلې ده.»

۲۶ خښتن خپل قوم ته وویل: «د ویر کالي واغوندئ او په ایرو
کې ورغړ ېږئ. ویر وکړئ او اوښکې توی کړئ لکه څنګه چې څوک
یې په خپل یوازېني زوی باندې کوي، ځکه څوک چې ستاسو د تباه
کولو دپاره راځي، هغه به ناڅاپه حمله کوي.

۲۷ ای ارمیا، زما قوم داسې وازمایه لکه څوک چې فلز ازمایې او
دا معلومه کړه چې د هغوی چلند او عمل څنګه دی. ۲۸ هغوی ټول
سرتمبه او سرکښه خلک دي او زړونه یې د برنجو او اوسپنې په
شان کلک دي. هغوی ټول فاسد دي، هرې خواته ګرځي راګرځي او
بدې اوازې خپروي. ۲۹ زما قوم د ناپاکه فلز په شان دی او که څه
هم داش په اور باندې زیات سور کیږي، خو که تاسو کوښښ وکړئ
چې هغه تصفیه کړئ، نو بېکاره فلز نه پاکیږي او پاکول یې بې ګټې


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دي. زما قوم هم همداسې دی او بد خلک د هغوی له منځ څخه نه
لېرې کېږي. ۳۰ هغوی د رد شوي سپينو زرو په نوم ياديږي، ځکه
چې ما څښتن هغوی رد کړي دي.»

## ارميا د څښتن په کور کې وعظ کوي

۱ څښتن ارميا ته وويل: ۲ «زما د کور په دروازه کې ودرېږه
او زما پيغام خلکو ته اعلان کړه: ‹ای د يهودا خلکو، ای هغه خلکو
چې د څښتن کورته د عبادت دپاره دننه کېږئ، ۳ د مطلق قادر
څښتن يعنې د اسراييلو د خدای کلام ته غوږ ونيسئ چې داسې وايي
چې خپل چلند او عملونه اصلاح کړئ، نو بيا به زه تاسو پرېږدم چې
په دې وطن کې واوسېږئ. ۴ په دې غولوونکو خبرو باندې باور مه
کوئ او مه وايئ چې مونږ په امن کې يو! دا د څښتن کور دی، دا د
څښتن کور دی، دا د څښتن کور دی!

۵ خپل چلند او عملونه اصلاح کړئ. يو د بله سره د انصاف له
مخې چال چلند وکړئ. ۶ په پرديو خلکو، يتيمانو او کونډو باندې


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

ظلم مه کوئ. په دې وطن کې د بې‌ګناه خلکو وژل بس کړئ. د
نورو خدايانو عبادت کول پرېږدئ، ځکه چې دا کار به تاسو ته
تاوان ورسوي. ۷ که چېرې تاسو په رښتيا سره دا بد کارونه بس
کړئ، نو زه به تاسو پرېږدم چې دلته په دې وطن کې چې ستاسو
نيکونو ته مې د تلپاتې ملکيت په توګه ورکړې دی، واوسېږئ.

۸ خو ګورئ، تاسو په غولوونکو خبرو باندې يقين کوئ. ۹
تاسو غلا کوئ، قتل کوئ، زنا کوئ، په دروغو قسم خورئ، بعل ته
قربانۍ وړاندې کوئ او د هغو خدايانو عبادت کوئ چې مخکې مو
نه پېژندل. ۱۰ تاسو داسې کارونه کوئ چې زه ورڅخه کرکه کوم او
بيا راځئ او زما په خپل کور کې زما په حضور کې ودرېږئ او وايئ
چې مونږ په امن کې يو! ۱۱ ايا تاسو فکر کوئ چې زما کور د غلو د
پټېدلو ځای دی؟ تاسو چې څه کوئ، هغه ما ليدلي دي.

۱۲ د شيلوه ښار ته لاړ شئ، هغه لومړي ځای ته چې ما غوره
کړی ؤ چې زما عبادت به په کېږي او وګورئ چې ما د خپل قوم
اسراييلو د ګناهونو له امله د هغه سره څه وکړل. ۱۳ زه څښتن داسې
وايم چې تاسو دا ټول ګناهونه کړي دي او سره له دې چې څو څو


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځلې مې درسره خبرې وکړلې، خو تاسو ورته غوږ نه نیوه. کله به
چې ما دربانديې غږ کاوه، نو تاسو به ځواب نه راکاوه. ۱۴ نو ما چې
کوم کار د شیلوه د ښار سره کړی ؤ، هماغه کار به زه د خپل کور
یعنې عبادتځای سره چې ستاسو نیکونو او تاسو ته مې درکړی دی
او تاسو وربانديې باور لرئ، هم وکړم. ۱۵ زه به تاسو د خپل حضور
نه داسې وشړم لکه څنګه چې مې ستاسو اسراییلي ورونه شړلي
وو.›»

## د قوم نافرماني

۱۶ څښتن وویل: «ای ارمیا، د دې خلکو دپاره دعا مه کوه. د
هغوی په خاطر ژړا او دعا مه کوه، ما ته زاری مه کوه، ځکه چې زه
درته غوږ نه نیسم. ۱۷ ایا ته نه وینې چې هغوی د یهودا په ښارونو
او د اورشلیم په کوڅو کې څه کوي؟ ۱۸ ماشومان لرګي راټولوي،
پلرونه یې اور بلوي او ښځې اوړه اغږي چې د اسماني ملکې دپاره
ډوډۍ پخې کړي. همدارنګه هغوی نورو خدایانو ته د څښبلو نذرانې
وړاندې کوي، د دې دپاره چې زما قهر راوپاروي. ۱۹ څښتن داسې


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وايي چې ايا هغوی په رښتيا سره ما ته زيان رارسوي؟ نه، هغوی
خپلو ځانونو ته زيان رسوي او خپل ځانونه شرموي. ۲۰ نو زه
څښتن تعالی داسې وايم چې زه به خپل قهر او غضب په دې کور
باندې نازل کړم. زه به خپل قهر په خلکو او حيواناتو او حتی په ونو
او فصلونو باندې هم نازل کړم. زما قهر به د هغه اور په شان وي
چې هېڅوک يې نه شي مړ کولای.

۲۱ مطلق قادر څښتن، د اسراييلو خدای داسې وايي: ‹ای زما
خلکو، تاسو ځينې قربانۍ په مکمله توګه د قربانۍ په ځای باندې
سوځوئ او د ځينو څخه يوڅه خورئ. خو هغه څه چې زه څښتن
يې وايم، هغه دا دي چې کولای شئ چې هغه ټوله وخورئ، ځکه
چې دا قربانۍ نور زما دپاره د منلو وړ نه دي. ۲۲ کله چې ما ستاسو
نيکونه د مصر څخه راوويستل، نو هغوی ته مې د سوځېدونکو
قربانيو او يا نورو قربانيو په هکله هېڅ حکم نه ؤ ورکړی. ۲۳ خو
هغوی ته مې دا حکم کړی ؤ چې زما اطاعت وکړئ، ترڅو زه
ستاسو خدای اوسم او تاسو زما قوم اوسئ. لکه څنګه چې مې درته
حکم کړی دی هماغه شان ژوند تېروئ، ترڅو ستاسو هر کار سم


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

روان وي. ۲۴ خو هغوی زما اطاعت ونه کړ او نه يې زما خبرو ته
غوږ نيوه. د هغې په ځای، هغوی هغه کار کاوه چې د هغوی
سرسخته او خرابو زړونو ورته ويل او د دې په ځای چې هغوی ښه
شي، نور هم بد شول. ۲۵ له هغې ورځې نه چې ستاسو نيکونه د
مصر نه راووتل بيا تر نن ورځې پورې زه په دوامداره توګه تاسو ته
خپل خدمتګاران يعنې پيغمبران درلېږم. ۲۶ خو بياهم تاسو ما ته نه
غوږ ونيوه او نه مو راته پام وکړ. د هغې په ځای، تاسو د خپلو
نيکونو نه هم زيات سرکښه شولئ او بد کارونه مو وکړل.

۲۷ نو ای ارميا، ته به دا ټولې خبرې زما قوم ته وکړې، خو
هغوی به تا ته غوږ ونه نيسي، ته به هغوی ته غږ کوې، خو هغوی به
ځواب نه درکوي. ۲۸ ته به هغوی ته وايې چې د هغوی قوم زما
يعنې د خپل څښتن خدای اطاعت نه کوي او د خپلې سزا نه عبرت
نه اخلي. وفاداري له منځه تللې او نور څوک د هغې په هکله خبرې
هم نه کوي.›»

۲۹ ای د اورشليم خلکو


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وخریږ خپل ویښتان او لېرې یې وغورځوئ

ترڅو دا وښایئ چې ویر کوئ

وایئ د غم سندرې د غونډیو په سرونو باندې

ځکه په قهر یمه زه ښښتن

او ما پرېښی خپل قوم

## د هنوم په دره کې د ګناه نه ډک کارونه

۳۰ ښښتن داسې وايي: «د یهودا خلکو زما په وړاندې بد کارونه
کړي دي. هغوی خپل بتان چې زه ورڅخه کرکه کوم، زما په کور کې
ایښي دي او هغه ځای یې ناپاکه کړی دی. ۳۱ هغوی د بن‌هنوم په
دره کې د قربانۍ ځایونه جوړ کړي دي چې د توفت په نوم یادیږي،
ترڅو هغوی وکولای شي چې هلته خپل زامن او لورګانې په اور کې
قرباني کړي. ما هغوی ته داسې حکم نه دی کړی چې دا کار وکړي،


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

حتی داسې د کرکې وړ عمل زما په ذهن کې هم نه دی ګرځېدلی.
٣٢ نو یو داسې وخت راروان دی چې نور به هغه ځای د توفت یا د بن‌هنوم د درې په نوم نه یادیږي، بلکې د قتل او قتال د درې په نوم به یادیږي. هغوی به خپل خلک هلته ښخوي، ځکه چې بل داسې ځای به نه وي چې هغوی په کې ښخ کړي. ٣٣ د هغوی مړي به د مرغانو او ځنګلي حیواناتو خوراک شي او هلته به هېڅوک نه وي چې هغه مرغان او حیوانات وشړي. ٣۴ د یهودا په ښارونو او د اورشلیم په کوڅو کې به نور د خوښۍ او خوشحالۍ اوازونه او د واده په مېلو کې د ناوې او زوم د خوشحالۍ اوازونه نه وي. ځکه چې زه به دا هر څه ختم کړم او د دې وطن نه به دښته جوړه شي.»

١ څښتن داسې وايي: «په هغه وخت کې به دښمنان د پاچاهانو او د یهودا د منصبدارانو هډوکي او همدارنګه د کاهنانو، پیغمبرانو او نورو خلکو هډوکي چې په اورشلیم کې اوسېدل، د قبرونو نه راوباسي. ٢ د هغوی هډوکي به د راټولولو او ښخولو په ځای په ځمکه باندې د خوشایو په شان پراته وي. هغوی به لمر، سپوږمۍ او ستورو ته چې مینه یې ورسره کوله، خدمت یې کاوه، مشورې یې


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ورځخه اخيستلې او عبادت يې کاوه، پراته وي. ۳ د دې بدعمله قوم نه چې کوم خلک ژوندي پاتې شي، هغوی به په هغو ځايونو کې چې خواره واره کړي مې دي، اوسيږي. هغوی به د ژوند نه په مرګ خوشحاله وي.» ما مطلق قادر څښتن داسې ويلي دي.

## ګناه او سزا

۴ څښتن ما ته وويل چې هغوی ته داسې ووايم: «کله چې څوک راوغورځيږي، نو هغه بېرته نه راپاڅيږي؟ که څوک لاره غلطه کړي، نو هغه بېرته نه راګرځي؟ ۵ ای زما قومه، نو بيا ولې زما نه مخ اړوئ او هېڅکله بېرته نه راګرځئ؟ تاسو خپلو بتانو پورې نښتي يئ او ما ته نه راګرځئ. ۶ ما په غور سره غوږ ونيوه، خو تاسو رښتيا ونه ويل. ستاسو نه يو تن هم د خپلو بدو نه پښېمانه نه شو. ستاسو نه هېچا هم د خپل ځان څخه دا پوښتنه ونه کړله چې ما کومه غلطي کړې ده؟ لکه څنګه چې اس د جنګ ميدان ته منډې وهي، داسې هر يو په خپله لاره روان دی. ۷ حتی لګ لګان هم په دې پوهيږي چې کله بېرته راستانه شي. کوترې، توتکۍ او زانې هم


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پوهېږي چې کله بل ځای ته لاړ شي. خو ای زما قومه، تاسو زما د قوانینو څخه خبر نه یئ.

۸ تاسو څنګه کولای شئ وواېئ چې هوښیار یئ او زما په قوانینو باندې پوهېږئ؟ ګورئ، د شریعت بې‌ایمانه عالمانو دا قوانین غلط تعبیر کړي دي. ۹ ستاسو هوښیار خلک به د شرم سره مخ شي، هغوی به وارخطا شي او ګېر به شي. هغوی زما کلام قبول نه کړ، نو د هغوی هوښیاري چېرته ده؟ ۱۰ نو زه به د هغوی ځمکې نویو خاوندانو ته ورکړم او د هغوی ښځې به نورو خلکو ته ورکړم. هر یو که هغه لوی دی او که وړوکی، ټول کوښښ کوي چې په بې‌ایمانۍ سره پیسې وګټي. حتی پیغمبران او کاهنان هم خلک غولوي. ۱۱ هغوی زما د قوم د زخمونو علاج په جدي توګه نه کوي. هغوی وايي: ‹هر څه ښه دي،› په داسې حال کې چې هېڅ ښه نه دي. ۱۲ ایا هغوی په دې د کړکې وړ کارونو باندې شرمېدل؟ نه، هغوی بیخي نه شرمېدل. دوی حتی په دې هم نه پوهېږي چې شرم څه شی دی. نو دوی به له منځه لاړ شي لکه څنګه چې نور له منځه لاړل. کله چې هغوی ته سزا ورکړم، نو دا به د هغوی پای وي.» دا


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

ما خښبتن ویلي دي.

۱۳ خښبتن دا هم وايي: «زه به د هغوی ټول حاصلات داسې له منځه یوسم چې نور به نه په تاکونو کې انګور او نه به په ونو کې انځر ولیدل شي. حتی د ونو پاڼې به هم وچې شي او هر هغه څه چې ما ورکړي دي، هغه به بېرته ورڅخه واخلم.»

۱۴ د خدای قوم پوښتنه کوي: «مونږ ولې غلي ناست یو؟ راځئ چې د قوي دېوال لرونکو ښارونو ته وتښتو او هلته مړه شو. زمونږ څښتن خدای مونږ په مرګ باندې محکوم کړي یو، نو هغه مونږ ته زهرجنې اوبه راکړې دي چې ویې څښو، ځکه چې د هغه په وړاندې مو ګناه کړې ده. ۱۵ مونږ د ارامۍ او رغېدلو په تمه وو، خو هېڅ ونه شول. د هغې په ځای راباندې سخته وېره راغله. ۱۶ زمونږ دښمنان همدا اوس په شمال کې د دان په ښار کې دي، مونږ د هغوی د اسونو خرهار واورېد. کله چې د هغوی اسونه شنېږي، نو ټول وطن لړزېږي. زمونږ دښمنان راغلي دي چې زمونږ وطن او هر څه چې په کې دي، اورشلیم او د هغه خلک له منځه یوسي.»


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

١٧ څښتن داسې وايي: «زه به تاسو پسې ماران درولېږم، داسې زهرجن ماران چې جادو ورباندې اغېزه نه کوي او تاسو به وچیچي.»

## د خپل قوم دپاره د ارمیا خفګان

١٨ نشته علاج زما د خفګان

زه په زړه یمه ناروغه

١٩ واورئ! په ټول وطن کې

زه دا فریاد اورم د خپلو ګرانو خلکو

ایا څښتن نور په صهیون کې نشته؟

ایا هلته پاچا د صهیون نشته؟

څښتن یعني پاچا د هغوی په ځواب کې وایي:


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ولې په قهر مو کړمه خپلو بتانو ته په عبادت کولو؟

او پردي خدايانو ته په سجده کولو

چې بې‌ارزښته دي هغه بتان

٢٠ خلکو ووهلې چيغې

اوړی تېر شو، وخت د لو خلاص شو

خو مونږ ونه ژغورل شو

٢١ زړه مې ټوټې ټوټې شو

ځکه چې قوم مې شو ټوټې ټوټې

زه وير کومه او کمزوری شوی يمه

٢٢ ايا نه پيدا کيږي په جلعاد کې ملهم؟


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

ډاکتران نشته هلته؟

نو بیا ولې نه رغیږي زما ګران خلک؟

١ کاشکې سر زما چینه وای د اوبو

او وای مې سترګې فواره د اوښکو

چې مې ژړلی شوای شپه او ورځ

د خپلو خلکو په خاطر چې وژل شوي هغوی

٢ کاشکې لرلی مې یو ځای دښته کې

مسافرانو لره چې اوسېدلی په کې

چې لېرې تللی وای د خپلو خلکو څخه

دي هغوی ټول زناکاران او د خاینانو ډله


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٣ هغوی هر وخت دي تیار دي ته چې دروغ ووایي

په دې سیمه کې دروغ دي قوي شوي

خو له منځه تللي وفا ښښتن داسې وایي:

یوې بدۍ پسې کوي بله بدي زما خلک

او هغوی نه پېژني ما

٤ خپل ځان دې وساتي هرڅوک له خپله دوسته څخه

او څوک دې ونه کړي اعتبار په خپل ورور باندې

ځکه ټول ورونه دي چلبازان

او بدناموي هرڅوک خپل دوستان

٥ له لارې باسي هغوی ټول خپل دوستان


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

نه وايي هېڅوک رښتيا

عادت کړي يې په دروغو خپلې ژبې هغوی

او لاس اخيستلی نه شي له ګناهونو څخه

۶ کوي يو ظلم د بل ظلم پسې

يوې غولونې پسې بله کوي

هغوی نه مني دا چې زه يم خدای د دوی

۷ په دې سبب مطلق قادر څښتن داسې وايي:

زه به خپل قوم کړمه پاک د سپينو زرو په شان

او هغوی به وازمايم

بدي کړې زما قوم


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نور څه کولای شم هغوی سره زه؟

٨ د هغوی ژبې دي وژونکو غشو په شان

وايي دروغ هغوی

خپل ګاونډي سره په خوله کړي دوستانه خبرې

خو حقيقت کې يې ورته ايښی وي دام

٩ ايا هغوی ته زه ورنه کړم سزا

د دې کارو په خاطر؟

او زه بدل وانخلم د داسې قوم نه؟ زه څښتن داسې وايم.

١٠ زه به ژړا کوم د غرو دپاره

او کړم به وير د څړځايو په خاطر


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

له دې امله چې ويجاړ او وچ شوي هغه
او تک راتګ ورباندې نه کوي څوک
نور به نه اورېدل کيږي اوازونه د رمو او پادو
دي تښتېدلي حيوانات او مرغان

١١ څښتن وايي:

زه به جوړه کنډواله کړم اورشليم نه
داسې يو ځای چې به اوسيږي سورلنډيان په کې
کړم به وران او ويجاړ د يهودا ښارونه
داسې يو ځای چې هېڅوک به په کې نه اوسيږي

١٢ ما پوښتنه وکړه: «ای څښتنه، دا وطن ولې لکه د دښتې په
شان وران، ويجاړ او وچ دی چې هېڅوک په کې سفر نه کوي؟


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

څوک دومره هوښيار دی چې په دې باندې پوه شي؟ چا ته دې دا بيان کړی دی چې هغه وکولای شي نورو ته يې ووايي؟»

۱۳ څښتن ځواب راکړ: «دا هر څه د دې دپاره وشول ځکه کوم شريعت چې ما خپل قوم ته ورکړی ؤ، هغه يې پرېښی دی. هغوی نه زما اطاعت کړی او نه يې هغه څه کړي دي چې ما ورته ويلي وو.
۱۴ هغو په سرزوري سره داسې کارونه وکړل چې زړونو يې غوښتل او لکه څنګه چې خپلو نيکونو ورته زده کړي وو، هغوی د بعل د بتانو عبادت کاوه. ۱۵ نو بيا ګورئ چې زه مطلق قادر څښتن يعنې د اسراييلو خدای څه کوم. زه به دې قوم ته د خوراک دپاره ترخه بوټي او د څښلو دپاره زهرجنې اوبه ورکړم. ۱۶ زه به هغوی د داسې قومونو په منځ کې خواره واره کړم چې نه دوی او نه د دوی نيکونو هغوی پېژندل او زه به يې په وړاندې لښکرې ورولېږم چې هغوی بيخي تباه کړي.»

## په اورشليم کې ژړا او وير


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

١٧ داسې وايي مطلق قادر ښښتن:

فکر وکړئ په دې هکله چې څه به کيږي

غږ وکړئ ښځو ويرکوونکو ته چې راشي

هغه ښځو ته چې دي تکړه

مړو باندې په ژړا کولو

١٨ خلکو وويل:

هغوی ته ووايئ چې زر کوئ او وکړئ ژړا زمونږ دپاره

تر هغې چې له اوښکو نه شي ډکې زمونږ سترګې

او شي روان سېلاب د اوښکو زمونږ له سترګو څخه

١٩ اوريدل کيږي په صهيون کې د ژړا اواز


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

ښنګه مونږ شولو تباه مونږ شو بيخي رسوا

د خپل وطن نه بايد لاړ شو مونږه

په دې خاطر چې کورونه دي

وران شوي زمونږ

٢٠ ما وويل:

اى ښځو، غوږ ونيسئ چې څه وايي څښتن

او وکړئ پام د هغه خبرو ته

خپلو لوړګانو ته ورزده کړئ د وير سندره

او خپلو دوستانو ته د غم سندره

٢١ مرګ دى راغلى زمونږ د کړکيو په لار



Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

او راننوتی دی زمونږ ماښیو ته

هغه وژني ماشومان کوخو کې

او په چوکونو کې ځوانان وژني

۲۲ څښتن وویل چې خلکو ته داسې ووایم:

په هرځای کې به پراته وي مړي

لکه پرتې چې وي پټیو کې ډېرۍ د سرې

لکه چې پاتې وي ګېډۍ د غلو د لوګرو شاته

او هېڅوک به نه وي چې راټولې یې کړي

۲۳ څښتن داسې وایي:

هوښیار دې نه کوي ویاړ خپلې هوښیارۍ باندې


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او قوي دي نه کوي وياړ په خپل قوت باندې

او نه دې شتمن کوي وياړ خپلې شتمنۍ باندې

۲۴ که څوک وغواړي چې وکړي وياړ

نو دا وياړ دې وکړي چې هغه پوه وي

او پېژني ما

په دې خاطر چې زما مينه ده تلپاتې

او هغه کار کومه چې وي سم او عادلانه هغه

دا هغه څه دي چې خوشحالېږمه پرې

ما څښتن داسې ويلي دي.

۲۵-۲۶ څښتن داسې وايي: «ګورئ، هغه وخت راروان دی چې زه
به د مصر، يهودا، ادوم، عمون، موآب او په دښتو کې اوسېدونکو


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خلکو ته چې خپل ویښتان یې لنډ کړي دي، سزا ورکړم. د دې قومونو ټول خلک سنت شوي دي، خو هغوی زما لوظ چې سنت یې نښه ده، هېر کړی دی. نه د دوی څخه او نه د اسراییلو څخه چا زما په لوظ باندې عمل کړی دی.»

## د بتانو عبادت او رښتینی عبادت

۱ ای د اسراییلو قومه، هغه پیغام ته چې څښتن یې ستاسو دپاره لري، غوږ ونیسئ. ۲ هغه داسې وایي:

نورو قومونو په لار مه ځئ تاسو

کله چې وینئ په اسمان کې عجیبه شیان

نو وېره مه کوئ ترې

که څه هم ورنه وېرېږي نور قومونه

۳ دی غلط دین د دې خلکو


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دوی وهي د ځنګل ونه

په تېشه باندې يې توږي نجار

چې جوړ کړي بت ورځخه

۴ هغوی بښايسته کړي په سرو زرو

او سپين زرو هغه

او په مېخونو يې کلک کړي هغه

د دې دپاره چې راونه لوېږي

۵ داسې بتان وي هغې خېرې په شان

چې وي پټې کې د بادرنګو

کولای نه شي خبرې هغوی


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

هغه وړي نور خلک

ځکه چې خپله ګرځېدلی نه شي

هغوی نه مه وېرېږئ

تاسو ته نه شي رسولی کوم زيان

او نه کولای شي کوم ښه درسره

۶ ای ښښتنه ستا په شان نشته هېڅوک

ته لوی يې

او نوم دی لوی او زورور ستا

۷ ای د قومونو پاچا څوک دی

چې نه به کړي وېره ستا نه؟


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ته د عزت لایق یې

د قومونو په ټولو هوښیارانو

او د هغوی په پاچاهانو کې

داسې څوک نشته لکه ستا په شان

٨ هغوی ټول دي بې‌عقلان او جاهلان

هغوی څه شي زده کولای د لرګیو له بتانو؟

٩ دي پوښل شوي بتان د دوی د کسبګرو له خوا

د ترشیش په سپینو زرو باندې

او د اوفاز په سرو زرو باندې

هغوی اغوستي اسماني او بانجاني کالي دي


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې اوبدل شوي د ماهرو کارګرانو له خوا

١٠ خو ای ښښتنه، ته یې رښتینی خدای

ته یې ژوندی خدای ته ابدي پاچا یې

ته چې په قهر شې کله نو لړزیږي دنیا

ستا قهر ته قومونه تاب راوړلی نه شي

١١ ای خلکو، تاسو باید هغوی ته ووایئ چې هغو خدایانو چې
ځمکه او اسمان یې نه دی جوړ کړی، هغوی به تباه شي. هغوی به
نور د ځمکې په مخ شتون ونه لري.

## خدای ته د ثنا او صفت سندره

١٢ ښښتن جوړه کړله ځمکه خپل قدرت باندې

کړله پیدا یې دنیا په خپل حکمت باندې


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او اسمان يې خپور کړ په خپلې پوهې باندې

١٣ اوبه غړمبيږي پاس اسمان کې د هغه په حکم

راولي ورېځې هغه د دنيا له بله سره

په باران کې پړقوي هغه برېښنا

رالېږي باد هغه له خپلې ذخيرې څخه

١۴ خو بې‌عقل او بې‌علمه دي دوی

څوک چې بتان جوړوي وبه شرميږي هغوی

ځکه دي دروغ او بې‌ساه

هغه خدايان چې جوړوي يې هغوی

١۵ هغوی ارزښت نه لري، نو بايد سپک شي هغوی


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کله چې راشي د سزا وخت د هغوی

نو شي تباه به دوی

۱۶ د یعقوب خدای نه دی د دوی په شان

دي پیدا کړي ټول شیان هغه

او اسراییل یې غوره کړی چې خپل قوم یې شي

د هغه نوم دی مطلق قادر څښتن

# راتلونکې جلاوطني

۱۷ ای د اورشلیم خلکو، تاسو کلابند شوي یئ! خپل مال او
شتمني سره راټول کړئ. ۱۸ همدا اوس څښتن تاسو د دې وطن
څخه شړي. هغه به تاسو داسې وځپي، ترڅو تاسو د هغه قهر
احساس کړئ. څښتن داسې ویلي دي.


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۹ د اورشليم خلکو داسې فرياد وکړ:

خومره سخت ژوبل شولو

روغ به نه شي زخمونه زمونږ

او مونږه فکر کاوه چې مونږ به وزغمو دا

۲۰ زمونږ خېمې ورانې شوې

چې تړل شوې وې په کومو پړو هغه وشکېدل

زمونږ نه لاړل ماشومان زمونږه

داسې څوک نه دی پاتې

چې زمونږ خېمې ودروي

داسې څوک نه دي پاتې


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې کړي راځوړندې پردې د هغو

٢١ ما په ځواب کې وويل:

دي بې‌عقله مشران زمونږه

مشوره نه غواړي ښښتن نه هغوی

ځکه ناکام شول هغوی

او خواره واره شول زمونږه خلک

٢٢ غوږ ونيسئ، رارسېدلی يو خبر دی

لويه غوغا ده په يو قوم کې د شمال خواته

د هغوی لښکرې به په دښته کړي بدل د يهودا ښارونه

په داسې ځای چې به اوسيږي سورلنډيان په کې


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٢٣ زه پوهېږم ای څښتنه

قسمت د هېڅ انسان نه دی د هغه لاس کې

او هېڅوک نه لري اختيار د خپل ژوند

٢٤ ای څښتنه، ته کړه اصلاح خپل قوم

خو مونږ سره مه کوه ته ډېره سختي

چې کله يې په قهر نو سزا مه راکوه

داسې نه چې مو تباه کړې بيخي

٢٥ ته خپل قهر کړه نازل هغو قومونو باندې

چې نه پېژني تا

او په هغو خلکو چې ستا نوم نه اخلي


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځکه چې دوی ده قتل کړې د یعقوب اولاده

مونږه بیخي یو تباه کړي هغوی

او وران کړی یې وطن دی زمونږ

## د لوظ ماتول

١ څښتن ما ته وویل: ٢ «د لوظ شرطونو ته غوږ ونیسه. د اورشلیم اوسېدونکو او د یهودا نورو خلکو تهووایه ٣ چې د اسراییلو څښتن خدای وایي: ‹لعنت دې وي په هغه چا چې د دې لوظ شرطونه نه مني. ۴ دا هغه لوظ دی چې ما د اسراییلو د نیکونو سره هغه وخت کړی ؤ چې کله مې هغوی د مصر څخه چې د هغوی دپاره د سور تنور په شان ؤ، راوویستل. هغوی ته مې وویل چې زما اطاعت وکړئ او هغه کارونه به کوئ چې ما درته حکم کړی دی. اسراییلو ته مې وویل چې که چېرې هغوی زما اطاعت وکړي، نو هغوی به زما قوم او زه به یې خدای یم. ۵ نو بیا به زه هغه وعده پوره کړم چې د هغوی د نیکونو سره مې کړې وه، چې زه به هغوی


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

ته هغه غني او حاصلخېزه ځمکه چې اوس په کې اوسېږي،
ورکړم.›» ما وویل: «آمین ای څښتنه.»

۶ بیا څښتن ما ته وویل: «د یهودا ښارونو او د اورشلیم کوڅو
ته لاړ شه. زما پیغام هلته اعلان کړه او خلکو ته ووایه چې د لوظ
شرطونو ته غوږ ونیسي او په هغو باندې عمل وکړي. ۷ له هغه
وخت نه چې ما د اسراییلو نیکونه د مصر نه راوویستل، بیا تر نن
ورځې پورې مې هغوی ته څو څو ځلې سخت خبرداری ورکړ او
ورته ویلي مې دي چې زما اطاعت به کوئ. ۸ خو هغوی نه غوږ
ونیوه او نه یې اطاعت وکړ. هغوی ټول لکه د تل په شان خپلې
سرتمبګۍ او بدیو ته دوام ورکړ. ما اسراییلو ته حکم کړی ؤ چې په
دې لوظ باندې عمل وکړي، خو هغوی به انکار کاوه. نو ما هغوی ته
هغه سزاګانې ورکړې چې په دې لوظ کې بیان شوې وې.»

۹ بیا څښتن ما ته وویل: «د اورشلیم اوسېدونکي او د یهودا نور
خلک زما په ضد دسیسه جوړوي. ۱۰ هغوی یوځل بیا هغه ګناهونه
پیل کړل چې د هغوی نیکونو کول او زما خبرو ته به یې غوږ نه
نیوه. هغوی د نورو خدایانو عبادت او خدمت کړی دی. د اسراییلو


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او د یهودا خلکو هغه لوظ مات کړی دی چې د هغوی د نیکونو سره
مې کړی ؤ. ۱۱ نو زه څښتن هغوی ته خبرداری ورکوم چې داسې
بلا به وربادنې راولم چې هغوی ونه شي کولای ورڅخه وتښتي. او
کله چې هغوی ما ته د مرستې په خاطر فریاد وکړي، نو زه به ورته
غوږ نه نیسم. ۱۲ بیا به د یهودا او اورشلیم خلک هغو خدایانو ته
ورشي چې دوی ورته قربانۍ وړاندې کولې او هغوی ته به د مرستې
په خاطر فریاد وکړي. خو کله چې هغه بلا وربادنې راشي، نو هغه
خدایان به نه شي کولای چې هغوی خلاص کړي. ۱۳ د یهودا خلک
چې څومره ښارونه لري، هماغومره خدایان هم لري او د اورشلیم د
کوڅو د شمېر په اندازه یې د بعل شرموونکي بت ته د قربانیو ځایونه
جوړ کړي دي. ۱۴ ای ارمیا، د دې خلکو دپاره دعا مه کوه او مه
فریاد کوه. کله چې هغوی په تکلیف وي او زما څخه مرسته
وغواړي، نو زه به ورته غوږ ونه نیسم.»

۱۵ څښتن وایي: «د کومو خلکو سره چې زه مینه کوم، هغوی بد
کارونه کوي. هغوی څه حق لري چې زما کور ته راځي؟ ایا دوی
فکر کوي چې د حیواناتو د قربانیو په وړاندې کولو به د بلا مخه


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ونيسي؟ ايا دا کار به هغوی خوشحاله کړي؟ ۱۶ يو وخت ما هغوی
د زيتون د شنې ونې په نوم يادول چې د ښکلو مېوو نه ډکه وه، خو
اوس به يې زه د لوی توفان د غړمبار په شان هغې ته اور واچوم او
څانګې به يې وسوځول شي.

۱۷ ما مطلق قادر څښتن اسراييل او يهودا لکه د ونو په شان
وکرل، خو اوس ورباندې بلا نازلوم، ځکه چې هغوی بد وکړل او
بعل ته د قربانيو په وړاندې کولو سره يې زه په قهر کړم.»

## د ارميا د وژلو دسيسه

۱۸ څښتن زه د هغو دسيسو نه خبر کړم چې زما دښمنانو زما په
ضد جوړې کړې وې. ۱۹ زه د هغه بې‌ګناه وري په شان وم چې د
حلالولو دپاره يې روان کړی وي او زه نه پوهېدم چې هغوی زما په
ضد داسې بدې دسيسې جوړې کړې دي. هغوی ويل: «راځئ چې دا
ونه د هغې د مېوو سره راوغورځوو، ترڅو نوم يې د تل دپاره هېر
شي.»


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۰ بیا ما دعا وکړه: «ای مطلق قادر څښتنه، ته یو عادل قاضي
یې، ته د خلکو زړونه او خیالونه ازمایې. ما خپله دعوه ستا لاسونو
ته سپارلې ده، نو پرېږده ووینم چې ته د هغو خلکو نه بدل واخلې.»

۲۱ د عناتوت خلکو غوښتل چې ما ووژني او هغوی ما ته وويل
چې که چېرې د څښتن د پیغام اعلانول بس نه کړم، نو هغوی به ما
ووژني. ۲۲ نو مطلق قادر څښتن داسې وويل: «زه به هغوی ته سزا
ورکړم! د هغوی ځوانان به په جنګ کې مړه شي او ماشومان به يې
له قحطۍ او لوږې مړه شي. ۲۳ ما د عناتوت په خلکو باندې د
مصیبت راوستلو دپاره وخت ټاکلی دی او کله چې هغه وخت راشي،
نو د هغوی نه به هېڅوک هم ژوندی پاتې نه شي.»

## ارمیا د څښتن څخه پوښتنه کوي

۱ ای څښتنه، که زه وړاندې کړمه

ستا حضور ته خپله دعوه


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نو ته کوې به انصاف راسره

خو بیاهم باید پوښتنه وکړم ستا نه

د انصاف په هکله

ولې نېکمرغه دي بدکاره خلک؟

ولې کامیاب دي بې‌ایمانه خلک؟

٢ تا هغوی وکرل لکه نیالګیو په شان

او وېې نیولې ریښې

هغه شوې لویې او مېوې نیسي

دوی تل په خپله خوله ستا ښه وایي

خو حقیقت کې ستا پروا نه لري


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۳ خو ای ښښتنه، ما پېژني ته

څه چې کومه هغه ويني ته

او ازمايې زما خيالونه او فکرونه ته

لکه پسونه چې وړل کيږي قصابۍ دپاره

داسې راکش کړه هغوی

او هغوی وساته د حلالولو تر وخته پورې

۴ ترڅو به وچ وي وطن زمونږه

او په هر پټي کې به واښه مړاوي وي؟

زمونږ د قوم د بدکارۍ په سبب

هم حيوانات او هم مرغان مړه کيږي


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه قوم چې وايي څه چې کوو

نو خدای يې نهويني

## ارميا ته د څښتن ځواب

۵ څښتن وايي:

ای ارميا، چې ستړی کېږې ته

د خلکو سره د منډې لوبه کې

څنګه به ووهې ته منډې د اسونو سره؟

چې ودرېدلی نه شې ته په هواره ځمکه

نو څه به کوې ته د اردن ځنګل کې؟

۶ حتی خيانت درسره کړی ستا خپلوانو



Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

او ستا د خپلې کورنۍ غړو

دې يوځاى شوې سره چې

چيغې ووهي په تا باندې

که څه هم درسره کاندي دوستانه خبرې

خو په هغوى باندې باور مه کوه

## د خپل قوم په خاطر د څښتن خفګان

څښتن وايي:

٧ ما خپل قوم اسراييل پريښى

او لاس مې اخيستى له خپل غوره شوي قومه

د هغو خلکو سره چې کړمه مينه د زړه له کومې


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ما د هغوی دښمنانو ته په لاس کې ورکړل

٨ راپورته شوی خپل غوره کړی قوم مې

لکه ځنګل کې د زمري په شان

په مقابل کې زما هغوی غړمبيږي په ما

نو ځکه کرکه له هغو نه کوم

٩ هغې مرغۍ په شان دی زما غوره قوم

چې بازان کوي حمله وربانديې له هرې خوا نه

لاړ شئ راټول کړئ ټول ځنګلي ځناور

چې راشي وخوري د هغوی مړي

١٠ کړل خراب ډېرو پرديو حاکمانو



Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

زما د انګورو باغ

او پايمال يې کړل زما پټي

هغوی بدل کړل زما ښايسته پټي

په شاړه ځمکه باندې

(۱۱) له هغه څخه يې جوړ کړ بيابان

هغه پروت دی شاړ او زه يې اورم ژړا ګانې

دی بدل شوی ټول وطن په دښته

او هېڅوک نشته چې پرې پام وکړي

(۱۲) ډکې شوې دي تشې غونډۍ د دښتې

په هغو خلکو باندې


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

چې دي راغلي د تباه کوونکو عسکرو په شان

ما راوست جنګ چې تباه کړي ټول وطن

هېڅوک به نه وي خوندي

١٣ زما قوم وکرل غنم خو راټول يې کړل اغزي

هغوی سخت کار وکړ خو ګټه يې وانخيسته ترې

په سبب زما د سخت قهر

د فصلونو د کموالي په سبب به

وشرمېږي دوی

## د اسراييلو د ګاونډيانو سره د څښتن وعده

١٤ څښتن داسې وايي: «زه غواړم د اسراييلو د هغو ګاونډيانو په



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هکله چې هغه وطن یې وران کړی دی چې ما خپل قوم اسراییلو ته
د ملکیت په توګه ورکړی دی، یوڅه ووایم. زه به هغه بدکاره خلک
د خپلو وطنونو نه داسې وباسم لکه نیالګی چې له بېخه ویستل شوی
وي او یهودا به د هغوی نه خلاص کړم. ۱۵ خو چې کله مې دا
قومونه وویستل، نو زه به یوځل بیا په هغوی باندې رحم وکړم. زه به
هر قوم بېرته خپلې ځمکې او خپل وطن ته راولم. ۱۶ که چېرې دا
ټول قومونه د زړه له کومې زما لاره ومني او زما یعنې د ژوندي
څښتن په نوم داسې قسم وخوري لکه څنګه چې یو وخت هغوی
زما قوم ته ورزده کړي وو چې د بعل د بت په نوم قسم وخوري، نو
دوی به هم زما د قوم یوه برخه وي او نېکمرغه به وي. ۱۷ خو که
چېرې کوم قوم اطاعت ونه کړي، نو زه به هغوی بیخي وشړم او تباه
به یې کړم. ما څښتن داسې ویلي دي.»

## د کتان د لنګ مثال

۱ څښتن ما ته داسې وویل: «لاړ شه، د ځان دپاره یو د کتان
لنګ واخله او هغه د ملا نه وتړه، خو هغه په اوبو کې مه ږده.» ۲


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نو ما هغه د ښبنتن د حکم سره سم واخیست او د ملا نه مې وتاړه.
۳ بیا ښبنتن د دوهم ځل دپاره زما سره خبرې وکړې او ویې ویل:
۴ «د فرات سیند ته لاړ شه او هغه لنګ د ګټانو په یوه سوري کې
پټ کړه.» ۵ نو زه د ښبنتن د حکم سره سم لاړم او هغه مې د
فرات سیند ته نژدې پټ کړ.

۶ ډېره موده وروسته ښبنتن ما ته وویل: «بېرته د فرات سیند
ته لاړ شه او هغه لنګ راواخله.» ۷ نو زه بېرته لاړم او کله مې چې
هغه ځای پیدا کړ چې لنګ مې په کې پټ کړی ؤ، نو ما ولیدل چې
هغه خراب شوی ؤ او له کاره وتلی ؤ.

۸ ښبنتن یوځل بیا زما سره خبرې وکړې. ۹ هغه داسې وویل:
«په همدې ډول به زه د یهودا او اورشلیم د خلکو ډېر غرور له منځه
یوسم. ۱۰ دې بدکارو خلکو زما د اطاعت کولو نه انکار کړی دی.
هغوی سخت زړونه لري او د نورو خدایانو عبادت او خدمت کوي.
نو هغوی به د دې لنګ په شان شي چې نور به هېڅ د کار نه وي.
۱۱ لکه څنګه چې یو سړی د خپلې ملا نه لنګ تړي، همدا شان ما
هم غوښتل چې د اسراییلو او یهودا ټول خلک ما پورې وتړل شي.


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

دا کار مې د دې دپاره وکړ چې هغوی زما قوم اوسي او زما د نوم د
درنښت او د ثنا او صفت سبب شي، خو هغوی زما اطاعت نه کاوه.
ما څښتن داسې ويلي دي.»

## د شرابو د منګي مثال

۱۲ د اسراييلو څښتن خدای ما ته داسې وويل: «ای ارميا، د
اسراييلو خلکو ته ووايه چې د هغوی ټول منګي بايد د شرابو نه ډک
شي. هغوی به درته ځواب درکړي چې دوی خپله پوهيږي چې ټول
منګي بايد د شرابو نه ډک شي. ۱۳ نو بيا هغوی ته ووايه چې زه
څښتن به د دې وطن په ټولو اوسېدونکو باندې چې په هغو کې
پاچاهان چې د داود اولاده ده، کاهنان، پيغمبران او هغو ټولو خلکو
باندې چې په اورشليم کې اوسيږي دومره شراب وڅښم، ترڅو
هغوی نشه شي. ۱۴ بيا به زه د هغوی ميندې، پلرونه او ماشومان
داسې ټوټې ټوټې کړم لکه منګي چې د يو بل سره ولګيږي او ټوټې
ټوټې شي. زه به په هغوی باندې هيڅ ډول رحم او مهرباني ونه کړم
او د هغوی د وژلو په هکله به خپله اراده بدله نه کړم. ما څښتن


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

داسې ویلي دي.»

## د غرور په ضد د ارمیا خبرداری

۱۵ ای د اسراییلو خلکو

مه کېږئ غرور او ونیسئ غوږ هغه ته

ځکه چې ویلي دي څښتن

۱۶ درناوی وکړئ د خپل څښتن خدای

مخکې له دې چې تیاره راولي تاسو باندې

او تیندک وخورئ په غرونو باندې

مخکې له دې چې هغه رڼا چې تاسو یې هیله لرئ

کړي بدله تورو تیارو باندې


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

۱۷ که ورته ونه نیسئ غوږ

زه به پټ وژاړم ستاسو غرور په سبب

زه به سخت وژاړم او وبه بهیږي اوښکې زما

ځکه چې قوم د څښتن به اسیران بوتلل شي

۱۸ څښتن ما ته وویل: «پاچا او د هغه مور ته ووایه چې د خپلو
تختونو نه راښکته شي، ځکه چې د هغوی ښکلي تاجونه د هغوی د
سرونو نه رالوېدلي دي. ۱۹ د یهودا د جنوبي سیمې ښارونه کلابند
شوي دي، هېڅوک نه شي کولای چې ورننوځي او یا ورڅخه
ووځي. د یهودا ټول خلک به په جلاوطنۍ بوتلل شي.

۲۰ ای اورشلیمه ګوره! ستا دښمنان د شمال له خوا نه راروان
دي! هغه خلک چېرته دي چې تا ته د ښکلې رمې په شان سپارل
شوي وو چې پام ورباندې وکړې، ستا هغه قوم چې ویاړ دې
ورباندې کاوه؟ ۲۱ کله چې هغه خلک چې تا خپل ملګري ګڼل
راشي، تا فتح کړي او په تا باندې حکومت وکړي، ته به څه وایې؟


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

ته به په داسې درد اخته یې لکه یوه ښځه چې د لنګون په وخت کې وربانديې اخته وي. ۲۲ که ته د خپل ځان نه پوښتنه وکړې چې دا هر څه په تا بانديې ولې وشول، ستا کالي ولې وویستل شول او ستا سره ولې په زوره زنا وشوه؟ دا په دې خاطر دي چې تا سخته ګناه کړې ده. ۲۳ ایا یو تور پوستی کولای شي چې د خپل پوستکي رنګ بدل کړي، یا یو پړانګ خپل خالونه لیرې کولای شي؟ همدا شان ته نه شې کولای چې ښه کارونه وکړې، ځکه چې په بدو کارونو عادت شوی یې.

۲۴ زه ځښتن به تاسو داسې خواره واره کړم، لکه بوس چې د دښتې باد وړي. ۲۵ ما ځښتن داسې وویل چې دا به ستاسو قسمت وي. دا هغه څه دي چې ما یې پرېکړه کړې ده چې ستاسو سره یې وکړم، ځکه چې تاسو زه هېر کړی یم او په غلطو خدایانو مو باور کړی دی. ۲۶ زه ځښتن به په خپله ستاسو نه کالي وباسم او تاسو به وشرموم. ۲۷ ما لیدلي دي چې تاسو هغه کارونه کوئ چې زه ورڅخه کرکه کوم. ما لیدلي دي چې تاسو د هغو غلطو خدایانو پسې چې په غونډیو بانديې او په پټیو کې دي، روان وئ. لکه د یو شهواني


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

سړي په شان چې د خپل ګاونډي د ښځې پسې وي یا لکه د یو نر اس په شان چې د اسپې پسې ګرځي. ای د اورشلیم خلکو، افسوس دې وي ستاسو په حال! ترڅو پورې به تاسو ناپاکه یئ؟»

## سخته وچکالي

١ څښتن ما ته د وچکالی په هکله وویل:

٢ کوي ویر یهودا

د هغه ښارونه دي د مرګ په حال کې

خلک یې په ځمکه دي پراته له غمه

او وهي چیغې اورشلیم د کومک دپاره

٣ خپل نوکران لېږي شتمن خلک اوبو پسې

هغوی ځي ذخیرو ته د اوبو


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خو پیدا کیږي نه اوبه هغوی ته

هغوی راځي بېرته خالي منګیو سره

وي ناامیده او پرېشانه هغوی

دوی ناامیده او پرېشانه دي

۴ ځکه چې نه اوري باران هلته

او وچه ده ځمکه

دي زړه توري بزګران

دوی ناامیده او پرېشانه دي

۵ حتی هوسۍ هم په صحرا کې پرېږدي خپل نوی

پیدا شوی بچی



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځکه چې نشته وابنه هلته

٦ په سرونو د غونډیو باندې ځنګلي خره ودرېږي

او وباسي ساه د سورلنډیانو په شان

سترګې کار نه کړي د دوی

ځکه چې نشته وابنه چې ویې خوري

٧ زما خلک کوي فریاد ما ته

که څه هم شاهدي ورکوي زمونږ ګناهونه

خو ای څښتنه، مونږ سره مرسته وکړه

د خپل نوم د عزت په خاطر

په څو څو ځلې اړولی مونږ خپل مخ له تا نه


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

مونږه ګناه کړې ده ستا په وړاندې

٨ یوازېنۍ هیله د اسراییلو یې ته

زمونږ ژغورونکی یې ته

د مصیبت په وخت کې

ولې ته یې لکه پردي په شان زمونږ وطن کې

یو مسافر په شان چې شي پاتې یوې شپې دپاره؟

٩ ته ولې یې د هغه چا په شان چې وي حیران

یا هغه جنګیالي په شان چې وي بې‌وسه دومره

چې نه شي څوک ژغورلی؟

خو ای څښتنه، زمونږ په منځ کې یې ته


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مونږ ستا په نوم یادېږو، ته مونږه مه پرېږده

۱۰ څښتن د دې خلکو په هکله داسې وایي: «د هغوی دا خوښه ده چې زما نه لېرې سرګردانه وي او نه غواړي چې خپل ځانونه کنترول کړي. نو زه د هغوی نه خوشحاله نه یم. زه به د هغوی بد کارونه رایادوم او هغوی ته به د خپلو ګناهونو سزا ورکوم.»

۱۱ څښتن ما ته وویل: «د دې خلکو د خیر دپاره دعا مه کوه.
۱۲ که هغوی روژه هم ونیسي، زه به د هغوی فریاد وانه ورم او که هغوی ما ته سوځېدونکې قربانۍ او د غلو دانو نذرانې هم وړاندې کړي، نو بیا به هم د هغوی څخه خوشحاله نه شم. د دې په ځای به زه هغوی په جنګ کې، په قحطۍ او وبا باندې ووژنم.»

## جعلي پیغمبرانو ته خبرداری

۱۳ بیا ما وویل: «ای څښتن تعالی، ته پوهېږې چې پیغمبران خلکو ته وایي چې دلته به نه جنګ وي او نه لوږه، ځکه چې دوی وایي چې تا وعده کړې ده چې ستاسو وطن کې به حتمي ارامي


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وي.»

۱۴ خو ښښتن په ځواب کې وویل: «پیغمبران زما په نامه دروغ وايي، هغوی ما نه دي لېږلي، نه مې ورته کوم حکمونه ورکړي او نه مې ورسره کومه خبره کړې ده. هغوی چې د کومو رویاګانو په هکله خبرې کوي، هغه زما له خوا نه دي او د هغوی پېشګویانې ټولې خیالي او بې ګټې دي. ۱۵ زه ښښتن تاسو ته وایم چې زه به د هغو پیغمبرانو سره څه کوم چې ما نه دي لېږلي، خو زما په نوم خبرې کوي او وايي چې په دې وطن باندې به جنګ او قحطي نه راځي. زه به هغوی په جنګ کې او د لوږې له لاسه ووژنم. ۱۶ همدارنګه کومو خلکو ته چې هغوی دا خبرې کړې دي، هغوی به هم په همدې ډول په لوږې او په جنګ کې مړه شي. د هغوی مړي به د اورشلیم په کوڅو کې وغورځول شي او څوک به نه وي چې هغوی ښخ کړي. د هغوی سره به داسې چلند وشي چې په هغو کې د هغوی ښځې، د هغوی زامن او لورګانې هم شاملې وي. زه به هغوی ته د هغوی د بدکاریو سزا ورکړم.»

۱۷ ښښتن ما ته حکم وکړ چې خلکو ته د خپل خفګان په هکله


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

وواېم:

زما له سترګو دې بهېږي شپه او ورځ اوښکې

زما ژړا دې نه ودرېږي هېڅ وخت

ځکه چې سخت دی زخمي شوی زما ګران قوم

او ژوبل شوی ډېر سخت

١٨ کله چې ووځم بیرون پټیو ته

د خلکو مړي وینم چې وژل شوي جنګ کې

کله چې ښار ته لاړ شم

وینم چې خلک مري له لوږې څخه

پیغمبران او کاهنان دواړه کوي خپل کارونه


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

خو په دې نه پوهيږي چې څه کوي دوی

# ارميا د خپلو خلکو په خاطر ښبتن ته زاري کوي

19 ای ښبتنه، تا بيخي دی يهودا پريښی؟

ايا کرکه کوې ډېره ته د صهيون له خلکو؟

تا دومره سخت مونږه کړو ژوبل ولې؟

چې رغېدلی نه شو

مونږ درلودله د سولې هيله

خو هېڅ فايده يې ونه کړه

مونږ درلودله د رغېدلو هيله

خو په ځای يې راغله سخته وېره


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۰ ای ښنته مونږ اقرار کوو د بدکارئ خپلې

او خپلو نیکونو ګناهونو باندې

ستا مقابل کې مو ګناه کړې ده

۲۱ د خپل نوم د عزت په خاطر

زمونږ سپکاوی مه کوه

بې‌حرمتي د اورشلیم مه کوه

د خپل پرتمین تخت د ځای

در په یاد کړه او ماتوه مه هغه لوظ

چې تا کړی دی زمونږه سره

۲۲ د نورو قومونو بې‌ارزښته بتانو نه


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

يو هم كولاى نه شي چې ووروي باران

خپله اسمان كولاى نه شي چې اورښت وكاندي

تا ته ده زمونږه هيله اى زمونږه څښتن خدايه

ځكه ته يې هغه ذات چې كوې دا ټول كارونه

## د يهودا د خلكو بد قسمت

١ بيا څښتن ما ته وويل: «كه موسى او سموييل هم دلته ولاړ
واى او د دې خلكو دپاره يې ما ته سوال كړى واى، نو ما به په دې
خلكو باندې رحم نه واى كړى. هغوى مجبور كړه چې لاړ شي او
زما د مخې نه يې لېرې كړه. ٢ كله چې هغوى درڅخه پوښتنه
وكړي چې مونږ چېرته لاړ شو، نو ورته ووايه چې څښتن داسې
ويلي دي:

د چا قسمت كې چې وي مرګ په ناروغيو باندې


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

نو دوی به مړه شي ناروغیو باندې

د چا قسمت کې چې وي مرګ په جنګ کې

نو دوی به مړه شي جنګ کې

د چا قسمت کې چې وي مرګ د لوږې

نو شي به مړه له لوږې

چې وي قسمت کې اسارت د چا

هغوی به بوتلل شي د اسیرانو په شان

٣ ما ښتن دا پرېکړه کړې ده چې په هغوی باندې به څلور
ډوله تباهي راشي. هغوی به په جنګ کې مړه شي، د هغوی مړي به
سپي راکاږي، مرغان به یې خوري او څه چې پاتې کیږي، نو هغه به
ځنګلي حیوانات وخوري. ٤ د یهودا پاچا د حزقیا زوی منسي چې
په اورشلیم کې کوم کارونه کړي وو، نو زه به د هغه په خاطر د


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اورشليم خلکو ته د سزا په ورکولو سره د نړۍ ټول خلک ډېر
وویروم.»

۵ ښبنتن داسې وايي:

ای د اورشليم خلکو، څوک به رحم وکړي

تاسو باندې

او خفه به شي څوک تاسو باندې؟

څوک به ځان کړي په تکليف

چې پوښتنه وکړي ستاسو د حال؟

۶ تاسو خلکو زه پرېښې يمه

تاسو شا ده اړولې ما ته

نو ما اوږد کړ خپل لاس د دې دپاره


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

چې کړم نابود تاسو

نه شم کولای نور په تاسو رحم

٧ د وطن په هر يو ښار کې

غورځولي يئ ما باد ته

لکه د بوسو په شان

ما تباه کړي يئ ای قومه زما

ما دي وژلي اولادونه ستاسو

ځکه ونه ګرځېدئ له خپلو بدو لارو

٨ ستاسو وطن کې زياتې کړې کونډې ما

له هغو شګو څخه چې وي د سيند په غاړه



Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

ما ووژل ستاسو ځوانان د ځلمیتوب په وخت کې

او وکړولې ما د هغوی میندې

یوناخاپي مې په هغوی باندې

راوست درد او وېره

(۹) کومې مور چې دي ورکړي اووه بچي له لاسه

بېهوشه شوې هغه په سختۍ ساه وباسي

رڼا ورځ ده تیاره شوې په هغې باندې

ده مخ شوې هغه د رسوایۍ او د شرم سره

ستاسو نه څوک چې پاتې شوي ژوندي

هغه به ووژنم زه د دښمن په لاسو



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## ارمیا څښتن ته شکایت کوي

۱۰ زه څومره بدبخته انسان یم! زه مې ولې مور دې دنیا ته
راوړی یم؟ په دې وطن کې هرڅوک زما سره مخالف دی او شخړه
راسره کوي. نه مې چا ته پیسې په پور ورکړې او نه مې د چا نه پور
اخیستی دی، خو بیاهم هرڅوک په ما باندې لعنت وایي.

۱۱ څښتن ما ته وویل: «زه به تا د یو ښه مقصد دپاره وژغورم،
ترڅو ستا دښمنان هم د سختۍ په وخت کې ستا مرستې ته محتاج
شي. ۱۲ ستاسو دښمنان چې د شمال له خوا راځي لکه د اوسپنې او
برنجو په شان دي چې هېڅوک نه شي کولای هغه مات کړي.

۱۳ د دې په خاطر چې زه خپل قوم ته د هغوی د ګناهونو له
امله چې په ټول وطن کې یې کړي دي سزا ورکړم، نو زه به دښمنان
ورولېږم چې د هغوی مال او دولت او خزانې د غنیمت په توګه
یوسي. ۱۴ زه به هغوی دې ته مجبور کړم چې په داسې وطن کې


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې د هغه په هکله ورته هېڅ معلومات نشته د خپلو دښمنانو خدمت وکړي، ځکه زما د قهر اور بل شوی دی او د هغه لمبې به تل هغوی وسوځوي.»

۱۵ بیا ما وویل: «ای څښتنه، ته خپله پوهېږې. ما در په یاد کړه او مرسته راسره وکړه او د هغو خلکو نه چې ما ځوروي، بدل واخله. هغوی ته دومره صبر مه کوه چې زما په وژلو باندې بریالي شي. دا په یاد ساته چې همدا ستا په خاطر زما سپکاوی شوی دی. ۱۶ تا زما سره خبرې کولې او ما ستا هرې خبرې ته غوږ نیولی ؤ. زه ستا یم ای مطلق قادر څښتنه او ستا خبرو زما زړه د خوښۍ او خوشحالۍ نه ډک کړ. ۱۷ ما خپل وخت د نورو خلکو سره چې خنداګانې او ساعت تېري کوي، نه دی تېر کړی. څرنګه چې ما ستا په حکمونو باندې عمل کاوه، نو زه به یوازې پاتې وم او په هغو خلکو به په قهر وم. ۱۸ زه ولې تل کړېږم؟ زما د زخمونو علاج ولې نشته؟ هغه ولې نه رغیږي؟ ته غواړې چې ما داسې ناهیلی کړې، لکه څوک چې د یوې داسې ویالې د اوبو په هیله وي چې په اوړي کې وچیږي؟»


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

١٩ څښتن په خوب کې ورته ووېل: «که چېرې ته بېرته ما ته راوګرځې، نو زه به دې قبول کړم او ته به بیا زما خدمتګار اوسې. که چېرې د بې‌معنی خبرو په ځای زما قیمتي پیغام خپور کړې، نو ته به بیا زما پیغمبر اوسې. خلک به خپله تا ته راځي او دې ته به اړتیا نه وي چې ته هغوی ته ورشې. ٢٠ زه به د دې خلکو په وړاندې ستا نه لکه د برنجو په شان یو قوي دېوال جوړ کړم. هغوی به ستا سره جنګ کوي، خو تا ته به ماتې نه شي درکولای. زه به درسره مل یم چې ساتنه دې وکړم او تا وژغورم. ٢١ زه به تا د بدکارو او ظالمو خلکو د زور نه خلاصوم. ما څښتن داسې ویلي دي.»

## د ارمیا د ژوند دپاره د څښتن اراده

١ څښتن ما ته ووېل: ٢ «ته باید په دې ځای کې واده ونه کړې او نه باید په کې د اولادونو خاوند شې. ٣ ځکه زه څښتن د هغو ماشومانو په اړه چې په دې ځای کې نړۍ ته راځي او د هغو د میندو او پلرونو په هکله داسې وایم: ٤ ‹هغوی به د خطرناکو ناروغیو له امله مړه شي او هېڅوک به په هغوی باندې ویر ونه کړي


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او نه به یې څوک ښخ کړي. د هغوی مړي به د خوشایو په شان په ځمکه باندې پراته وي. هغوی به یا په جنګ کې ووژل شي او یا به د لوږې له لاسه مړه شي او د هغوی مړي به د مرغانو او وحشي حیواناتو خوراک شي.›»

۵ ښښتن داسې وايي: «په کوم کور کې چې ویر وي، هلته مه ورننوځه. په هېڅا باندې خفګان مه کوه او د چا سره خواخوږي مه کوه. زه نور خپلو خلکو ته برکت نه ورکوم چې ارام اوسي او نه ورسره مینه کوم او نه ورباندې رحم کوم. ۶ شتمن او غریبان به دواړه په دې وطن کې مړه شي، خو څوک به یې ښخ نه کړي او نه به ورباندې څوک ویر وکړي. نه به څوک له خفګانه خپل ځان زخمي کړي او نه به خپل سر وخرايي. ۷ هېڅوک به د تسلی ورکولو دپاره ویر کوونکي ته خوراک او څښاک ورنه کړي، حتی که د هغوی پلار او مور هم مړه شوي وي. ۸ په کوم کور کې چې مېلمستیا جوړه شوې وي، هلته مه ورننوځه او هلته د هغوی سره د خوړلو او څښلو دپاره مه کښېنه، ۹ ځکه زه مطلق قادر ښښتن، د اسراییلو خدای درته داسې وایم: ‹د دې ځای خلک به په خپل


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ژوندون کې دا ووینې چې زه به د خوشحالۍ اوازونه او د ودونو په
مېلو کې د ناوې او زوم د خوشحالۍ اوازونه بند کړم.

۱۰ کله چې ته خلکو ته دا ټول شیان ووایې، نو هغوی به
درځخه پوښتنه وکړي چې خښتن ولې دا پرېکړه کړې ده چې په
مونږ باندې دومره لوی مصیبت نازل کړي؟ مونږ کوم جرم کړی دی
او د خپل خښتن خدای په وړاندې مونږ کومه ګناه کړې ده؟› ۱۱ نو
بیا ته هغوی ته په ځواب کې ووایه چې خښتن ویلي دي: ‹ستاسو
نیکونو زه پرېښی یم او د نورو خدایانو عبادت او خدمت یې کړی
دی. هغوی زه پرېښی یم او زما په قوانینو باندې یې عمل نه دی
کړی. ۱۲ خو تاسو د خپلو نیکونو نه هم ډېر بد کارونه کړي دي.
تاسو ټول سرتمبه او بد خلک یئ او زما اطاعت نه کوئ. ۱۳ نو زه
به تاسو د دې وطن نه یو داسې وطن ته وشړم چې نه تاسو او نه
ستاسو نیکونو کله پېژانده. په هغه ځای کې به تاسو شپه او ورځ د
نورو خدایانو خدمت کوئ او په تاسو باندې به هېڅ رحم ونه کړم.›»

## د جلاوطنۍ نه راستنېدل


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۴ ښبښتن داسې وايي: «هغه وخت راروان دی چې خلک به نور
زما يعنې د هغه ژوندي ښبښتن په نوم چې د اسراييلو قوم يې له مصر
نه راوويست، قسم ونه خوري. ۱۵ د دې په ځای به هغوی د هغه
ژوندي خدای په نوم قسم وخوري چې د اسراييلو قوم يې په شمال
کې د يو وطن نه او هغو نورو هېوادنو نه راوويستل چې هغوی يې
هلته شړلي وو. هغوی به بېرته خپل وطن ته چې د هغوی نيکونو ته
مې ورکړی ؤ، راولم.»

## راتلونکې سزا

۱۶ ښبښتن داسې وايي: «زه ډېر ماهيګيران لېږم چې دا خلک لکه
د ماهيانو په شان ونيسي. بيا به زه ډېر ښکاريان راوغواړم چې
هغوی په هر غر او هرې غونډۍ باندې او په غارونو کې د ګټانو په
درزونو کې ښکار کړي. ۱۷ ځکه هغوی چې هر څه کوي، زه يې
وينم. زما څخه يو شی هم پټ نه دی او د هغوی ګناهونه زما له
نظره پټېدلی نه شي. ۱۸ خو زه به هغوی ته د خپلو ګناهونو په سبب
دوه چنده سزا ورکړم، ځکه چې هغوی زما وطن په کرغېړنو بتانو


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

باندې چې ساه په کې نشته، ناپاکه کړې دی او هغه يې د کرکې وړ
شيانو نه ډک کړی دی.»

## د ارميا دعا

١٩ ای څښتنه، ته هغه ذات يې چې زما قوت او قوي کلا يې او
د سختۍ په وخت کې زما د پناه ځای يې. د نړۍ د لېرې سيمو نه به
قومونه ستا حضور ته راځي او وايي به: «زمونږ د نيکونو سره د
غلطو خدايانو نه پرته بل هېڅ نه وو، د هغوی سره پرته له بې‌ارزښته
بتانو څخه بل هېڅ هم نه وو. ٢٠ ايا انسانان کولای شي چې د خپلو
ځانونو دپاره خدايان جوړ کړي؟ هو، خو هغه رښتيني خدايان نه
دي.»

٢١ څښتن وايي: «نو زه به اوس قومونو ته خپل قدرت او خپل
زور وښايم، بيا به هغوی په دې پوه شي چې زما نوم څښتن دی.»

## د يهودا ګناه او سزا


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

١ څښتن وايي: «ای د يهودا خلکو، ستاسو ګناهونه د اوسپنې په قلم باندې ليکل شوي دي، په داسې قلم باندې چې نوکه يې د الماسو ده او ستاسو په زړونو او ستاسو د قربانيو د ځايونو د څلورو کنجونو په ښکرونو باندې نقش ويستل شوی دی. ٢ ستاسو خلک د قربانيو د ځايونو او هغو نښو په څنګ کې چې د اشيره د بتانو دپاره د هرې شنې ونې لاندې او په لوړو غونډيو ٣ او غرونو باندې جوړې شوې دي، عبادت کوي. تاسو چې په خپل وطن کې کوم ګناهونه کړي دي، د هغو په خاطر به ستاسو دښمنان پرېږدم چې ستاسو ټول مال، دولت او خزانې د غنيمت په توګه يوسي. ٤ تاسو ته چې ما کوم وطن درکړی ؤ، هغه به له لاسه ورکړئ او دې ته به مو مجبور کړم چې په پردي هېواد کې چې د هغه په هکله هيڅ معلومات نه لرئ، د دښمنانو خدمت وکړئ، ځکه چې تاسو زما د قهر اور بل کړی دی او هغه به تل بليږي.»

## د څښتن له خوا لعنت او برکت

٥ څښتن داسې وايي:


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

وي دې لعنت په هغه چا باندې

چې اړوي مخ له څښتنه

او توکل کوي په انسانانو باندې

او د فاني انسان قوت باندې

۶ دی په دښته کې هغه د هغه

بوټي په شان

چې راشين کيږي په وچ بيابان

مالګينه خاوره کې

چې نه شين کيږي په کې بل شی

وبه نه ويني هيڅ خير هغه


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۷ خو زه ښښتن به ورکړم برکت هغه ته

چې توکل کوي په ما باندې

۸ په مثال د هغې ونې دی دا شخص

چې وي کرل شوې د ويالې په غاړه

او رسوي خپلې ريښې اوبو ته

نه وېرېږي هغه ګرمې هوا نه

ځکه چې پاڼې يې پاتې کيږي شنې

که باران هم نه وي انديښنه نه کړي هغه

هغه مېوه نيسي تل

۹ زړه د انسان دی غولوونکی له هر څه نه


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې علاج يې نشته

څوک پوهېدلی شي هغه باندې؟

١٠ زه ښښتن لټوم د انسانانو پټ فکرونه

ازمایم د انسانانو زړونه

چلند کومه د هرچا سره

د هغه د کردار او عملونو سره سم

١١ څوک چې پيسې ګټي بې‌ایمانۍ باندې

هغه به وي د هغې زرکې په شان

چې کښېني هغه د نورو په هګیو

هغه به بایلي خپل دولت د ځوانۍ په اوج کې



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کړي به ثابت خپل حماقت اخر کې

١٢ زمونږ معبد دی د مجلل تخت په شان

چې د اول نه دی ولاړ په لوړ ځای باندې

١٣ ته يې هيله د اسراييلو ای ښتنه

وبه شرمیږي هرڅوک چې پريږدي تا

څوک چې مخ اړوي تا نه

هغوی به ورک شي هغو نومونو په شان

چې ليکل شوي وي په خاورو باندې

ځکه چې ای ښتنه هغوی پريښی يې ته

چې ته چينه يې د تازه اوبو


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# ارميا د ښښتن څخه ژغورنه غواړي

۱۴ ای ښښتنه، ما ته شفا راکړه، نو زه به بیخي ښه شم. ما
وژغوره، نو زه به په پوره توګه په امن کې اوسم. زه یوازې ستا ثنا او
صفت وایم.

۱۵ خلک ما ته وايي: «هغه اخطارونه چېرته دي چې ښښتن د
هغو په هکله ویلي وو چې پېښ به شي؟ پرېږده چې هغه همدااوس
عملي شي!»

۱۶ خو ای ښښتنه، ما خپله هغه دنده هېڅکله پرېنښودله چې تا
زه د خپل قوم دپاره د شپون په توګه ټاکلی یم او ستا نه مې نه دي
غوښتي چې په هغوی باندې دې سختې ورځې راشي. ای ښښتنه، ته
پوهېږې چې ما څه ویلي دي، هغه ستا نه پټ نه دي. ۱۷ ما مه
وېروه، د مصیبت په وخت کې ته زما دپاره د پناه ځای یې. ۱۸ کوم
خلک چې ما ځوروي هغوی رسوا کړه، خو ما د رسوایۍ نه وساته.
په هغوی باندې وېره راوله، خو ما مه وېروه. په هغوی باندې مصیبت
راوله او ټوټې ټوټې یې کړه.


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# د سبت د ورځې لمانځل

١٩ څښتن ما ته داسې ووېل: «ای ارمیا، لاړ شه او د ښار په
اصلي دروازه کې چې د یهودا پاچاهان ورباندې وځي او ننوځي،
ودرېږه او بیا د اورشلیم د ښار نورو دروازو ته ورشه. ٢٠ د یهودا
پاچاهانو، د یهودا ټولو خلکو او د اورشلیم ټولو اوسېدونکو ته چې
په دې دروازو باندې ښار ته ننوځي، ووایه چې زما خبرو ته غوږ
ونیسي. ٢١ زه څښتن داسې وایم: ‹که په هغوی باندې خپل ژوند
ګران وي، نو د سبت په ورځ دې هېڅ بار نه وړي. هغوی باید د
اورشلیم په دروازو باندې هېڅ شی رانه وړي ٢٢ او نه دې کوم بار د
سبت په ورځ د خپلو کورونو څخه راوباسي. هغوی باید د سبت په
ورځ هېڅ کار ونه کړي. لکه څنګه چې مې د هغوی نیکونو ته حکم
کړی ؤ، دوی هم باید دا یوه سپېڅلې ورځ وګڼي. ٢٣ د هغوی نیکونو
زما خبرو ته غوږ ونه نیوه او نه یې راته پام وکړ. د دې په ځای
هغوی سرکښه شول، هغوی زما اطاعت نه کاوه او نه یې غوښتل چې
زما څخه څه زده کړي.


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۴ دې خلکو ته ووايه چې زما ټول حکمونه ومني. هغوی بايد د
سبت په ورځ د دې ښار د دروازو له لارې هېڅ بار يونسي. هغوی
بايد د سبت ورځ يوه سپېڅلې ورځ وګڼي او په دې ورځ بايد هېڅ
کار ونه کړي. ۲۵ بيا به د هغوی پاچاهان او شهزادګان چې د داود د
اولادې څخه دي، د اورشليم په دروازو باندې ننوځي. هغوی به د
يهودا او اورشليم د خلکو سره يوځای په جنګي ګاډيو او اسونو
باندې سپاره وي او خلک به تل د اورشليم په ښار کې واوسيږي.
۲۶ خلک به د يهودا له ښارونو، د اورشليم د شاوخوا کليو، د بنيامين
له سيمې، د غرونو، د غرونو لوېديځو لمنو او د يهودا د جنوب څخه
راځي. هغوی به زما کور ته سوځېدونکې قربانۍ او نورې قربانۍ، د
غلو دانو نذرانې او قيمتي خوشبويي او همدارنګه د شکرانې نذرانې
راوړي. ۲۷ خو هغوی بايد زما اطاعت وکړي او د سبت ورځ بايد
يوه سپېڅلې ورځ وګڼي. هغوی بايد په دې ورځ د اورشليم په
دروازو باندې هېڅ بار يونسي. که هغوی داسې وکړل، نو زه به د
اورشليم دروازو ته اور واچوم. دا اور به د اورشليم ماڼۍ وسوځوي
او هېڅوک به ونه شي کولای چې دا اور مړ کړي.›»


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# ارمیا د کلال په کور کې

١ څښتن ما ته وویل: ٢ «د کلال کور ته لاړ شه، هلته به زه تا
ته خپل پیغام درکړم.» ٣ نو هلته لاړم او ومې لیدل چې کلال په
خپل څرخ باندې کار کوي. ٤ کله به چې یو لوښی د کلال په لاس
کې د جوړولو په وخت کې خراب شو، نو بیا به یې هغه خټه
راواخیستله او کوم بل لوښی به یې ورڅخه جوړاوه، کوم لوښی چې
کلال ته ښه معلومېده.

٥ بیا څښتن ما ته وویل: ٦ «ای د اسراییلو خلکو، ایا زه نه
شم کولای هغه کار چې یو کلال یې د خټې سره کوي، هغه ستاسو
اسراییلو سره وکړم؟ تاسو زما په لاس کې یئ لکه څنګه چې خټه د
کلال په لاس کې وي. ٧ هر وخت چې زه ووایم چې یو قوم یا یوه
پاچاهي بیخي له منځه وړم، هغه راچپه کوم او تباه کوم یې، ٨ که
چېرې هغه قوم یا پاچاهي د خپلو بدو کارونو نه لاس واخلي، نو
هغه وخت به زه خپله پرېکړه بدله کړم او په هغه قوم یا پاچاهۍ
باندې به هغه تباهي نه راولم، کوم چې ما وویل. ٩ له بلې خوا که


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

زه ووایم چې غواړم یو قوم یا یوه پاچاهي جوړه کړم او هغه ټینګه
کړم، ۱۰ خو بیا که هغه قوم زما د حکم څخه سرغړونه وکړي او زما
په وړاندې بد کارونه وکړي، نو زه به خپله پرېکړه بدله کړم او کوم
برکت چې ما غوښتل هغوی ته یې ورکړم، له هغه څخه به ډډه وکړم.
۱۱ نو اوس د یهودا او اورشلیم اوسېدونکو ته ووایه چې زه څښتن د
هغوی په ضد پلانونه جوړوم او هغوی ته د سزا ورکولو دپاره تیاری
نیسم. هغوی ته ووایه چې خپل د ګناه نه ډک ژوند تېرول بس کړي،
خپل چلند اصلاح کړي او بد کارونه پرېږدي. ۱۲ هغوی به په ځواب
کې ووایي: ‹نه، مونږ ولې داسې وکړو؟ مونږ به هماغه شان سرتمبه
اوسو او خپلو بدو کارونو ته به دوام ورکړو، لکه څنګه چې مو زړه
غواړي.›»

## اسراییلو خپل څښتن هېر کړی دی

۱۳ نو څښتن داسې وایي:

پوښتنه وکړئ ټولو قومونو څخه


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې دې نه مخکې شوی داسې کار

دی اسراییل د پاکې پېغلې په شان

خو هغې کړی دی ډېر هیبتناکه کار

۱۴ ایا لوړ غرونه د لبنان بې واورې شوي کله؟

ایا د لېرې غرونو هغه یخې ویالې دي وچې شوې کله؟

۱۵ خو بیاهم زه هېر کړی یم خپل قوم

دوی خوشبویي سوځوي هغو بتانو ته

چې دي بې ګټې

بې‌لارې کړي دي بتانو هغوی

نور نه ځي هغوی په پخوانیو لارو


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

دي روان په نابلده لارو

١۶ دا وطن دی ویجاړ کړی هغوی

چې شي حیران به همېشه نور خلک

له هغه ځایه چې تېرېږي څوک

نو په لیدو به یې لړزېږي هغوی

ښوروي به خپل سرونه هغوی له حیرانتیا نه

١٧ لکه ختڅه چې بادوي باد د ختیځ خاورې

داسې به زه خپل خلک تیت کړم دښمنانو مخکې

زه به واړومه شا هغوی ته

چې کله راشي مصیبت په هغوی


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

## د ارمیا په ضد دسیسه

۱۸ نو بیا خلکو وویل: «راځئ چې یوه داسې لاره پیدا کړو چې
ارمیا د خپلې مخې نه لیرې کړو! مونږ خپل کاهنان لرو چې د خدای
قوانین راته وښايي، مونږ هوښیار خلک لرو چې مشوره راته راکړي
او پیغمبران لرو چې د ښښتن پیغام اعلان کړي. راځئ چې په هغه
باندې تور ولګوو او د هغه خبرو ته نور غوږ ونه نیسو.»

۱۹ نو ما دعا وکړه او ومې ویل: «ای ښښتنه، زه چې څه وایم
هغه واوره او څه چې زما دښمنان يې زما په هکله وايي، هغو ته
غوږ ونیسه. ۲۰ ایا د نیکۍ بدله بدي ده؟ خو هغوی بیاهم زما د وژلو
دپاره کنده ویستلې ده. در په یاد کړه چې زه څنګه ستا حضور ته
راغلم، نو د هغوی په خاطر مې ستا سره خبرې وکړې او هڅه مې
وکړه چې د خپل قهر له مخې د هغوی سره چلند ونه کړې. ۲۱ نو
اوس ای ښښتنه، پرېږده چې د هغوی اولادونه له لوږې مړه شي او


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په جنګ کې ووژل شي. پرېږده چې ښځې خپل مېړونه او خپل ماشومان له لاسه ورکړي، د هغوی سړي د وبا له امله مړه شي او ځوانان په جګړه کې ووژل شي. (۲۲) يرغلګران ورولېږه چې يوناڅاپه د هغوی کورونه لوټ کړي. پرېږده چې د هغوی د کورونو نه د چيغو اوازونه واورېدل شي. هغوی ما ته کنده ويستلې ده چې په کې وغورځېږم او دامونه يې راته ايښي دي چې په کې راګېر شم. (۲۳) خو ای څښتنه، ته د ټولو دسيسو څخه چې زما د وژلو پلان يې جوړ کړی دی، خبر يې. د هغوی بدي مه معاف کوه او د هغوی ګناهونه مه بخښه. هغوی رانسکور کړه او د قهر په وخت کې ورسره چلند وکړه.»

## د مات منګي مثال

(۱) څښتن ما ته وويل: «لاړ شه او د خټو يو منګی په بيه واخله. بيا د قوم او د کاهنانو يو شو مشران د ځان سره واخله (۲) او د مات شويو منګيو د دروازې له لارې د بن‌هنوم درې ته لاړ شه. هلته هغه پيغام چې زه يې درکوم، اعلان کړه. (۳) هغوی ته ووايه: ‹ای د يهودا


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

پاچاهانو او د اورشلیم خلکو، څه چې زه مطلق قادر څښتن یعنې د
اسراییلو خدای وایم، غوږ ورته ونیسئ. زه به په دې ځای باندې
داسې یو افت نازل کړم چې هرڅوک ورڅخه خبر شي، نو هغه به
هک حیران شي. ۴ ځکه چې هغوی زه پرېښی یم او دا ځای یې
ناپاکه کړی دی. هغوی په دې ځای کې نورو خدایانو ته قرباني
وړاندې کړې دي چې پخوا دوی او د دوی نیکونو او د یهودا
پاچاهانو هغوی نه پېژندل. هغوی دا ځمکه د بې‌ګناه خلکو په وینو
ډکه او رنګ کړې ده. ۵ هغوی د بعل د بت دپاره د قرباني ځایونه
جوړ کړي دي چې خپل اولادونه ورباندې د قربانیو په توګه
وسوځوي. ما هغوی ته هېڅکله دا حکم نه دی کړی چې داسې کار
وکړي او دا خبره زما ذهن ته هم نه ده راغلې. ۶ نو داسې وخت به
راشي چې دا ځای به نور د توفت یا د بن‌هنوم د درې په نوم نه
یادیږي، بلکې د وژنې د درې په نوم به یادیږي. ۷ په دې ځای کې
به زه د یهودا او اورشلیم د خلکو پلانونه شنډ کړم. زه به د هغوی
دښمنان پرېږدم چې په دوی باندې بریالي شي او هغوی په جنګ
کې ووژني. د هغوی مړي به د مرغانو او ځنګلي حیواناتو خوراک
کړم. ۸ زه به دا ښار داسې ویجاړ کړم چې هرڅوک چې له هغه


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځایه تېرېږي، نو وبه لړزېږي او حیران به پاتې شي. ۹ دښمن به
ښار کلابند کړي او کوښښ به وکړي چې د ښار خلک ووژني. زه به
کلابندي دومره سخته کړم چې دننه په ښار کې خلک د یو بل او
حتی د خپلو زامنو او لورګانو غوښې وخوري.›»

۱۰ بیا څښتن ما ته وویل: «دا منګی د هغو خلکو په مخکې چې
تا سره راغلي دي، مات کړه ۱۱ او هغوی ته ووایه چې مطلق قادر
څښتن داسې ویلي دي چې زه به دا خلک او دا ښار ټوټې ټوټې کړم
او هغه به د خټو د دې مات منګي په شان وي چې بیا به نه
جوړېږي. خلک به خپل مړي په توفت کې ښخوي، ځکه چې نور به
د مړو د ښخولو دپاره ځای نه وي. ۱۲ څښتن وایي چې زه به د دې
ښار او د هغه د اوسېدونکو سره داسې چلند وکړم، ترڅو ښار د
توفت په شان شي. ۱۳ د اورشلیم کورونه، د یهودا د پاچاهانو
کورونه او هغه ټول کورونه چې د هغو په بامونو باندې ستورو ته
خوشبویي سوځول کېږي او نورو خدایانو ته په کې د څښلو نذرانې
وړاندې کېږي، هغه به ټول د توفت په شان ناپاکه شي.»

۱۴ بیا ارمیا د توفت نه چې څښتن د خپل پیغام د اعلانولو دپاره


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هلته ورلېږلی ؤ، اورشلیم ته راستون شو. بیا هغه د څښتن د کور په حوېلۍ کې ودرېد او ټولو خلکو ته يې وويل: ۱۵ «مطلق قادر څښتن يعنې د اسراييلو خدای داسې ويلي دي چې زه به په دې ښار او د هغه شاوخوا ښارګوټو باندې هغه مصيبتونه چې ما ويلي وو نازل کړم، ځکه چې هغوی سرتمبه خلک دي او زما خبرو ته غوږ نه نيسي.»

## د فشحور کاهن سره د ارميا شخړه

۱ کله چې فشحور کاهن چې د يمير زوی ؤ او د څښتن د کور د ساتونکو مشر ؤ، د ارميا پيغام واورېد، ۲ هغه امر وکړ چې ارميا ووهي او د څښتن په کور کې د بنيامين د پاسنۍ دروازې سره نږدې هغه د لرګي په کنده باندې وتړي. ۳ په بله ورځ کله چې فشحور هغه خوشې کړ، ارميا هغه ته وويل چې په تا باندې کوم نوم څښتن ايښی دی، هغه فشحور نه، بلکې «له هرې خوا نه وېره» دی. ۴ ځکه څښتن داسې ويلي دي: «ته به د خپل ځان او خپلو ټولو دوستانو دپاره د وېرې سبب شې او ته به ووينې چې هغوی به د


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خپلو دښمنانو په تورو باندې ووژل شي. زه به د یهودا ټول خلک د بابل پاچا ته په لاس ورکړم، هغه به ځینې خلک خپل وطن ته د اسیرانو په توګه بوځي او نور به ووژني. ۵ زه به همدارنګه د دې ښار ټوله شتمني، د هغه قیمتي مالونه او حتی د یهودا د پاچاهانو خزانې د هغوی دښمنانو ته په لاس ورکړم. هغوی به دا ټول لوټ کړي او بابل ته به یې یوسي. ۶ ای فشحوره، ته او هغه ټول خلک چې ستا په کور کې اوسیږي، وبه نیول شئ او بابل ته به بوتلل شئ. ته به هلته مړ شې او د خپلو ټولو دوستانو سره به چې دروغجنې پیشګویانې دې ورته کولې، په هغه ځای کې ښخ شې.»

## د ارمیا شکایت

۷ وغولولمه تا ای څښتنه

وغولېدمه زه

ته ډېر قوي یې ما نه


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تا مغلوب کړمه زه

ما پورې خاندي ټوله ورځ

وهي ملنډې په ما ټول خلک

٨ کله چې زه کوم خبرې نو وهمه چيغې

وايم په لوړ اواز چې ظلم! تباهي!

مسخره کېږم او سپک کېږم هر وخت

ځکه چې زه اعلانوم ستا پيغام

٩ خو کله چې ووايم زه له خپل ځانه سره

چې زه به ياد نه کړم ښبنتن

نور به زه نه کوم خبرې د هغه په نامه


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نو بیا زما په زړه کې ستا پیغام

داسې بلیږي لکه د اور په شان

کوم کوښښ چې هغه وساتمه

خو سترړی شوی یمه

او نه شم چوپ پاتې کېدلی زه

١٠ پس پسې اورمه د ډېرو خلکو چې وایي

هرځای کې وېره ده

راځئ چې تور ولګوو په ارمیا باندې

راځئ چې ورکړو خبر واکمنانو ته

انتظار باسي زما ملګري دې ته



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې زه راپرېوځمه

هغوی وايي چې کېدای شي وغولېږي هغه

نو بيا کولای شو راګير کړو هغه

ورڅخه واخلو بدل

١١ خو ای څښتنه، ته يې مل راسره

ته يې په شان د قوي جنګيالي

کوم خلک چې ما ځوروي وبه ښوييږي

هغوی به نه شي بريالي په ما باندې

د تل دپاره به رسوا شي هغوی

ځکه هغوی کاميابېدلی نه شي


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هېڅ وخت به هېره نه شي بې‌حرمتي د هغوی

۱۲ خو ای مطلق قادر څښتنه چې ازمایې نېک خلک ته

ته یې خبر د دوی د زړونو او ذهنونو څخه

پر پرده چې ووینمه ته څنګه اخلې بدل

زما له دښمنانو څخه

ځکه چې ما ویلې خپله دعوه تا ته

۱۳ څښتن ته ووایئ سندرې

وکړئ ثنا او صفت د څښتن

ځکه خلاص کړي دي هغه

مظلومان له بدکارانو څخه


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۴ وي دې لعنت په هغه ورځ باندې

په کومه ورځ چې زېږېدلی یمه

چې وزېږېدم له موره

برکت دې نه وي په هغه ورځ باندې

۱۵ وي دې لعنت په هغه چا باندې

چې زما پلار ته یې راوړی زېری

چې ستا ماشوم شوی دی او هلک دی هغه

چې د دې زېري نه خوشحال شي هغه

۱۶ له منځه لاړ دې شي هغه سړی

هغو ښارونو په شان


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

چې ښځې وران کړل په بې‌رحمۍ سره

هغه دې واورې په سهار کې له وېرې چيغې

او په غرمه کې زنګ د جنګ د خطر

17 ځکه وېې نه وژلم د مور په خېټه کې زه

ترڅو قبر وای زما دپاره د مور خېټه

حامله وای پاتې شوې هغه تل دپاره

18 ولې راغلم دې نړۍ ته د مور له خېټې څخه؟

چې زه وګورم غمونه او تکليفونه

او تېرې کړم ورځې په رسوايي کې؟

## د اورشليم د ماتې په هکله پېشګويي



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱ د یهودا پاچا صدقیا د ملکیا زوی فحشور او د معسیا زوی سفنیا کاهن د دې غوښتنې سره ما ته راولېږل: ۲ «مهرباني وکړه زمونږ په خاطر د څښتن سره خبرې وکړه، ځکه چې د بابل پاچا نبوکدنصر او د هغه لښکرې په مونږ باندې حمله کوي. کېدای شي چې څښتن زمونږ دپاره یوه معجزه وکړي او نبوکدنصر بېرته په شا تګ ته مجبور کړي.»

۳ بیا څښتن زما سره خبرې وکړې او ما هغو کسانو ته چې ما ته رالېږل شوي وو، وویل ۴ چې صدقیا ته ووایئ: «د اسراییلو څښتن خدای داسې ویلي دي: ‹ای صدقیا، زه به ستاسو وسلې چې د بابل د پاچا په ضد او د هغو بابلیانو چې د ښار د دېوالونو دباندې دي او ښار محاصره کوي، له کاره وغورځوم. په حقیقت کې زه به ستاسو دښمنان د دې ښار زړه ته راولم. ۵ زه به په خپل قوي مټ او ټول قدرت، قهر او غضب سره ستاسو سره وجنګېږم. ۶ زه به د دې ښار اوسېدونکي ووژنم. انسانان او حیوانات دواړه به د سختې وبا له امله مړه شي. ۷ خو زه به تا، ستا درباریان او د اورشلیم هغه خلک چې د وبا، جنګ او د قحطۍ نه ژوندي پاتې شوي دي، د


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بابل پاچا نبوکدنصر او ستاسو دښمنانو ته چې ستاسو د وژلو کوښښ کوي، په لاس ورکړم. نبوکدنصر به تاسو ووژني. هغه به په تاسو باندې رحم ونه کړي، نه به درباندې مهرباني وکړي او نه به درباندې زړه وسوځوي.› ما څښتن داسې ویلي دي.

٨ بیا څښتن ما ته وویل چې خلکو ته ووایه: ‹زه څښتن تاسو ته دا موقع درکوم چې د دې دوه لارو څخه یوه خوښه کړئ، د ژوند لاره یا د مرګ لاره. ٩ هرڅوک چې په ښار کې پاتې کیږي، هغه به په جنګ کې یا د لوږې نه یا د وبا له امله مړه شي. خو څوک چې دباندې ووځي او بابلیانو ته چې اوس ښار محاصره کوي تسلیم شي، نو هغوی به ونه وژل شي او لږ تر لږه به وکولای شي چې خپل ځانونه وژغوري. ١٠ ما پرېکړه کړې ده چې دا ښار به ونه ژغورم، بلکې هغه به وران کړم. دا ښار به د بابل پاچا ته وسپارم او هغه به یې داسې وسوځوي چې د خاورو سره به خاورې شي.› ما څښتن داسې ویلي دي.»

## څښتن به د یهودا پاچا ته سزا ورکوي


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

١١-١٢ ښبښتن ما ته وويل چې د يهودا د پاچا کورنۍ ته چې د داود
اولاده ده، دا پيغام ورسوم: «زه ښبښتن چې څه وايم، هغو ته غوږ
ونيسئ. هره ورځ د خلکو سره د عدل او انصاف نه کار واخلئ. د چا
نه چې غلا شوې ده، هغه د ظالم نه خلاص کړئ. که داسې ونه
کړئ، نو ستاسو د بدو کارونو په سبب به زما قهر لکه د اور په شان
بل شي. هغه به بليږي او هېڅوک به نه وي چې هغه مړ کړي. ١٣ ای
اورشليمه، ته د درو دپاسه د هغه ګټ په شان يې چې د هوار ميدان
دپاسه پروت وي. خو زه ستا په ضد يم. ته وايې چې هېڅوک په
مونږ باندې حمله نه شي کولای او نه څوک زمونږ پناه ځايونو ته
ورننوتلی شي. ١٤ خو زه به تا ته ستا د عمل سره سم سزا درکړم.
زه به ستا ماڼۍ ته اور واچوم او دا اور به د هغې شاوخوا ټول شيان
وسوځوي.» ما ښبښتن داسې ويلي دي.

## د يهودا شاهي کورنۍ ته د ارميا پيغام

١-٢ ښبښتن ما ته داسې وويل: «د يهودا پاچا چې د داود اولاده
ده، د هغه ماڼۍ ته لاړ شه او هلته پاچا، د هغه درباريانو او د


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اورشليم خلکو ته ووايه چې هغه څه چې څښتن وايي، هغو ته غوږ ونيسي: ۳ ‹د عدالت او انصاف له مخې کار کوئ. د چا نه چې غلا کيږي هغه د غل څخه وژغورئ. د پرديو خلکو، يتيمانو او کونډو سره بد چلند او ظلم مه کوئ او په دې ځای کې بې‌ګناه خلک مه وژنئ. ۴ زه چې تاسو ته کوم حکم درکوم، که چېرې تاسو په رښتيا سره په هغه باندې عمل وکړئ، نو بيا به د داود کورنۍ خپلې پاچاهۍ ته دوام ورکړي. او هغوی به د خپلو درباريانو او خپلو خلکو سره په جنګي ګاډيو او اسونو باندې سپاره د دې ماڼۍ په دروازو باندې تګ او راتګ وکړي. ۵ خو که چېرې تاسو زما په حکمونو باندې عمل ونه کړئ، نو زه په خپل ذات باندې قسم خورم چې دا ماڼۍ به په کنډوالو باندې بدله شي. ما څښتن داسې ويلي دي.›»

۶ څښتن د يهودا د پاچا د ماڼۍ په هکله داسې وايي: «زما دپاره د يهودا شاهي ماڼۍ د جلعاد د وطن او د لبنان د غرونو په شان ښکلې ده، خو زه به هغه د دښتې او د هغو ښارونو په شان کړم چې هېڅوک به په کې ونه اوسيږي. ۷ زه به د ورانولو دپاره کسان


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

وټاکم چې هغه ماڼۍ ورانه کړي. هغوی به تبرونه راوړي او د هغې د
سبر د ونو ښکلي تیران به راوغورځوي او په اور کې به یې
وسوځوي.

٨ کله چې د ډېرو قومونو خلک د هغه ځای څخه تېرېږي، نو
هغوی به یو د بل نه پوښتنه کوي چې څښتن ولې د دې لوی ښار
سره داسې کار وکړ؟ ٩ په ځواب کې به داسې ویل کیږي: ‹دا ځکه
چې د اورشلیم خلکو د خپل څښتن خدای لوظ مات کړی دی او د
نورو خدایانو عبادت او خدمت یې کړی دی.›»

## د یهوآحاز په هکله پیغام

١٠ مه ژاړئ ای د یهودا خلکو

د یوشیا پاچا دپاره

مه کوئ ویر د هغه په مړینه باندې


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خو سخت وژاړئ د هغه د زوی دپاره

ځي لېرې هغه ځای ته چې بيا به

رانه شي هېڅکله

بيا به ونه ويني هغه وطن

چې پيدا شوی په کې

١١ څښتن د يوشيا د زوی يهوآحاز په هکله چې د خپل پلار نه
وروسته د يهودا پاچا شو او هغه د دې ځای نه تللی دی، داسې وايي:
«هغه بيا هېڅکله بېرته نه راځي. ١٢ هغه به په هغه وطن کې چې
هغه يې هلته د اسير په توګه بېولی دی، مړ شي او بېرته به دا وطن
ونه ويني.»

## د يهوياقيم په هکله د ارميا پيغام

څښتن وايي:



Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

۱۳ افسوس د هغه چا په حال

چې جوړوي خپل کور بېعدالتۍ باندې

جوړوي بالاخانې بېانصافۍ باندې

چې جوړوي هغه بېګار باندې

نه ورکوي مزدوري خلکو ته

۱۴ افسوس په حال د هغه چا چې وايي:

زه به جوړه کړم ماڼۍ د خپل ځان دپاره

چې وي کوټې په کې پراخه په پاس منزل کې

هغه به جوړې کړي کړکۍ خپل کور کې

په کې به ولګوي تختې د سبر


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

ورته به ورکړي تک سور رنګ

۱۵ ایا په دې به شې ته ښه پاچا

چې کړې جوړ خپل کور د سبر د لرګیو څخه

او هغه به وي ښایسته نورو کورونو څخه؟

ایا ستا پلار یوشیا برخمن نه ؤ

د ژوندون د نعمتونو څخه؟

هغه عادل او باانصافه ؤ تل

او بریالی ؤ په هر کار کې هغه

۱۶ هغه کړی دی انصاف د غریبانو سره

بریالی ؤ په هر کار کې هغه


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دا معنی ده د څښتن د پېژندلو

١٧ خو ته یوازې یې په فکر د خپلو ناروا ګټو

وژنې ته بې‌ګناه خلک

زورزیاتی کوې د خپلو خلکو سره

داسې ویلي څښتن

١٨ نو څښتن د یهودا د پاچا د یوشیا زوی یهویاقیم په هکله
داسې وايي:

وبه نه کړي ځوک ویر د هغه په مرګ

او نه به ووایي

ځومره هیبتناکه ده، ای ورونو

ځومره هیبتناکه ده، ای خویندو


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

هېڅوک نشته چې وير او ژړا وکړي هغه باندې

هېڅوک نشته چې ووايي اى باداره! اى پاچا زما

١٩ هغه ښخېږي به د يو مړه خره په شان

چې راښکل کېږي او غورځول کېږي هغه

د اورشليم له دروازو نه بهر

## د اورشليم د سرنوشت په هکله د ارميا پيغام

٢٠ اى د اورشليم خلکو، لاړ شئ لبنان ته

او ووهئ چيغې هلته

لاړ شئ باشان ته او وکړئ فرياد هلته

وکړئ اواز د عباريم له غرو نه


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

په دې خاطر چې تباه شوي ټول ملګري ستاسې

٢١ په هغه وخت کې چې نېکمرغه وئ

وکړې خبرې ما له تاسو سره

خو تاسو نه نيولو غوږ ما ته

تاسو کولو همدا کار د ځوانۍ له وخته

تاسو هېڅکله نه کولو اطاعت زما

٢٢ لېرې به يوسي زما د غضب توفان

ټول مشران ستاسو

شي به جنګي اسيران ستاسو ملګري

ستاسو ښار به شي رسوا او وبه شرمېږي هغه


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

په سبب د خپلو بدو کارو

۲۳ ارام پروت يې خپلې ماڼۍ کې د سبر د ونو منځ کې

چې راوړل شوي له لبنان څخه

خو څومره زګېروي به کوې کله چې درد راشي په تا باندې

يو داسې درد چې د لنګون په وخت کې

راځي په ښځې باندې

## څښتن به يهوياکين ته سزا ورکړي

۲۴ څښتن د يهودا پاچا يهوياقيم زوی يهوياکين پاچا ته داسې
وويل: «زه په خپل ذات باندې قسم خورم که ته زما هغه ګوته هم
وای چې ما په لاس کړې ده او زما د شاهانه قدرت نښه ده، نو د
خپلې ګوتې څخه به مې ويستلې وای ۲۵ او هغو خلکو ته به مې
ورکړې وای چې ورڅخه وېرېږې او هغو خلکو ته چې غواړي تا


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ووژني. زه به تا د بابل پاچا نبوکدنصر او د هغه عسکرو ته په لاس
ورکړم. ۲۶ زه به تا او ستا مور د دې وطن څخه وشړم. تاسو به
پردي هېواد ته لاړ شئ چې تاسو يو هم په کې پيدا شوي نه يئ او
دواړه به هلته مړه شئ. ۲۷ تاسو به په دې ارمان يئ چې هغه وطن
يوځل بيا ووينئ، خو هېڅکله به بېرته ورستانه نه شئ.»

۲۸ ما وويل: «ايا يهوياکين پاچا د هغه مات منګي په شان دی
چې لېرې غورځول شوی او هېڅوک يې نه غواړي؟ ولې هغه او د
هغه اولادونه هغه هېواد ته شړل شوي دي چې د هغه په هکله ورته
هېڅ معلومات نشته؟»

۲۹ ای وطنه، ای وطنه، ای وطنه!

غوږ ونيسه خبرو د څښتن ته

۳۰ څښتن داسې وايي:

وګڼه دا سړی د بېاولاده کس په شان


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

چې کامیاب به نه شي هېڅکله

وبه نه لري اولادونه هغه

لکه داود د اولادې په شان

چې کښېني د داود په تخت باندې

چې وکړي حکومت په یهودا باندې

## بدعمله مشران او عادل پاچا

١ خښتن داسې وویل: «افسوس د هغو شپنو په حال چې زما
رمه تباه کوي او هغه خواره واره کوي.» ٢ نو د اسراییلو خښتن
خدای د هغو شپنو په هکله چې اړتیا وه چې د هغه په رمې باندې
یې پام کړی وای، داسې وایي: «تاسو زما په رمې باندې پام نه دی
کړی، هغه مو خواره واره کړې ده او شړلې مو ده، نو ځکه زه اوس
تاسو ته د دې بد کار په سبب چې کړی مو دی، سزا درکوم. ٣ زه


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

به خپله پاتې رمه د هغو هېوادنو څخه چې هلته مې شړلې وه، راټوله کړم او هغه به بېرته خپل وطن ته راولم. هغه قوم به ډېر اولادونه ولري او شمېر به يې زيات شي. ۴ زه به په هغوی باندې داسې شپونکي وټاکم چې پام پرې وکړي. هغوی به نور ونه وېرېږي او نه به اندېښنه کوي. د هغوی نه به هېڅ يو ورک نه شي. ما څښتن داسې ويلي دي.»

۵ څښتن داسې وايي: «ګورئ، هغه وخت راتلونکی دی چې زه به د داود د اولادې نه يو عادل پاچا وټاکم. هغه پاچا به په هوښياری سره حکومت وکړي او په ټول وطن کې به د عدالت او انصاف څخه کار واخلي. ۶ کله چې هغه پاچا شي، نو د يهودا خلک به ازاد شي او د اسراييلو خلک به په سوله او ارامی کې ژوند تېروي. د هغه نوم به وي ‹څښتن زمونږ عدالت دی›.»

۷ څښتن داسې وايي: «هغه وخت راروان دی چې خلک به نور زما يعنې د هغه ژوندي څښتن په نوم چې د اسراييلو قوم يې له مصر څخه راوويست، قسم ونه خوري. ۸ د دې په ځای به هغوی د هغه ژوندي خدای په نوم قسم وخوري چې د اسراييلو قوم يې په شمال


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کې د يو وطن نه او هغو نورو هېوادنو نه راوويستل چې هغوی مې هلته شړلي وو. بيا به هغوی په خپل وطن کې واوسيږي.»

## د جعلي پيغمبرانو په هکله د ارميا پيغام

٩ دا پيغام د پيغمبرانو په هکله دی:

ټوټې ټوټې دی زما زړه

او رپيږي ټول بدن مې

د هغه سړي په شان يم چې وي نشه

چې کنترولولی نه شي هغه خپل ځان

د څښتن په خاطر

او د هغو سپېڅلو خبرو په سبب


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې هغه کړې دي

١٠ وطن دی ډک له هغو خلکو څخه

چې وفادار نه دي څښتن ته هغوی

په بدکارۍ تېروي ژوند هغوی

او د خپل قدرت نه اخلي غلطه ګټه هغوی

د څښتن د لعنت په سبب په وير اخته ده ځمکه

او څړځايونه وچ شول

١١ څښتن داسې وايي:

دي بې‌ايمانه پيغمبران او کاهنان

ما په خپله دي ګير کړي هغوی


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې کوي بد کارونه زما په کور کې

١٢ چې دي روان په کومو لارو هغوی

دي ښويېدونکې او تيارې دي هغه

وبه ښوييږي هغوی او وبه لويږي

زه راولم افت په هغوی باندې

دی راروان د سزا وخت د هغوی

داسې ويلي دي ما ښښتن

١٣ ما ليدلی د سامرې د پيغمبرانو ناوړه کار

چې هغوی کړې دي خبرې د بعل په نامه

او بې لارې کړی يې دی زما قوم اسراييل



Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

۱۴ خو ما لیدلي په اورشلیم کې پیغمبران

چې دي ډېر له هغو نه هم د کرکې وړ

هغوی کوي زنا او تل وایي دروغ

تشویقوي دوی خلک بدو کارونو ته

چې لاس وانخلي هېڅوک د بدکارئ نه

هغوی ټول بد دي دومره زما په نظر کې

لکه څومره چې دي بد د سدوم او عموره خلک

۱۵ نو دا هغه څه دي چې زه مطلق قادر څښتن یې د اورشلیم د
پیغمبرانو په هکله وایم:

زه به ورکړمه هغوی ته د خوراک دپاره

ترخه بوټي


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

او د څښتن د ښباک دپاره زهرجنې اوبه

ځکه چې دوی په ټول وطن کې

خپره کړې ده بې‌ایمانی

۱۶ مطلق قادر څښتن د اورشلیم خلکو ته داسې وایي: «د هغو
پیغمبرانو خبرو ته غوږ مه نیسئ چې ستاسو په زړونو کې بېځایه
هیلې راپیدا کوي. هغوی تاسو ته خپل خیالونه وایي، نه هغه خبرې
چې ما هغوی ته ویلې دي. ۱۷ هغوی هغو خلکو ته چې ما ته په
سپکه سترګه ګوري، هر وخت وایي چې هر څه یې سم روان دي.
هغوی سرتمبه خلکو ته وایي چې په دوی باندې به هېڅکله بلا رانه
شي.»

۱۸ ما وویل: «خو د دې پیغمبرانو نه یو یې هم هېڅکله د څښتن
په حضور کې ولاړ نه ؤ. یو یې هم کله د هغه پیغام نه دی اورېدلی
او نه یې کله د هغه خبرو ته غوږ نیولی او نه یې ورته پام کړی دی.
۱۹ ګورئ، د څښتن قهر د توفان په شان دی. هغه لکه د یوې


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هیبتناکې بوربوړکې په شان د بدکارانو په سرونو باندې لګیږي ۲۰ او دا قهر به تر هغه وخته پورې سوړ نه شي، ترڅو د هغه مقصد پوره شوی نه وي. په راتلونکي وخت کې به خلک په ښکاره توګه په دې باندې پوه شي.»

۲۱ خښتن داسې ووېل: «ما دا پیغمبران نه دي لیږلي، خو هغوی په خپل سر تللي دي. ما هغوی ته هېڅ کوم پیغام نه دی ورکړی، خو بیاهم هغوی زما په نوم خبرې کړې دي. ۲۲ که چېرې هغوی زما په حضور کې ولاړ وای، نو بیا هغوی کولای شول چې زما پیغام یې زما قوم ته رسولی وای او هغوی یې د خپلو بدو لارو او عملونو نه راګرځولي وای.

۲۳ زه هغه خدای یم چې په یو ځای کې نه، بلکې په هرځای کې حاضر یم. ۲۴ هېڅوک نه شي کولای خپل ځان زما نه پټ کړي، ترڅو زه یې ونه وینم. ایا تاسو نه پوهېږئ چې زه په ځمکه او اسمان کې او په هرځای کې حاضر یم؟ ۲۵ زه پوهېږم چې هغه پیغمبران زما په نوم دروغ وایي او دا دعوه کوي چې مونږ خوب ولیده چې په خوب کې ما هغوی ته خپل پیغام ورکړی دی. ۲۶


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

ترڅو پورې به دا پیغمبران زما خلک په هغو دروغو چې دوی له ځانه جوړ کړي دي، بې‌لارې کوي؟ ۲۷ هغوی فکر کوي چې کوم خوبونه چې دوی یې یو او بل ته بیانوي، په هغو باندې به زما قوم دې ته مجبور کړي چې ما هېر کړي، لکه څنګه چې د هغوی نیکونو زه هېر کړی وم او د بعل د بت عبادت یې کاوه. ۲۸ کوم پیغمبر چې خوب لیدلی وي، باید ووايي چې دا یوازې یو خوب ؤ، خو کوم پیغمبر ته چې زما له خوا پیغام ورکړل شوی دی، باید هغه زما پیغام په وفادارۍ سره اعلان کړي. د هغوی د خوبونو او زما د حقیقت ترمنځ دومره فرق دی، لکه د بوسو او غنمو ترمنځ. ۲۹ زما کلام لکه د اور په شان دی او د هغه څټک په شان دی چې تیږه ټوټې ټوټې کوي. ۳۰ زه د هغو پیغمبرانو په ضد یم چې د یو بل نه خبرې رااخلي او زما د پیغام په توګه یې اعلانوي. ۳۱ همدارنګه زه ښښتن د هغو پیغمبرانو په خلاف یم چې د خپل ځانه خبرې کوي او بیا دا دعوه کوي چې دا خبرې د ښښتن له خوا دي. ۳۲ په حقیقت کې زه د هغوی په خلاف یم چې خوبونه یې دروغ دي. هغوی دا خوبونه بیانوي او په خپلو دروغو او لافو باندې زما قوم بې‌لارې کوي. ما هغوی نه دي لیږلي او نه مې ورته حکم کړی دی، نو د هغوی خبرې


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

خلکو ته ګټه نه شي رسولی. ما څښتن داسې ويلي دي.»

## د څښتن درونند پيغام

۳۳ څښتن ما ته وويل: «ای ارميا، کله چې زما د قوم څخه يو
کس، يو پيغمبر او يا يو کاهن ستا نه پوښتنه وکړي چې څښتن کوم
پيغام د يو درونند بار په توګه مونږ ته راکړی دی؟ هغوی ته ځواب
ورکړه: ‹تاسو د څښتن دپاره يو درونند بار يئ او هغه به تاسو
وغورځوي.› ۳۴ که چيرې زما د قوم نه يو کس، يو پيغمبر او يا يو
کاهن ووايي: ‹زه د څښتن له خوا يو پيغام لرم› نو زه به هغه ته او د
هغه کورنۍ ته سزا ورکړم. ۳۵ نو هغوی هر يو بايد د خپلو دوستانو
او خپلو خپلوانو څخه پوښتنه وکړي: ‹څښتن څه ځواب ورکړی
دی؟› يا ‹څښتن څه ويلي دي؟› ۳۶ خو دا جمله مه کاروئ: ‹د
څښتن پيغام› ځکه کوم خلک چې دا جمله کاروي، هغوی خپل
ځان ته واک او اختيار ورکوي. که چيرې هغه ټکی وکاروي، نو
هغوی د ژوندي خدای، د مطلق قادر څښتن يعنې خپل خدای خبرې
غلطې تعبير کړې دي. ۳۷ ای ارميا، د پيغمبرانو نه پوښتنه وکړه چې


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خښتن تاسو ته څه ځواب درکړی دی؟ ۳۸ خښتن څه ویلي دي؟ او که هغوی زما د حکم نه سرغړونه وکړه او بیاهم ‹د خښتن د پیغام› ټکي وکاروي، نو هغوی ته ووایه چې ۳۹ زه به په رښتیا هغه ښار چې تاسو او ستاسو نیکونو ته مې ورکړی دی، واخلم او د خپل حضور نه به مو لېرې وشړم. ۴۰ زه به په هغوی باندې داسې ابدي سپکاوی او رسوایي راولم چې هېڅکله به یې هېره نه شي.»

## د ښو او خرابو انځرو په هکله رویا

۱ د بابل پاچا نبوکدنصر د یهودا پاچا د یهویاقیم زوی یهویاکین د اورشلیم نه بابل ته د اسیر په توګه بېولی ؤ او د هغه سره یې د یهودا مشران، کسبګران او اهنګران هم بېولي وو. وروسته بیا خښتن په رویا کې ما ته د انځرو دوه ټوکرۍ چې د خښتن د کور په مخکې پرتې وې، وښودلې. ۲ په یوې ټوکرۍ کې ښه او تازه انځر وو چې وختي پاخه شوي وو او په بلې ټوکرۍ کې دومره خراب انځر وو چې د خوړلو نه وو. ۳ بیا خښتن ما ته وویل: «ای ارمیا، ته څه وینې؟» ما ځواب ورکړ: «انځر وینم. هغه ښه او تازه انځر ډېر ښه


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

دي او هغه خراب انځر دومره خراب دي چې د خوړلو نه دي.»

۴ نو ښښتن ما ته وویل: ۵ «زه ښښتن د اسراییلو خدای
داسې وایم، زما په نظر کې د یهودا هغه اسیران چې بابل ته مې لېږلي
دي، هغه د هغو ښو انځرو په مثال دي چې زه د هغوی سره د
مهربانۍ له مخې چلند کوم. ۶ زه به په هغوی باندې پام کوم او
بېرته به یې دې وطن ته راولم. هغوی به نه تباه کوم، بلکې ودان به
یې کړم. هغوی به لکه د نیالګیو په شان وکرم او له بېخه به یې ونه
باسم. ۷ هغوی به وهڅوم چې ما وپېژني. نو بیا به هغوی زما قوم
وي او زه به یې خدای یم، ځکه چې هغوی به د زړه له کومې ما ته
راوګرځي.

۸ خو زه ښښتن به د یهودا د پاچا صدقیا، د هغه د درباریانو او
د اورشلیم د هغو نورو خلکو په هکله چې په دې وطن کې پاتې
شوي دي او یا مصر ته تللي دي، د هغو خرابو انځرو په شان چلند
وکړم چې د خوړلو نه دي. ۹ په هغوی باندې به داسې مصیبت
راولم چې د دنیا ټول قومونه ووېرېږي. هرچېرته چې هغوی وشړم،
خلک به په هغوی باندې ملنډې ووهي، ټوکې به ورباندې وکړي او


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

هغوی به مسخره کړي او د هغوی په نوم به لعنت غوښتل کیږي. ۱۰
زه به په هغوی باندې جنګ، قحطي او وبا نازل کړم، تر هغې پورې
چې د هغوی نه به هېڅوک هم په هغه وطن کې چې هغوی او د
هغوی نیکونو ته مې ورکړی دی، ژوندی پاتې نه شي.»

## د اویا کلونو اسارت په هکله پېشګویي

۱ د یهودا د پاچا یهویاقیم د یوشیا د زوی د پاچاهۍ په څلورم
کال ما د څښتن له خوا د یهودا د ټولو خلکو په هکله یو پیغام
ترلاسه کړ. دا د بابل د پاچا نبوکدنصر د پاچاهۍ لومړی کال ؤ. ۲
ما ارمیا د اورشلیم اوسېدونکو او د یهودا نورو خلکو ته وویل: ۳
«د عمون د زوی یوشیا د پاچاهۍ د دیارلسم کال نه تر نن ورځې
پورې چې درویشت کاله کیږي، څښتن چې ما ته کوم پیغام راکړی
دی، هغه مې تاسو ته تل دررسولی دی، خو تاسو ورته غوږ نه دی
نیولی. ۴ که څه هم څښتن تاسو ته تل خپل پیغمبران درلیږلي دي،
خو تاسو د هغوی خبرو ته نه غوږ نیولی او نه مو ورته پام کړی دی.
۵ هغوی به تاسو ته ویل چې د خپلو بدو لارو نه راوګرځئ او د


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

بدو کارونو نه لاس واخلئ، ترڅو وکولای شئ په هغه وطن کې چې تاسو او ستاسو نیکونو ته مې د تلپاتې ملکیت په توګه درکړی دی، خپل ژوند ته دوام ورکړئ. ۶ هغوی به تاسو ته ویل چې د نورو خدایانو خدمت او عبادت مه کوئ او تاسو چې کوم بتان په خپلو لاسونو جوړ کړي دي، هغو ته په عبادت کولو سره ښبښتن مه په قهروئ. که تاسو د ښبښتن خبره منلې وای، نو هغه به تاسو ته تاوان نه وای رسولی. ۷ خو ښبښتن داسې وايي چې تاسو د هغه خبرو ته غوږ نه دی نیولی. د هغې په ځای تاسو د خپلو بتانو په سبب چې په خپلو لاسونو مو جوړ کړي دي هغه په قهر کړ، نو په دی خاطر به تاسو ته تاوان ورسيږي.

۸ څرنګه چې تاسو هغه ته غوږ نه دی نیولی، نو مطلق قادر ښبښتن داسې وايي: ۹ ‹زه به د شمال ټول خلک او خپل خدمتګار د بابل پاچا نبوکدنصر راوغواړم. هغوی به راولم چې د یهودا او د هغه د اوسېدونکو او د هغه د شاوخوا قومونو په وړاندې وجنګيږي. زه هغوی او د هغوی شاوخوا ګاونډیان له منځه وړم او هغه به د تل دپاره په کنډوالو باندې بدل کړم او هرڅوک چې دا وګوري، نو په


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سپکه سترګه به ورته ګوري او ټکان به وخوري. ما ښبنتن داسې
ویلي دي. ۱۰ زه به د هغوی د خوشحالۍ او خوښۍ اوازونه له منځه
یوسم. د زوم او ناوې د خوشحالۍ اوازونه به نور نه اورېدل کیږي.
هلته به د میچنې د پل اواز بند کړم او د څراغونو رڼا به مړه کړم.

۱۱ دا ټول وطن به په کنډوالو باندې بدل شي او د لیدونکو دپاره
به یوه لړزوونکې ننداره وي. د یهودا قوم او د هغه ګاونډي قومونه به
اویا کاله د بابل د پاچا خدمت کوي. ۱۲ له اویا کلونو پای ته
رسېدلو نه وروسته به زه بابل او د هغه پاچا ته د هغوی د ګناهونو له
امله سزا ورکړم. زه به هغه وطن وران کړم او د تل دپاره به یې په
کنډوالو باندې بدل کړم. ما ښبنتن داسې ویلي دي. ۱۳ زه به بابل ته
د هغو ټولو افتونو په وسیله سزا ورکړم چې د هغوی په خلاف مې
ویلي دي او په دې کتاب کې لیکل شوي دي. د دې خبرو پېشګویي
د ارمیا په وسیله د ټولو قومونو په ضد شوې وه. ۱۴ زه به بابلیانو ته
د هغوی د عملونو سزا ورکړم او حتی هغوی به د ډېرو قومونو او
لویو پاچاهانو غلامان شي.›»


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د څښتن د قهر د پیالې مثال

۱۵ د اسراییلو څښتن خدای ما ته داسې ووېل: «دا د شرابو جام
دی چې زما د قهر نه ډک دی. دا واخله او هغو ټولو قومونو ته یې
یوسه چې زه تا هلته ورلېږم او په هغوی باندې یې وڅښه. ۱۶ کله
چې هغوی دا وڅښي، نو هغوی به د لېونیانو په شان کاږه واږه روان
وي او د هغې وژنې له امله چې په هغوی باندې یې راولم، هغوی به
خپل عقلونه له لاسه ورکړي.»

۱۷ نو ما د څښتن د لاس نه جام واخیست او هغو ټولو قومونو
ته مې ورکړ چې څښتن هلته ورلېږلی وم او په هغو باندې مې
وڅښل. ۱۸ اورشلیم او د یهودا ټول ښارونه او د هغوی پاچاهان او
مشران دې ته مجبور شول چې هغه وڅښي او د هغوی حال د یوې
ورانې ویجاړې، لړزوونکې او ټکان ورکوونکې نندارې په شان شي
او تر نن ورځې پورې خلک د هغوی د نومونو څخه د لعنت دپاره
کار اخلي.

۱۹–۲۰ دا د هغو نورو خلکو لست دی چې د هغې پیالې نه یې


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

ښبنلي دي:

- د مصر پاچا، د هغه درباريان او مشران،
- ټول مصريان او ټول پردي مختلف خلک چې په مصر کې اوسيږي،
- د عوص د هېواد ټول پاچاهان،
- د فلسطين د ښارونو ټول پاچاهان، په دې ښارونو کې اشقلون، غزه، عقرون او د اشدود پاتې خلک شامل وو.
- (۲۱) د ادوم، موآب او عمون ټول خلک،
- (۲۲) د صور او صيدون ټول پاچاهان،
- د مديترانې د هېوادنو پاچاهان،
- (۲۳) د ددان، تيما او بوز ښارونه،
- هغه خلک چې خپل وېښتان لنډوي،
- (۲۴) د عربستان ټول پاچاهان،
- د دښتې د مختلفو قبيلو ټول پاچاهان،
- (۲۵) د زمري، عيلام او ماد ټول پاچاهان،


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

• ۲۶ د شمال ټول پاچاهان، که نژدې دي که لېرې يو په بل پسې.

د ځمکې په مخ ټول قومونه مجبور وو چې د څښتن د قهر پياله وڅښي. په اخر کې به د بابل پاچا هم هغه پياله وڅښي.

۲۷ بيا څښتن ما ته وويل: «خلکو ته ووايه چې زه مطلق قادر څښتن يعنې د اسراييلو خدای هغوی ته وايم چې هغوی به تر هغې پورې دا پياله وڅښي، ترڅو هغوی نشه شي او کانګې وکړي او تر هغې پورې چې په ځمکه باندې داسې راولوېږي چې پاڅېدلی نه شي، ځکه چې زه په هغوی باندې جنګ راولم. ۲۸ که چېرې هغوی ستا د لاس پياله قبوله نه کړي او هغه ونه څښي، نو بيا هغوی ته ووايه چې مطلق قادر څښتن وايي چې هغوی بايد هغه وڅښي. ۲۹ ګورئ، زه غواړم په دې ښار کې چې زما په نوم يادېږي، د تباهی کار پيل کړم. ايا هغوی فکر کوي چې زه به دوی ته سزا ورنه کړم؟ نه، هغوی ته به سزا ورکړل شي، ځکه چې زه غواړم چې د نړۍ په ټولو خلکو باندې جنګ راولم. ما مطلق قادر څښتن داسې ويلي دي.»


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

۳۰ ای ارمیا، څه چې ما وویل، ته باید د هغوی په ضد نبوت
وکړې. ته باید دې خلکو ته ووایې:

لکه څنګه چې زمری غوریږي

داسې غوریږي به څښتن پاس له اسمانه څخه

او اواز به یې راشي د اوسېدو له سپېڅلي ځایه

وبه غوریږي په لوړ اواز په خپلو خلکو باندې

هغه به داسې شورماشور جوړ کړي

په خپلو خلکو باندې

داسې شور لکه چې څوک خېژي انګورو باندې

چې ترې شراب جوړ کړي

اواز به واوري د هغه د ځمکې ټول خلک


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٣١ انګازې به يې د اواز ورسي

د دنيا له يوه سر نه تر بل سره پورې

ښښتن دعوه لري ټولو قومونو باندې

ټول خلک به راولي محاکمې ته هغه

هغه به ووژني بدکاره خلک

ښښتن ويلي داسې

٣٢ مطلق قادر ښښتن داسې وايي: «د يو قوم نه وروسته په بل
قوم باندې مصيبت راروان دی او د دنيا په ډېرو لېرې ځايونو کې يو
لوی توفان د پيل کېدلو په حال کې دی. ٣٣ په هغه ورځ به د هغو
خلکو مړي چې ښښتن وژلي دي، د دنيا له يو سر نه تر بله سره
پورې پراته وي. په هغوی باندې به هېڅوک هم وير ونه کړي او
څوک به هغوی د ښخولو دپاره يونسي. هغوی به لکه د سرو د ډېری
په شان په ځمکه باندې پراته وي.


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

۳۴ ای مشرانو، ای زما د قوم شپنو، په لوړ اواز وژاړئ او چیغې
ووهئ! ویر وکړئ او په خاورو کې ورغړېږئ. ځکه ستاسو د
حلالولو او خواره واره کېدلو وخت رارسېدلی دی او د یو ښکلي
لوښي په شان به راولوېږئ. ۳۵ ستاسو دپاره به نه د تېښتې لاره وي
او نه د پناه ځای. ۳۶-۳۷ واورئ چې څنګه مشران له خفګانه چیغې
وهي او د قوم شپانه له غمه ژړا او انګولا کوي، ځکه چې څښتن په
خپل سخت قهر سره ستاسو قوم تباه او ستاسو ارام وطن یې په
کنډوالو باندې بدل کړی دی. ۳۸ څښتن خپل خلک داسې پرېښې
دي، لکه زمری چې خپل غار پرېږدي. د جنګ وېرې او د څښتن
سخت قهر دا وطن په دښته بدل کړی دی.»

# ارمیا د محاکمې دپاره راوستل کیږي

۱ د یوشیا د زوی یهویاقیم د پاچاهۍ په پیل کې، ۲ څښتن ما
ته داسې وویل: «زما د کور په حویلۍ کې ودرېږه او د هر څه په
هکله چې ما درته حکم کړی دی، هغه هغو خلکو ته چې د یهودا د
ټولو ښارونو نه دلته د عبادت دپاره راځي، اعلان کړه. یوه خبره هم


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

درخخه پاتې نه شي. ۳ کېدای شي چې خلک ورته غوږ ونيسي او خپلې بدې لارې پرېږدي. که هغوی داسې وکړل، نو زه به خپله اراده چې د هغوی د تباهۍ دپاره مې د هغوی د ټولو بدو کارونو له امله لرله، بدله کړم.»

۴ څښتن ما ته وويل چې خلکو ته ووايه: «که چېرې تاسو په هغه تعليم باندې چې ما درکړی دی، عمل ونه کړئ ۵ او زما د خدمتګارانو يعنې پيغمبرانو خبرو ته چې په دوامداره توګه مې تاسو ته درلېږلي دي غوږ ونه نيسئ، ۶ نو بيا به زه د دې عبادتځای سره داسې کار وکړم، لکه څنګه چې مې د شيلوه سره کړی ؤ او د نړۍ ټول قومونه به د دې ښار نوم د لعنت ويلو دپاره وکاروي.»

۷ ارميا چې د څښتن په کور کې کومې خبرې وکړلې هغه کاهنانو، پيغمبرانو او ټولو خلکو واورېدلې ۸ او څنګه چې ارميا هغه ټولې خبرې چې څښتن ورته حکم کړی ؤ خلاصې کړلې، هغوی ارميا ونيوه او چيغې يې کړې: «ته بايد د دې خبرو په خاطر ووژل شې! ۹ تا ولې د څښتن په نوم دا پېشګويي وکړه چې دا کور به د شيلوه په شان شي او دا ښار به تباه شي او هېڅوک به په کې نه


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اوسېږي؟» بیا ټول خلک د څښتن په کور کې د ارمیا نه راتاو شول.

۱۰ کله چې د یهودا مشران د دې پېښې نه خبر شول، هغوی په بیړه د شاهي ماڼۍ نه د څښتن کور ته لاړل او د دې کور په نوې دروازه کې په خپلو ځایونو کې د قضاوت دپاره کښېناستل. ۱۱ بیا کاهنانو او پیغمبرانو، مشرانو او نورو خلکو ته وویل: «د دې سړي سزا مرګ دی، ځکه چې تاسو په خپلو غوږونو واورېدل چې هغه د دې ښار په خلاف پېشګویي کړې ده.»

۱۲ بیا ارمیا ټولو مشرانو او خلکو ته وویل: «زه څښتن راولېږلم چې د دې عبادتځای او د دې ښار په ضد هغه ټولې خبرې وکړم چې تاسو واورېدلې. ۱۳ تاسو باید خپل چلند او عملونه اصلاح کړئ او د خپل څښتن خدای اطاعت وکړئ. که چېرې تاسو داسې وکړئ، نو هغه به خپله پرېکړه چې ستاسو د تباهۍ په هکله یې کړې وه، بدله کړي. ۱۴ خو زه ستاسو په اختیار کې یم! څه چې درته مناسب او ښه ښکاري زما سره یې وکړئ. ۱۵ خو که تاسو زه ووژلم، نو د یو بې‌ګناه سړي د وژلو مسوولیت به ستاسو او د دې ښار د اوسېدونکو په غاړه وي، ځکه چې څښتن په رښتیا زه


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

راولېږلم چې دا ټولې خبرې ستاسو غوږونو ته ورسوم.»

## د ارميا ژغورنه

۱۶ بيا مشرانو او نورو خلکو، کاهنانو او پيغمبرانو ته وويل: «دا
سړی بايد په مرګ محکوم نه شي، ځکه هغه مونږ ته زمونږ د څښتن
خدای په نوم خبرې کړې دي.»

۱۷ له هغې وروسته د قوم يو څو سپين‌ږيري راپاڅېدل او هغو
خلکو ته يې چې په هغه ځای کې راټول شوي وو، وويل: ۱۸ «کله
چې حزقيا د يهودا پاچا ؤ، نو د مورشيت پيغمبر ميکاه د يهودا ټولو
خلکو ته وويل چې مطلق قادر څښتن داسې ويلي دي:

د پټې په شان قلبه به شي صهيون

شي بدل به اورشليم په کنډوالو باندې

او په ځنګل باندې بدلې به شي


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۹ سپين‌ږيرو زياته کړه: ‹حزقيا پاچا او د يهودا خلکو ميکاه ونه
واژه، بلکې حزقيا د ښښتن درناوی کاوه او کوښښ يې کاوه چې د
هغه مهرباني لاسته راوړي. نو ښښتن هم خپله اراده بدله کړه او د
هغه مصيبت نه تېر شو چې غوښتل يې په هغوی باندې يې راولي.
اوس مونږ په خپل لاس لوی مصيبت په خپلو ځانونو باندې
راولو.›»

۲۰ د اوريا په نوم يو بل سړی چې د شمعي زوی ؤ او د
قريت‌يعاريم څخه ؤ، هغه هم د ارميا په شان د ښښتن په نوم د دې
ښار او قوم په خلاف پېشګويي کوله. ۲۱ کله چې يهوياقيم پاچا او د
هغه جنګيالي او درباريان خبر شول چې اوريا څه ويلي دي، پاچا
کوښښ وکړ چې هغه ووژني. خو اوريا د دې نه خبر شو او له وېرې
مصر ته وتښتېده. ۲۲ نو يهوياقيم پاچا د عکبور زوی الناتان د څو
نورو کسانو سره مصر ته ولېږل چې اوريا ونيسي. ۲۳ نو هغوی اوريا
بېرته يهوياقيم پاچا ته راوست. پاچا هغه په توره باندې وواژه او د
هغه مړی يې په عمومي هديره کې وغورځاوه.


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۴ خو په دې خاطر چې د شافان زوی اخيقام د ارميا څخه
ملاتړ کاوه، نو هغه خلکو ته ونه سپارل شو چې ووژل شي.

## ارميا د غويي جغ په خپله غاړه ږدي

۱ د يوشيا د زوی صدقيا د پاچا کېدلو نه لږه موده وروسته
څښتن ما ته داسې وويل: ۲ «د ځان دپاره يو جغ جوړ کړه او هغه
د څرمنې په تسمو باندې وتړه او په خپله غاړه يې کېږده. ۳ بيا د
ادوم، موآب، عمون، صور او صيدون پاچاهانو ته د هغوی د استازو
په وسيله چې اورشليم ته د صدقيا پاچا د ليدلو دپاره راغلي دي،
پيغام واستوه.» ۴ مطلق قادر څښتن يعنې د اسراييلو خدای ما ته
وويل چې استازي دې خپلو بادارانو ته ووايي چې څښتن داسې
وايي: ۵ «ما په خپل قوي مټ او ټول قدرت سره نړی، انسانان او
حيوانات چې د ځمکې په مخ ژوند کوي، پيدا کړل او هرچا ته چې
وغواړم هغه ورته ورکوم. ۶ زه هغه څوک يم چې دا ټول هېوادونه
مې د خپل خدمتګار د بابل د پاچا نبوکدنصر په اختيار کې ورکړي
دي او حتی ځنګلي حيوانات مې هم د هغه تابع کړي دي. ۷ ټول


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

قومونه به د هغه او د هغه د زوی او لمسي خدمت کوي، ترڅو د هغه د خپل قوم د سقوط وخت راورسيږي، نو بيا به ډېر قومونه او قدرتمند پاچاهان بابليان د ځان غلامان جوړ کړي.

٨ خو که چېرې کوم قوم يا کومه پاچاهي د نبوکدنصر حکومت ته تسليم نه شي، نو زه به په هغه قوم باندې د جنګ، لوږې او وبا په راوستلو باندې سزا ورکړم او اجازه به ورکړم، ترڅو نبوکدنصر هغه بيخي له منځه يوسي. ٩ خپلو پيغمبرانو يا هغو خلکو ته چې د دې دعوه کوي چې هغوی د فال کتلو، د خوبونو د تعبيرولو يا د جادوګرۍ په وسيله د راتلونکي په هکله پېشګويي کوي، غوږ مه نيسئ. هغوی ټول به تاسو ته وايي چې د بابل پاچا ته تسليم نه شئ. ١٠ خو هغوی دروغ وايي او که چېرې تاسو داسې دروغو ته غوږ ونيسئ، نو زه به مو د خپل وطن نه لېرې وشړم او تاسو به له منځه لاړ شئ. ١١ خو که کوم قوم د بابل پاچا ومني او د هغه خدمت وکړي، نو زه به هغه پرېږدم چې په خپل وطن کې پاتې شي، هلته ځمکه وکري او واوسيږي.» ما څښتن داسې ويلي دي.

١٢ ما همدا خبره د يهودا پاچا صدقيا ته هم وکړه: «د بابل پاچا


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ته تسلیم شه. د هغه او د هغه د خلکو خدمت کوه، نو ته به ژوندی
پاتې شې. ۱۳ ته او ستا خلک ولې په جنګ کې یا د لوږې یا وبا
باندې مړه شئ؟ څښتن ویلي دي د هر قوم سره به چې د بابل پاچا
ته تسلیم نه شي، همداسې کار کیږي. ۱۴ هغو پیغمبرانو ته غوږ مه
نیسئ چې تاسو ته وایي چې هغه ته مه تسلیمیږئ. هغوی تاسو ته
دروغ وایي. ۱۵ څښتن په خپله ویلي دي چې هغوی یې نه دي
لیږلي او هغوی تاسو ته د هغه په نامه دروغ وایي. نو هغه به تاسو او
هغه پیغمبران چې تاسو ته دا دروغ وایي، وشړي او ووژني.»

۱۶ بیا ما کاهنانو او خلکو ته وویل چې څښتن داسې ویلي دي:
«د خپلو پیغمبرانو خبرو ته غوږ مه نیسئ چې پېشګویي کوي او
وایي چې د څښتن د کور شیان به ډېر زر بېرته د بابل نه راوړل شي،
ځکه هغوی تاسو ته دروغ وایي. ۱۷ هغوی ته غوږ مه نیسئ! د بابل
د پاچا خدمت وکړئ، نو تاسو به ژوندي پاتې شئ! دا ښار ولې په
کنډوالو بدل شي؟ ۱۸ که چېرې هغوی په رښتیا سره پیغمبران وي او
زما د خوا نه یې پیغام اخیستی وي، نو پر پرېږدئ چې زما مطلق قادر
څښتن څخه پوښتنه وکړي چې دا اجازه ورنه کړم چې هغه شیان


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې د اورشلیم په عبادتځای او شاهي ماڼۍ کې پاتې دي، بابل ته
یووړل شي.»

۱۹–۲۰ مطلق قادر څښتن داسې وايي: «کله چې نبوکدنصر پاچا د
یهودا پاچا د یهویاقیم زوی یهویاکین او د یهودا او اورشلیم ټول
مشران بابل ته بوتلل، نو هغه فلزي ستنې، برنجي ټانکۍ، ګاډۍګانې
او نور سامان چې د څښتن په کور او ماڼۍ کې پاتې وو، د ځان سره
یونه وړل. ۲۱ څه چې زه مطلق قادر څښتن یعنې د اسراییلو خدای
د هغو شیانو په هکله چې په اورشلیم کې د څښتن په کور او شاهي
ماڼۍ کې پاتې دي وایم، هغو ته غوږ ونیسئ: ۲۲ ‹هغه به بابل ته
یووړل شي او هغه به تر هغه وخته پورې هلته پاتې وي، ترڅو زه
پرېکړه وکړم چې هغه بېرته اورشلیم ته راوړم.› ما څښتن داسې
وویل.»

## ارمیا او جعلي پیغمبر حننیا

۱ په هماغه کال د صدقیا د پاچاهۍ د څلورم کال په پنځمه


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

میاشت د عزور زوی حننیا چې د جبعون د ښار یو پیغمبر ؤ، د
څښتن په کور کې زما سره خبرې وکړې. هغه د کاهنانو او نورو
خلکو په حضور کې ما ته وویل ۲ چې مطلق قادر څښتن یعنې د
اسراییلو خدای داسې ویلي دي: «ما د بابل د پاچا د قدرت جغ
مات کړی دی. ۳ زه به په دوو کالو کې د څښتن د کور ټول شیان
چې نبوکدنصر پاچا بابل ته وړي وو، بېرته دې ځای ته راوړم. ۴
همدارنګه زه به د یهودا پاچا یهویاکین د یهویاقیم زوی د یهودا د
هغو ټولو خلکو سره چې بابل ته اسیران بېول شوي وو، بېرته راولم.
هو، زه به د بابل د پاچا د قدرت جغ مات کړم. زه څښتن داسې
وایم.»

۵ بیا ما د کاهنانو او هغو ټولو خلکو په حضور کې چې د
څښتن په کور کې ولاړ وو، حننیا ته وویل: ۶ «آمین! زه هیله لرم
چې څښتن به همداسې وکړي! زه په رښتیا سره دا هیله لرم چې هغه
به ستا پېشګویي رښتیا کړي او هغه به د څښتن د کور ټول شیان او
هغه ټول خلک چې د اسیرانو په توګه بېول شوي وو، د بابل نه بېرته
راولي. ۷ خو زه چې تا ته او دې خلکو ته څه وایم، هغو ته غوږ


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ونیسئ. ۸ زما او ستا نه مخکې ډېرو پخوانیو پیغمبرانو دا پېشګویي کړې وه چې په ډېرو قومونو او قدرتمندو پاچاهیو باندې به جنګ، لوږه او وبا راشي. ۹ خو کوم پیغمبر چې د سولې په هکله پېشګویي وکړي او د هغه پېشګویي رښتیا شي، نو خلک به هغه د رښتیني پیغمبر په څېر وپېژني او هغه پیغمبر به خدای رالېږلی وي.»

۱۰ بیا هغه وخت حننیا زما د غاړې نه جغ لېرې کړ او هغه یې ټوټې ټوټې کړ ۱۱ او د ټولو خلکو په حضور کې یې وویل: «ښښتن داسې وایي چې نبوکدنصر پاچا چې د ټولو قومونو په غاړو کې کوم جغ اچولی دی، هغه به په همدې ډول سره مات کړم او دا کار به په دوو کالو کې وکړم.» بیا زه د ښښتن د کور څخه روان شوم.

۱۲ څه موده وروسته ښښتن ما ته وویل: ۱۳ «لاړ شه او حننیا ته ووایه ښښتن داسې وایي چې تا د لرګي جغ مات کړ، خو هغه به د دې په ځای د اوسپنې جغ جوړ کړي. ۱۴ مطلق قادر ښښتن یعنې د اسراییلو خدای وایي چې هغه به د دې ټولو قومونو په غاړو کې د اوسپنې جغ واچوي او هغوی به د بابل د پاچا نبوکدنصر خدمت کوي. ښښتن ویلي دي چې زه به حتی ځنګلي حیوانات هم د


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نبوکدنصر پاچا په اختیار کې ورکړم.»

۱۵ په دې وخت کې ارمیا پیغمبر حننیا ته وویل: «ای حننیا غوږ
ونیسه، څښتن ته نه یې رالیږلی چې ته خلک دې ته مجبوروې
ترڅو ستا په دروغو باندې باور وکړي. ۱۶ نو له دې امله څښتن
داسې وایي چې زه به تا د ځمکې د مخ نه ورک کړم. ته به په همدې
کال کې مړ شې، ځکه چې تا خلک هڅولي دي چې د څښتن په
وړاندې سرکښي وکړي.»

۱۷ نو حننیا پیغمبر د هماغه کال په اوومه میاشت مړ شو.

## د بابل یهودیانو ته د ارمیا لیک

۱ ما کاهنانو، پیغمبرانو، د قوم پاتې مشرانو او هغو ټولو خلکو
ته چې نبوکدنصر پاچا د اورشلیم نه بابل ته د اسیرانو په توګه بېولي
وو، یو لیک ولیکه. ۲ ما دا لیک له هغې وروسته ولیکه چې کله
یهویاکین پاچا، د هغه مور، د ماڼۍ درباریان، د یهودا او اورشلیم
مشران، کسبګران او اهنګران د اسیرانو په توګه بېول شوي وو. ۳ ما


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

هغه لیک د شافان زوی العاسه او د حلقیا زوی جمریا ته چې د یهودا پاچا صدقیا د بابل پاچا نبوکدنصر ته لیږل، ورکړ. په هغه کې داسې لیکل شوي وو:

- ۴ مطلق قادر څښتن یعني د اسراییلو خدای هغو ټولو خلکو ته چې د هغه د ارادې سره سم نبوکدنصر پاچا د اورشلیم نه بابل ته د اسیرانو په توګه بېولي وو، وايي: ۵ «کورونه جوړ کړئ او په کې واوسېږئ. باغونه جوړ کړئ او حاصل يې وخورئ. ۶ ودونه وکړئ او د اولادونو خاوندان شئ. بیا پرېږدئ چې اولادونه مو ودونه وکړي، ترڅو هغوی هم اولادونه پیدا کړي. ستاسو شمېر باید زیات شي او کم نه شي. ۷ د هغو ښارونو د نېکمرغۍ دپاره کار وکړئ چې تاسو ورته د اسیرانو په توګه بېول شوي یئ. د هغو ښارونو په خاطر ما ته دعا وکړئ، ځکه که چېرې هغه نېکمرغه وي، نو تاسو به هم نېکمرغه یئ. ۸ زه مطلق قادر څښتن د اسراییلو خدای تاسو ته خبرداری درکوم چې هغه پیغمبران او نور خلک چې ستاسو سره اوسېږي او دعوه کوي چې د


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

راتلونکي په هکله پېشګويي کولای شي، هغوی مه پرېږدئ
چې تاسو وغولوي. د هغوی د خوبونو تعبير ته غوږ مه
نيسئ. ۹ هغوی زما په نوم تاسو ته دروغ وايي. ما هغوی نه
دي لېږلي. ما څښتن داسې ويلي دي.»
• ۱۰ څښتن داسې وايي: «کله چې د بابل د پاچاهۍ اويا کاله
پوره شي، نو زه به تاسو ته درشم او خپله وعده به پوره کړم
او تاسو به بېرته خپل وطن ته راولم. ۱۱ ځکه چې يوازې زه
په هغو پلانونو باندې پوهېږم چې ستاسو دپاره يې لرم.
داسې پلانونه چې تاسو ته به نېکمرغي راولي نه بدبختي،
داسې پلانونه چې تاسو ته د راتلونکي دپاره هيله پيدا کوي.
۱۲ بيا به تاسو بېرته ما ته راوګرځئ. تاسو به راشئ او ما ته
به دعا وکړئ او زه به ستاسو دعا قبوله کړم. ۱۳ کله چې ما
د زړه له اخلاصه ولټوئ، نو پيدا به مې کړئ. ۱۴ هو، زه وايم
چې تاسو به ما پيدا کړئ او تاسو ته به بېرته خپل جايداد
درکړم. تاسو به د هر وطن او هر هغه ځای نه چې ما ورته
شړلي وئ، راټول کړم او بېرته به مو هغه وطن ته راولم چې
ما ورڅخه اسيران کړي وئ. ما څښتن داسې ويلي دي.


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

• ١٥ تاسو ویلي دي چې ښبنتن په بابل کې مونږ ته پیغمبران راکړي دي. ١٦ نو د ښبنتن خبرو ته غوږ ونیسئ چې د هغه پاچا په هکله یې کوي چې د داود د اولادې څخه دی او د هغه په تخت باندې ناست دی او د هغو ټولو خلکو په هکله چې د اورشلیم په ښار کې اوسیږي، یعني ستاسو هغه وطنداران چې ستاسو سره بابل ته د اسیرانو په توګه نه دي بېول شوي. ١٧ مطلق قادر ښبنتن داسې وایي چې زه به په هغوی باندې جنګ، لوږه او وبا راولم او هغوی به د هغو خوسا شویو انځرو په شان کړم چې د خوړلو نه وي. ١٨ زه به هغوی په جنګونو، لوږې او وبا باندې ځوروم او د نړۍ ټول قومونه به د هغوی په لیدلو ووېریږي. هغوی چې هرځای ته وشړم، نو د هغوی سره چې څه کیږي د هغو په لیدلو به خلک لړزیږي او وېریږي. خلک به ورباندې ملنډې وهي او په هغوی باندې به لعنت وایي. ١٩ د هغوی سره به داسې کیږي، ځکه چې هغوی زما هغه پیغام چې هر وخت مې د خپلو خدمتګارانو پیغمبرانو په وسیله لیږلی دی، نه دی منلی. هغوی زما خبرو ته غوږ نه نیوه. ٢٠ ای هغو خلکو


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

چې د اورشليم نه مې بابل ته د اسيرانو په توګه لېږلي يئ،
زما خبرو ته غوږ ونيسئ.»

• ۲۱ مطلق قادر څښتن يعنې د اسرايیلو خدای د قولايا د
زوی اخاب او د معسيا د زوی صدقيا په هکله چې تاسو ته
د هغه په نوم دروغ وايي، داسې ويلي دي چې هغه به هغوی
د بابل پاچا نبوکدنصر ته په لاس ورکړي او هغه به هغوی
ستاسو په مخکې ووژني. ۲۲ هرکله چې هغه خلک چې د
اورشليم نه بابل ته د اسيرانو په توګه بېول شوي دي
وغواړي په چا باندې لعنت ووايي، نو هغوی به وايي:
«څښتن دې ستا سره داسې عمل وکړي لکه څنګه چې يې د
صدقيا او اخاب سره وکړ چې د بابل پاچا هغوی ژوندي په
اور باندې کباب کړي وو!» ۲۳ دا به د هغوی په قسمت کې
وي، ځکه چې هغوی په اسرايیلو کې د شرم څخه ډک
کارونه کړي دي، هغوی د خپلو ګاونډيانو د ښځو سره
زناګانې کړې دي او د څښتن په نوم يې دروغ ويلي دي. دا
د څښتن پيغام نه ؤ، هغه پوهيږي چې هغوی څه کړي دي او
هغه په خپله د دې شاهد دی. څښتن داسې ويلي دي.


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

# د شمعيا د دروغو ليکونه

۲۴-۲۵ مطلق قادر ښتن يعنې د اسراييلو خدای ما ته د نحلامي
شمعيا دپاره يو پيغام راکړ چې هغه په خپل نوم د اورشليم ټولو
خلکو او د معسيا زوی سفنيا کاهن او نورو ټولو کاهنانو ته ليکونه
لېږلي وو. هغه په دې ليکونو کې سفنيا ته ليکلي وو:

- ۲۶ «ښتن ته د يهوياداع په ځای کاهن ټاکلی يې او د اوس د
ښتن په کور کې مشر يې. دا ستا دنده ده چې کله هر لېونی
ووينې چې د پيغمبرۍ دعوه کوي، نو هغه بايد د لرګي په
کنده کې وتړې او په غاړه کې يې زولنې واچوې. ۲۷ نو تا
ولې دا کار د عناتوت د ارميا سره چې خلکو سره د پيغمبر
په توګه خبرې کوي، ونه کړ؟ ۲۸ بايد د هغه مخه ونيول شي،
ځکه چې هغه بابل ته زمونږ دپاره پيغام لېږلی دی چې مونږ
به تر ډېر وخته پورې هلته اسيران يو او بايد هلته کورونه
جوړ کړو، ترڅو په کې واوسېږو او باغونه جوړ کړو چې
حاصل يې وخورو.»


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۹ سفنیا هغه لیک ما ته ولوست ۳۰ او بیا څښتن ما ته وویل:
۳۱-۳۲ «دا پیغام چې د نحلامي شمعیا په هکله دی، هغه په بابل کې
ټولو اسیرانو ته ورسوه: ‹زه څښتن به شمعیا او د هغه ټولې اولادې
ته سزا ورکړم. ما هغه نه دی استولی، خو هغه تاسو ته داسې خبرې
کړې دي لکه هغه چې یو پیغمبر وي او تاسو یې مجبور کړي یئ
چې په دروغو یې باور وکړئ. ستاسو په منځ کې به د هغه اولاده نه
وي. هغه به ژوندی نه وي چې هغه ښه کارونه چې زه یې د خپلو
خلکو په حق کې کوم وګوري، ځکه چې هغه خلکو ته ویلي وو چې
زما په وړاندې سرکښي وکړي.›» ما څښتن داسې ویلي دي.

## د یهودا او اسراییلو سره د څښتن وعده

۱ د اسراییلو څښتن خدای ما ته داسې وویل: ۲ «ما چې څه
درته وویل هغه په یو کتاب کې ولیکه، ۳ ځکه چې هغه وخت
راروان دی چې زه به یوځل بیا د خپلو خلکو اسراییلو او یهودا
حالت ښه کړم. زه به هغوی بېرته هغه وطن ته راولم چې د هغوی
نیکونو ته مې ورکړی دی او هغوی به یوځل بیا هغه جایداد


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ونيسي.» ما ښبنتن داسې ويلي دي.

۴ ښبنتن د اسراييلو او يهودا د خلکو په هکله داسې وايي:

۵ ما اورېدلې ده چيغه د وېرې

اواز د وېرې، نه اواز د سولې

۶ اوس ودرېږئ او وکړئ فکر

ايا کولای شي يو نر چې ماشوم وزېږوي؟

نو زه بيا ولې وينم چې هر سړي ايښي لاسونه

خپله خېټه باندې

د هغې ښځې په شان چې پرې راغلی وي

درد د لنګون؟


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نو بیا ولې دی الوتی د هرچا رنګ؟

٧ افسوس! ده راروانه یوه داسې ورځ

چې مخکې داسې لیدل شوې نه ده

د سختۍ ورځې زما د قوم دپاره

خو دوی به وژغورل شي ورڅخه

٨ مطلق قادر څښتن داسې وايي: «کله چې هغه ورځ
راورسيږي، نو زه به د هغوی د غاړو جغ مات کړم او د هغوی زولنې
به ټوټې ټوټې کړم او هغوی به نور د پرديو خلکو غلامان نه وي. ٩
د دې په ځای به هغوی زما يعنې خپل څښتن خدای او د داود د
اولادې چې زه به يې د پاچاهۍ په تخت باندې کښېنوم، خدمت
کوي.»

١٠ مه ويرېږئ ای زما قومه


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

ونه وېرېږئ ای د اسراییلو خلکو

تاسو به خلاص کړمه زه د هغه لیرې وطن

هغه وطن نه چې اسیران یئ په کې

تاسو به راشئ خپل وطن ته بېرته او ارام ژوند به کوئ

تاسو به اوسئ خوندي او څوک به مو نه وېروي

11 تاسو سره یم او وبه ژغورمه تاسو

زه به تباه کړم هغه ټول قومونه

چې خواره کړي مې یئ تاسو د هغو په منځ کې

خو زه به نه کړمه تباه تاسې

تاسې به نه پرېږدمه چې لاړ شئ بې‌سزا


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

خو چې درکوم کله سزا تاسو ته

وي هغه به د انصاف له مخې

داسې ویلي دي ما څښتن

۱۲ څښتن وايي داسې خپل قوم ته

دي ناعلاجه زخمونه ستاسو

او پرهارونه مو رغيږي نه

۱۳ داسې څوک نشته

چې دفاع وکړي له تاسو

نشته مرحم ستاسو زخمو دپاره

نشته هيله د رغېدلو ستاسو


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۴ ټول عاشقانو دې هېر کړی يې ته

هغوی دې نه ساتې پروا

ما حمله وکړه په تا لکه دښمن په شان

ستا سزا وه ډېره سخته

ځکه چې ډېر دي ګناهونه ستا

او بدکارې ده ډېره زياته ستا

۱۵ نور شکايت مه کوه خپلو زخمونو نه

ځکه چې نشته دی علاج د هغو

داسې مې درکړه سزا

ځکه چې ډېر دي ګناهونه ستا


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او بدکاري ده ډېره زياته ستا

۱۶ خو اوس چې څوک تباه کوي تا شي به تباه هغوی

او اسيران به بوتلل شي ټول دښمنان ستا

څوک چې ظلم کوي تا باندې

وبه شي ظلم په هغوی باندې

چې لوټ کوي څوک تا

نو شي به لوټ هغوی

۱۷ تا به روغ کړم ببېرته

زه به جوړ کړمه زخمونه ستا

سره له دې چې دښمنان دې وايي


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

هېڅوک نه ګڼي صهيون نور خپل دوست

هېڅوک نه ساتي پروا د هغه

داسې ويلي دي ما څښتن

۱۸ څښتن وايي:

زه به راولم خپل قوم خپل وطن ته بېرته

او د دوی په هره کورنۍ باندې به رحم وکړم

اورشليم به شي اباد بېرته په خپلې غونډۍ

او د هغه ماڼۍ به بېرته راشي پخواني ځای ته

۱۹ هغه خلک چې اوسيږي هلته

وايي به د شکرګزارۍ سندرې



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغوی به چیغې وهي د خوشحالۍ نه

هغوی به کم نه شي زیات به شي شمېر د هغوی

هغوی به سپک نه شي سرلوړي به شي

۲۰ بېرته به راولم هغوی خپل پخواني حالت ته

او شي به جوړه یوځل بیا د دوی ټولنه په حضور کې
زما

سزا به ورکړم هغو ټولو ته چې کوي ظلم په هغوی
باندې

۲۱-۲۲ حکمران به د هغوی وي د خپل قوم څخه

او د دوی مشر به وي د خپلو خلکو څخه

کله چې زه هغه راوغواړمه نو راځي به هغه


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

ځکه نه شي کولای جرات

چې څوک راشي نابللی ما ته

هغوی به وي زما قوم

او زه به يم خدای د هغوی

داسې ويلي دي ما ښښتن

۲۳ ګورئ، د ښښتن سخت قهر د توفان په شان دی. هغه لکه د
يو هيبتناک ګرد باد په شان د بدکارانو په سرونو باندې لګېږي ۲۴ او
دا قهر به تر هغه وخته پورې سوړ نه شي، ترڅو د هغه مقصد پوره
شوی نه وي. په راتلونکي وخت کې به خلک په دې باندې پوه شي.

## خپل وطن ته د اسراييلو راستنېدل

۱ ښښتن داسې وايي: «يو وخت به راشي چې زه به د اسراييلو
د ټولو قبيلو خدای يم او هغوی به زما قوم وي. ۲ کوم خلک چې


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د مرګ نه خلاص شوي وو، ما په دښته کې هغوی ته برکت ورکړ.
کله چې د اسراییلو خلک د ارام کولو په ارمان وو، ۳ نو زه د لېرې
نه هغوی ته ورښکاره شوم. ای د اسراییلو خلکو، ما تل ستاسو سره
مینه کړې ده او تر ابده پورې به ستاسو سره وفادار پاتې شم. ۴ ای
ګرانه اسراییله، زه به یوځل بیا تاسو اباد کړم. تاسو به یوځل بیا
خپلې چمبې راواخلئ او د خوشحالۍ نه به ګډاګانې کوئ. ۵ تاسو
به یوځل بیا د سامرې په غونډیو باندې د انګورو باغونه جوړ کړئ
او هرچا چې دا باغونه جوړ کړل، نو مېوه به یې وخوري. ۶ هو،
داسې وخت راروان دی چې څوکیداران به د افرایم د غونډیو نه غږ
کوي، راځئ چې صهیون ته د خپل څښتن خدای حضور ته ورشو.»

۷ څښتن داسې وایي:

د اسراییلو قوم دپاره چې په قومونو کې دی

ډېر لوی قوم ووهئ چیغې

سندرې ووایئ د خوشحالۍ


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

سندرې ووايئ د ثنا او صفت

ښتنه وژغوره خپل قوم

خلاص کړه هغه خلک

چې پاتې شوي ژوندي

٨ زه به راولم شمال نه هغوی

او زه به راټول کړم هغوی

د دنیا له ډېر لیرې ځایونو څخه

د هغوی سره به راشي ړانده او ګوډان

امیدواره ښځې او هغه ښځې

چې پیدا کيږي يې ماشوم


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بېرته به راشي هغوی د لويې ډلې په شان

٩ کله چې راولم خپل قوم بېرته

نو راستانه به شي هغوی په ژړا

او دعاګانو باندې

هغوی به بوځم د اوبو ويالو ته

په هواره لاره چې ونه ښويېږي

زه اسراييلو ته يم لکه د پلار په شان

او افرايم دی زما مشر زوی ١٠ ښتن وايي:

ای قومونو، ما ته غوږ ونيسئ

او ورسوئ زما پيغام د بحيرو


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

لرې غاړو او جزيرو لره

خواره واره کړل ما خپل خلک

خو زه به يې راټول کړم بيا

او داسې به يې وساتمه

لکه شپون چې ساتي خپله رمه

١١ ما کړل ازاد د اسراييلو خلک

ومې ژغورل د يو قوم نه هغوی

چې ؤ قوي له دوی نه

١٢ هغوی به راشي او د خوشحالۍ نه

به سندرې وايي د صهيون غره باندې


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

او وي به خوشحاله هغوی زما په نېکۍ باندې

د غلو، شرابو او زيتونو د تېلو نعمتونو باندې

د پسونو او غويانو زياتېدلو باندې

هغوی به وي د هغه باغ په شان

چې ولري پرېمانه اوبه

او وي به پوره ټول احتياجونه د دوی

۱۳ نو ګډاګانې به کوي د خوشحالۍ نه پېغلې

او خوشحالي به کوي ځوان او زاړه

زه به ورکړم تسلي هغوی ته او کړم به بدل

د هغوی وير په خوشحالۍ باندې



Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

او د هغوی غم په خوشحالیو باندې

۱۴ زه به ماړه کړم کاهنان ښو خوراکونو باندې

او احتیاجونه به پوره زه د خپل قوم کړمه

داسې ویلي دي ما څښتن

## په اسراییلو باندې د څښتن رحم

۱۵ څښتن داسې وایي:

شولو راپورته یو اواز رامه کې

اواز د ویر او د سختې ژړا

ژاړي راحیل خپلو بچیو باندې

چې یې له لاسه دي ورکړي هغه


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

او نه مني تسلي

۱۶ ته ژړا بس کړه نوره

او پاکې کړه خپلې اوښکې

څه چې دې کړي اولادونو ته خپل

نه پاتې کيږي به بې‌اجره هغه

بېرته به راشي اولادونه ستا

د دښمنانو له وطنه څخه

۱۷ ستا د راتلونکي دپاره شته هيله

بېرته به راشي اولادونه ستا خپل هېواد ته

داسې ويلي دي ما ښښتن


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۸ زه يې اورم چې اسراييليان يې له خفګانه وايي

ای څښتنه، مونږه وو هغه خوسي په شان

چې روزل شوی نه وي

تا اطاعت کول رازده کړل مونږ ته

بېرته راوګرځوه مونږ خپل ځان ته

ای څښتن خدايه زمونږ

دې ته تيار يو مونږه چې وکړو تا ته رجوع

۱۹ مونږ ستا نه مخ واړاوه

خو وروسته شو پښېمانه

کله چې تا مونږ ته سزا راکړه


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مونږ له خفګانه وو نيولي خپل سرونه ښکته

مونږ شرمنده شو او رسوا شولو

ځکه چې مونږه د ځوانۍ وخت کې ګناه کړې وه

۲۰ زه ښښتن داسې وايم:

ای اسراییله، ته ګران زوی يې زما

داسې ماشوم چې راته ګران دی ډېر

که څه هم ستا په ضد کوم خبرې ډېر ډېر ځلې

خو په ډېره مينه کوم فکر زه د ستا په هکله

زړه به مې وي ستا سره او رحم به وکړم په تا

۲۱ اشارې ودروئ او کړئ په نښه لاره


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په کومه لاره چې يئ تللي تاسو

بېرته پيدا کړئ هغه

بېرته راوګرځئ ای د اسراييلو ګرانو خلکو

راستانه شئ بېرته خپلو ښارو ته

۲۲ زړه نازړه کېږئ به ترڅو ای بې‌وفا خلکو؟

ما پيدا کړي دي څه نوي ډول ډول شيان

لکه ځنګه چې ښځه کړي د خپل مېړه ساتنه

## د خدای د قوم راتلونکې نېکمرغي

۲۳ مطلق قادر ښښتن يعنې د اسراييلو خدای داسې وايي: «کله
چې زه خلک بېرته خپل وطن ته راولم، نو هغوی به يوځل بيا په
يهودا او د هغه په ښارګوټو کې وايي:


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## ښبنتن دې ورکړي برکت د اورشليم سپېڅلي غره ته

## هغه سپېڅلي ځاى ته چې په کې اوسي هغه

۲۴ په يهودا او د هغه په ښارګوټو کې به ښاري خلک، بزګران او
شپانه د خپلو رمو سره يوځاى اوسيږي. ۲۵ زه به ستومانه شويو
خلکو ته توان ورکړم او کوم خلک چې د لوږې له لاسه کمزوري
شوي دي، هغوى به په خوړو باندې ماړه کړم. ۲۶ نو بيا به هر يو
وايي: ‹ما ښه خوب وکړ او چې کله راپاڅېدم نو تر او تازه وم.›»

۲۷ زه ښبنتن داسې وايم: «هغه وخت راروان دى چې زه به د
اسراييلو او يهودا وطن د انسانانو او حيواناتو نه ډک کړم. ۲۸ لکه
څنګه چې مې هغوى له منځه يووړل، هغوى مې راچپه کړل، له پېښو
مې وغورځول، برباد مې کړل او هغوى مې خراب کړل، نو همداسې
به هغوى بېرته ودان او آباد کړم. ۲۹ کله چې هغه وخت راورسيږي،
نو خلک به نور داسې نه وايي:

غوره انګور مور او پلار وخوړل


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

خو خوله د اولادونو تروه شوه.

٣٠ خو وروسته به هرڅوک چې غوره انګور وخوري، نو په خپله د هغه خوله به تروه شي او هرڅوک به د خپلې ګناه په خاطر مړ کيږي.»

# نوی لوظ

٣١ څښتن وايي: «هغه ورځ به رارسيږي کله چې د اسراييلو او يهودا د خلکو سره نوی لوظ وکړم. ٣٢ خو دا لوظ به د هغه لوظ په شان نه وي چې د هغوی د نيکونو سره مې کړی ؤ. په هغه ورځ ما د هغوی لاسونه ونيول او د مصر څخه مې راوويستل، که څه هم ما د هغوی سره داسې مينه کوله لکه مېړه يې چې د خپلې ښځې سره کوي، خو هغوی زما لوظ مات کړ. ٣٣ هغه نوی لوظ چې زه به يې د هغوی سره کوم هغه به داسې وي: دا هغه لوظ دی چې زه به يې په راتلونکې کې د اسراييلو د خلکو سره وکړم. زه به خپل شريعت د هغوی په ذهنونو کې واچوم او د هغوی په زړونو کې به يې وليکم.


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

زه به د هغوی خدای یم او هغوی به زما قوم وي. ۳۴ نور به هغوی خپل ګاونډي او ورور ته دا تعلیم نه ورکوي او ورته به نه وايي چې څښتن وپېژنه، ځکه چې لوی او واړه ټول به ما پېژني. نو زه به د هغوی بدی او خطاګانې وبخښم او نور به د هغوی ګناهونه نه يادوم.»

۳۵ څښتن پيدا کړ لمر چې ورځ کړي رڼا

سپوږمۍ او ستوري چې شپه کړي رڼا

راولي هغه بحيره په څپو چې شورماشور جوړ کړي

د هغه نوم دی مطلق قادر څښتن

۳۶ هغه وعده کوي ترڅو دوام مومي نظام د طبیعت

تر هغې پورې به وي د اسراييلو قوم

۳۷ لکه چې څنګه اسمان اندازه کېدلی نه شي


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

او معلومېدلی نه شي بنیاد د ځمکې

داسې زه هم کولای نه شم

چې کړم رد د اسراییلو قوم

که څه هم هغوی کړي ګناهونه

څښتن ویلي داسې

۳۸ څښتن داسې وايي: «هغه وخت راتلونکی دی چې اورشلیم
به زما د ښار په توګه بیا ودان شي، د حننییل د برج نه لوېدیځ
خواته د کنج تر دروازې پورې ۳۹ او سرحدي کرښه د هغه ځای نه
لوېدیځ خواته د جارب تر غونډۍ پورې او بیا د جوعت خواته تاوه
شوې وي. ۴۰ ټوله دره چې مړي په کې ښخېږي او خزلې په کې
غورځول کېږي او په ختیځ کې د قدرون د درې پورې ټول پټي د
اسونو تر دروازې پورې به زما دپاره سپېڅلي وي. دا ښار به بیا
هېڅکله له منځه نه ځي او نه به ورانېږي.»


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# ارميا د کلابندۍ په وخت کې ځمکه په بيه اخلي

١ د يهودا د پاچا صدقيا د پاچاهۍ په لسم کال چې د بابل د
پاچا نبوکدنصر د پاچاهۍ د اتلسم کال سره برابر ؤ، ښښتن د ارميا
سره خبرې وکړې. ٢ په هغه وخت کې د بابل د پاچا لښکرو
اورشليم کلابند کړی ؤ او ارميا نبي د شاهي ماڼۍ د ساتونکو په
حوېلۍ کې بندي ؤ. ٣ صدقيا پاچا ارميا په هغه ځای کې بندي
کړی ؤ او په هغه باندې يې دا تور لګولی ؤ: «تا ويلي دي چې
ښښتن داسې وايي چې زه به د بابل پاچا ته اجازه ورکړم چې هغه
دا ښار ونيسي ٤ او صدقيا پاچا به ونه شي کولای چې د بابليانو
څخه وتښتي. هغه به خامخا د بابل پاچا ته تسليم کړای شي او د
هغه سره به مخامخ خبرې وکړي او هغه به په خپلو سترګو ووينې.
٥ صدقيا به د نبوکدنصر په امر بابل ته بوتلل شي او هغه به تر هغې
پورې هلته پاتې شي، ترڅو زه د هغه په هکله پرېکړه وکړم. که هغه
د بابليانو سره جنګ هم وکړي، خو هغه به بريالی نه شي.» ما
ښښتن داسې ويلي دي.


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

۶ ارميا وويل چې څښتن ما ته داسې وويل: ۷ «ستا د کاکا
شلوم زوی حنمييل به تا ته درشي او ستا نه به وغواړي چې د
بنيامين د سيمې په عناتوت کې د هغه پټی واخلې، ځکه چې ته د
هغه د ډېر نژدې خپلوانو څخه يې او حق لرې چې هغه د خپل ځان
دپاره واخلې. ۸ نو څنګه چې څښتن ويلي وو، زما د تره زوی
حنمييل ما ته د ماڼۍ حوېلۍ ته راغی او راته ويې ويل: ‹زما هغه
پټی چې په عناتوت او د بنيامين په سيمه کې دی په بيه واخله، ځکه
ته زما د نژدې خپلوانو څخه يې او دا حق لرې چې زما پټی په بيه
واخلې.› نو زه پوه شوم چې دا په رښتيا سره د څښتن خبره وه چې
ما ته يې کړې وه. ۹ ما هغه پټی د حنمييل نه واخيست او هغه ته
مې د هغه پټي بيه چې د سپينو زرو اوولس توټې کېدلې، ورکړې. ۱۰
ما قباله د شاهدانو په مخکې لاسليک کړه، مهر مې کړه، سپين زر
مې وتلل او ورته مې ورکړل. ۱۱ بيا مې د قبالې دواړه کاپيګانې چې
يوه هغه کاپي چې مهر شوې وه او د هغه شرطونه په کې ليکل شوي
وو او بله کاپي چې بې‌مهره او بې‌لاسليکه وه، له ځان سره
واخيستلې. ۱۲ هغه مې د حنمييل او هغو شاهدانو په حضور کې چې
په قبالې باندې يې لاسليک کړی ؤ او د هغو خلکو په حضور کې


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

چې د ماڼۍ په حوېلۍ کې ناست وو، باروک ته چې د نیریا زوی او
د محسیا لمسی ؤ، ورکړله. ١٣ ما د هغو ټولو په مخکې باروک ته
وویل: ١۴ مطلق قادر څښتن یعنې د اسراییلو خدای تا ته داسې
حکم کړی دی چې د قبالې دا دواړه کاپي‌ګانې چې یوه یې مهر شوې
او بله یې بې‌مهره او بې‌لاسلیکه ده، واخله او په منګي کې یې کېږده،
ترڅو د ډېرو کلونو دپاره وساتل شي. ١۵ ځکه مطلق قادر څښتن
یعنې د اسراییلو خدای داسې وایي چې یوځل بیا به خلک په دې
وطن کې کورونه، پټي او د انګورو باغونه په بیه واخلي.»

## د ارمیا دعا

١۶ وروسته له دې چې ما باروک ته د ځمکې قباله ورکړه، نو د
څښتن په حضور کې مې داسې دعا وکړه: ١٧ «ای څښتن تعالی، تا
په قوي مټ او ټول قدرت سره ځمکه او اسمان پیدا کړل، ستا دپاره
یو کار هم ستونزمن نه دی. ١٨ ته د زرګونو خلکو سره تلپاتې مینه
کوې، خو همدارنګه ته خلکو ته د هغوی د میندو او پلرونو د
ګناهونو په خاطر سزا ورکوې. ته لوی او قدرتمند خدای یې، ستا


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نوم مطلق قادر ښښتن دی. [۱۹] ته په خپل لوی حکمت سره پلانونه جوړوې او زورور کارونه کوې. خلک چې هر څه کوي، ته هغه وينې او هرچا ته د هغه د عمل سره سم اجر او يا سزا ورکوې. [۲۰] تا ډېر پخوا په مصر کې معجزې وښودلې او حيرانوونکي کارونه دې کړي دي او تر نن ورځې پورې هم دا کارونه په اسراييلو او هم په نورو ټولو خلکو کې کوې، ترڅو په هرځای کې مشهور شې. [۲۱] تا د خپل قوي متې او ټول قدرت څخه کار واخيست او زمونږ دښمنان دې وويرول او د معجزو په ښودلو او حيرانوونکو کارونو په کولو سره دې خپل قوم اسراييل د مصر نه راوويست. [۲۲] لکه څنګه چې تا د هغوی د نيکونو سره قسم خوړلی ؤ، هغوی ته دې دا غني او حاصلخېزه ځمکه ورکړه. [۲۳] خو کله چې هغوی دې وطن ته راغلل او د هغه ملکيت يې ترلاسه کړ، نو هغوی ستا حکمونه ونه منل او نه يې ستا د تعليم سره سم ژوند وکړ. تا چې هغوی ته د کومو کارونو کولو حکم کړی ؤ، هغوی يو کار هم ونه کړ. نو ځکه تا په هغوی باندې دا ټول مصيبتونه راوستل.

[۲۴] بابليانو د دې ښار د نيولو دپاره شاوخوا د خاورو ډېرۍ


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

جوړې کړې دي او د حملې دپاره تیاری نیسي. د جنګ، لوږې او وبا په سبب به دا ښار هغوی ته په لاس ورشي. څه چې تا ویلي وو هغه رښتیا شول او ته یې خپله وینې. ۲۵ خو بیاهم ای څښتن تعالی، سره له دې دا ښار نژدې دی چې بابلیان یې ونیسي، ستا د حکم سره سم ما هغه ځمکه د شاهدانو په حضور کې واخیستله.»

۲۶ بیا څښتن ما ته وویل: ۲۷ «زه د ټولو انسانانو څښتن خدای یم. زما دپاره هېڅ کار ستونزمن نه دی. ۲۸ نو زه څښتن داسې وایم چې زه دا ښار د بابل پاچا نبوکدنصر او د هغه لښکرو ته تسلیموم او هغوی به یې ونیسي ۲۹ او اور به ورته واچوي. هغوی به دا ښار د هغو کورونو سره وسوځوي چې په بامونو باندې یې د بعل بت ته خوشبويي سوځول کېدله او نورو خدایانو ته وربانديې د څښلو نذرانې تویول کېدلې او په دې کارونو باندې یې زه په قهر کړم. ۳۰ د اسراییلو او یهودا خلکو د خپل تاریخ د پیل نه زما په وړاندې تل بد کارونه کړي دي او د خپلو بدو کارونو په سبب یې زه په قهر کړی یم. ۳۱ د کومې ورځې نه چې دا ښار جوړ شوی دی، د دې ښار خلکو زه په قهر او غوسه کړی یم. نو ما دا پرېکړه وکړه چې دا ښار


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

تباه کړم. ۳۲ د هغو ټولو بدو کارونو په خاطر چې اسراييليانو يعنې د
اورشليم او يهودا خلکو، د هغوی پاچاهانو، مشرانو، کاهنانو او د
هغوی پيغمبرانو کړي دي، زه يې په قهر کړی يم. ۳۳ د دې په ځای
چې هغوی ما ته رجوع کړی وای، زما نه يې مخ اړولی دی. سره له
دې چې هغوی ته مې هر وخت تعليم ورکړی دی، هغوی زما خبرو
ته غوږ ونه نيوه چې څه زده کړي. ۳۴ هغوی خپل بتان چې زه
ورڅخه کرکه کوم، زما په کور کې ايښي دي او هغه ځای يې ناپاکه
کړی دی. ۳۵ هغوی د بن‌هنوم په دره کې د بعل دپاره د قربانۍ
ځايونه جوړ کړل چې د مولک بت ته خپل زامن او لورګانې قرباني
کړي. ما هغوی ته د دې کار حکم نه ؤ ورکړی او دا خبره زما په
ذهن کې هم نه وه ګرځېدلې چې هغوی به داسې کار وکړي او د
يهودا خلک به ګناهکار کړي.»

## يوه هيله منه وعده

۳۶ د اسراييلو څښتن خدای ما ته داسې وويل: «ای ارميا، خلک
وايي چې جنګ، لوږه او وبا به د دې سبب شي چې دا ښار د بابل


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پاچا په لاس سقوط وکړي. هغه څه چې زه يې زياتوم، ورته غوږ ونيسه. ۳۷ زه به خپل خلک د هغو ټولو هېوادونو نه چې د قهر او غضب په وخت کې مې هلته شړلي وو، راټول کړم او بېرته به يې دې ځای ته راولم او هغوی به پرېږدم چې دلته په امن کې ژوند وکړي. ۳۸ بيا به هغوی زما قوم وي او زه به يې خدای يم. ۳۹ زه به هغوی ته يو فکر ورکړم او په ژوند کې به ورته يو مقصد وټاکم چې هغوی به تل زما درناوی وکړي او دا کار به هم د هغوی په خير وي او هم د هغوی د اولادې په خير وي. ۴۰ زه به د هغوی سره يو داسې لوظ وکړم چې تر ابده پورې وي. زه به هېڅکله د هغوی سره نېکي کول پرېنږدم. زه به د هغوی په زړونو کې وېره راپيدا کړم، ترڅو هېڅکله له ما نه مخ وانه ړوي. ۴۱ هغوی ته به په برکت ورکولو سره خوشحاله شم او هغوی به د زړه له کومي او په وفادارۍ سره په دې وطن کې ځای په ځای کړم.»

۴۲ څښتن داسې وايي: «لکه څنګه چې مې په دې خلکو باندې دومره لوی مصيبت نازل کړ، همدا شان زه به هغوی ته هغه ټولې نېکمرغۍ ورکړم چې وعده مې ورسره کړې ده. ۴۳ خلک وايي چې


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دا وطن د دښتې په شان دی چې هلته نه انسانان اوسیږي او نه حیوانات او هغه به بابلیانو ته ورتسلیم کړای شي. خو یوځل بیا به په دې وطن کې ځمکې په بیه اخیستل کیږي. ۴۴ خلک به د بنیامین په سیمه کې، د اورشلیم په شاوخوا کلیو کې، د یهودا په ښارګوټو، د غرنیو سیمو په ښارګوټو، د غرونو د لمنو په ښارګوټو او د یهودا د جنوبي سیمې په ښارګوټو کې ځمکې په بیه اخلي او په قبالو باندې به د شاهدانو په حضور کې لاسلیک کیږي او مهر به ورباندې لګیږي. ځکه زه به دا وطن بېرته خپل قوم ته ورکړم.» ما څښتن داسې ویلي دي.

## د وطن د ابادولو دپاره یوه بله وعده

۱ په هغه وخت کې چې زه لا د ماڼۍ د ساتونکو په حویلۍ کې بندي وم، یوځل بیا ما ته د څښتن پیغام راغی. ۲ هغه څښتن چې ځمکه یې جوړه کړه، هغې ته یې شکل ورکړ او په خپل ځای کې یې ودروله، هغه ذات چې نوم یې څښتن دی، ما ته وویل: ۳ «زما څخه پوښتنه وکړه، نو زه به ځواب درکړم او تا ته به د هغو لویو او



Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

پټو رازونو په هکله خبرې وکړم چې تاسو ورباندې نه پوهېږئ. ۴
زه ښنبتن، د اسراییلو خدای داسې وایم چې د اورشلیم خلکو د
ښار کورونه او شاهي ماڼۍ راغورځولې ده، ترڅو د هغو د موادو
څخه د ښار دېوالونه ټینګ کړي او وکولای شي د دښمن د کلابندۍ
د خاورو د ډېریو او د حملې په وړاندې مقابله وکړي. ۵ د ښار
دفاع کوونکي به دباندې ووځي او د بابلیانو سره به وجنګېږي او
کورونه به د هغو خلکو د مړو نه ډک کړي چې زه یې د خپل قهر او
غضب له مخې وژنم. زه د دې ښار څخه خپل مخ اړوم، ځکه چې د
دې ښار خلکو ډېر بد کارونه کړي دي. ۶ خو زه به دا ښار بېرته
جوړ کړم او د هغه خلکو ته به شفا ورکړم. زه به هغوی د زیاتې
نېکمرغۍ او امن څخه برخمن کړم. ۷ زه به یهودا او اسراییل بیا
نېکمرغه کړم او هغوی به بیا داسې ودان کړم، لکه څنګه چې مخکې
وو. ۸ هغوی به د هغو ګناهونو څخه چې زما په وړاندې یې کړي
دي، پاک کړم او د هغوی ګناهونه او سرکښي به وبخښم. ۹ اورشلیم
به زما دپاره د خوشحالۍ، عزت او ویاړ سرچینه وي. کله چې د
نړۍ هر قوم د هغو ښو کارونو نه خبر شي چې زه یې د اورشلیم د
خلکو دپاره کوم او هغه ښار ته نېکمرغي راولم، نو هغوی به له


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وېرې نه ورپېښږي.»

١٠ څښتن داسې ووېل: «خلک وايي چې دا ځای د دښتې په
شان دی چې نه په کې انسانان اوسېږي او نه حيوانات. هغوی رښتيا
وايي چې د يهودا ښارونه او د اورشليم کوڅې خالي دي. نه په کې
انسانان شته او نه حيوانات. خو په دې ځايونو کې به تاسو يوځل بيا
١١ د خوشحالۍ او خوښۍ اوازونه او د ودونو په مېلو کې د ناوې او
زوم اوازونه واورئ. تاسو به د خلکو سندرې چې زما په کور کې يې
د شکرانې د نذرانو د راوړلو په وخت کې وايي، واورئ:

شکر ادا کړئ د مطلق قادر څښتن

ځکه چې نېک دی هغه

ده ابدي د هغه مينه

زه به دا وطن داسې نېکمرغه کړم، لکه څنګه چې مخکې ؤ.» ما
څښتن داسې ويلي دي.


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۲ مطلق قادر څښتن داسې وايي: «دا وطن چې اوس د يوې دښتې په شان دی او هېڅ انسان او حيوان په کې نه اوسېږي، يوځل بيا به د څرځايونو خاوند شي چې شپانه به په کې خپلې رمې څروي. ۱۳ د غرنيو سيمو په ښارګوټو، د غرونو د لمنو په ښارګوټو، د يهودا د جنوبي برخو په ښارګوټو کې، د بنيامين په سيمه کې، د اورشليم په شاوخوا کليو او د يهودا په ښارګوټو کې به شپانه يوځل بيا خپل پسونه وشمېري.» ما څښتن داسې ويلي دي.

## د داود سره د څښتن تلپاتې لوظ

۱۴ څښتن داسې وويل: «هغه وخت راتلونکی دی چې زه به خپله وعده چې د اسراييلو او يهودا د خلکو سره مې کړې ده، پوره کړم. ۱۵ په هغه وخت کې به زه د داود د اولادې څخه يو عادل پاچا وټاکم او هغه به د يوې ونې د څانګې په شان راشين شي. دا پاچا به په ټول وطن کې د عدل او انصاف له مخې کارونه وکړي. ۱۶ د يهودا او اورشليم خلک به وژغورل شي او هغوی به په سوله او ارامۍ کې ژوند کوي. دا ښار به د ‹څښتن زمونږ عدالت دی› په نوم


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

یادېږي. ۱۷ زه څښتن دا وعده کوم چې د داود د اولادې نه به تل
یو کس د اسراییلو پاچا وي ۱۸ او کاهنان به تل د لاویانو د قبیلې
څخه وي چې زما خدمت وکړي او ما ته سوځېدونکې قربانۍ، د
غلو دانو نذرانې او نورې قربانۍ وړاندې کړي.»

۱۹ څښتن ما ته وویل: ۲۰ «ما لوظ کړی دی چې شپه او ورځ
به په خپل ټاکلي وخت کې راځي او دا لوظ به هېڅکله نه ماتیږي.
۲۱ په همدې ډول ما د خپل خدمتګار داود سره لوظ کړی دی چې
د هغه د اولادې نه به تل یو کس پاچا وي او د لاویانو د قبیلې د
کاهنانو سره مې لوظ کړی دی چې هغوی به تل زما خدمت کوي او
دغه لوظونه به هېڅکله نه ماتیږي. ۲۲ زه به د داود د اولادې او د
لاوي د قبیلې د کاهنانو شمېر دومره زیات کړم چې د اسمان د
ستورو او د بحیرې د شګو په شان به د هغو شمېرل ناشوني وي.»

۲۳ څښتن ما ته بیا وویل: ۲۴ «ایا دې ته دې پام کړی دی چې
خلک وایي چې ما د اسراییلو او یهودا دوه کورنۍ چې ما غوره کړې
دي، پرېښي دي؟ نو په دې خاطر هغوی زما قوم ته په سپکه سترګه
ګوري او هغوی نور د یو قوم په توګه نه ګڼي. ۲۵ خو زه څښتن


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

داسې وایم چې د شپې او ورځې سره مې لوظ کړی دی او د ځمکې
او اسمان د څارنې دپاره مې یو قانون جوړ کړی دی. ۲۶ همدا شان
زه به په خپل لوظ باندې چې د یعقوب د اولادې او خپل خدمتګار
داود سره مې کړی دی، ټینګ ولاړ یم. زه به د داود د اولادې څخه
یو تن غوره کړم چې د ابراهیم، اسحاق او یعقوب په اولادې باندې
حکومت وکړي. زه به په خپل قوم باندې رحم وکړم او هغوی به
یوځل بیا نېکمرغه کړم.»

## د صدقیا دپاره پیغام

۱ په هغه وخت کې چې د بابل د پاچا نبوکدنصر لښکرو او د
هغه تر ولکې لاندې د نورو ټولو پاچاهیو او قومونو لښکرو په
اورشلیم او د هغه په شاوخوا ښارګوټو باندې حمله کوله، ښښتن زما
سره خبرې وکړې. ۲ د اسراییلو ښښتن خدای ما ته داسې وویل:
«لاړ شه او د یهودا پاچا صدقیا ته ووایه چې زه ښښتن به دا ښار د
بابل پاچا ته تسلیم کړم او هغه به ورته اور واچوي. ۳ ستا دپاره به
د تیښتې لاره نه وي، ته به هرومرو ونیول شې او هغه ته به


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وروسپارل شي. ته به د بابل پاچا په خپلو سترګو ووينې او په خپله
به ورسره خبري وکړې او بیا به ته بابل ته بوتلل شې. ۴ خو ای
صدقیا، د څښتن خبرو ته غوږ ونیسه چې ستا په هکله وايي: ‹ته به
په جنګ کې ونه وژل شې، ۵ بلکې ته به په ارامه مړ شې او لکه
څنګه به چې خلکو ستا د نیکونو چې پاچاهان وو، د ښخولو په
وخت کې خوشبويي سوځولې، نو همداسې به ستا دپاره هم
خوشبويي وسوځوي. هغوی به په تا باندې وير وکړي او وبه وايي
چې زمونږ پاچا مړ شو!› ما څښتن داسې ويلي دي.» ۶-۷ بيا ما ارميا
نبي دا پيغام په اورشليم کې صدقيا پاچا ته په هغه وخت کې ورکړ
چې د بابل پاچا په دې ښار باندې حمله کوله. دې لښکرو په
لاخيش او عزيقه باندې هم حمله کوله، دا یوازېني قوي ښارونه وو
چې نيول شوي نه وو.

## د غلامانو او وينځو د ازادولو د لوظ ماتول

۸-۹ صدقيا پاچا او د اورشليم خلکو لوظ کړی ؤ چې خپل
عبراني غلامان او وينځې به ازادوي او نور به هېڅوک د خپل


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اسراییلي ورور او خور ښځه غلام او وینځه نه جوړوي. ۱۰ ټولو
خلکو او د هغوی مشرانو د هغه امر ومانه چې خپل غلامان او
وینځې ازادې کړي او بیا به هېڅکله هغوی د غلامانو او وینځو په
توګه له ځان سره نه ساتي، نو هغوی یې ازاد کړل. ۱۱ خو وروسته
هغوی خپله پرېکړه بدله کړه او هغوی یې بېرته ونیول او دې ته یې
مجبور کړل چې بېرته د هغوی غلامان او وینځې شي. ۱۲-۱۳ بیا د
اسراییلو څښتن خدای ما ته وویل چې خلکو ته داسې ووایم: «کله
چې ما ستاسو نیکونه د مصر نه خلاص کړل او هغوی مې د غلامۍ
نه ازاد کړل، نو د هغوی سره مې لوظ وکړ. هغوی ته مې وویل چې
۱۴ هر عبراني غلام چې شپږ کاله یې ستاسو خدمت کړی دی، نو په
اووم کال به هغه ازادوئ. خو ستاسو نیکونو زما خبرو ته هېڅ پام
ونه کړ او نه یې ورته غوږ ونیوه. ۱۵ همدا څو ورځې مخکې تاسو
خپله پرېکړه بدله کړه او هغه کار مو وکړ چې زما په نظر کې سم ؤ.
تاسو ټولو دا ومنله چې خپل اسراییلي غلامان به خوشې کوئ او په
هغه عبادتځای کې چې زما په نوم وقف شوی دی، هلته تاسو زما په
حضور کې لوظ وکړ. ۱۶ خو تاسو بیا خپله پرېکړه بدله کړه او زما
بې‌عزتي مو وکړه. تاسو ټولو هغه غلامان یا وینځې چې ازادې یې


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

غوښتله، بېرته ونيول او هغوی مو بېرته په غلامۍ باندې مجبوره
کړل. ۱۷ نو اوس زه څښتن داسې وايم چې تاسو زما د حکم نه
سرغړونه وکړه، تاسو خپلو اسراييلي ورونو او خويندو ته ازادي ورنه
کړه. نو ډېره ښه ده، زه به تاسو ته ازادي درکړم، يعنې د مرګ ازادي
چې تاسو به په جنګ کې يا د وبا او يا د لوږې له لاسه مړه شئ. زه
چې په تاسو باندې کومه بلا نازله کړم، په هغه باندې به د نړۍ ټول
قومونه ووېروم. ۱۸-۱۹ د يهودا او اورشليم مامورينو، د ماڼۍ درباريانو،
کاهنانو او ټولو خلکو سره د خوسي د دوه ټوټو ترمنځ په تېرېدلو
سره چې هغوی حلال کړی او دوه ټوټې کړی يې ؤ، زما په حضور
کې يو لوظ وکړ. خو هغوی دا لوظ مات کړ او په خپلو شرطونو
باندې يې عمل ونه کړ. نو زه به د دې خلکو سره داسې چلند وکړم،
لکه څنګه چې هغوی د هغه خوسي سره کړی ؤ. ۲۰ زه به هغوی
خپلو دښمنانو ته چې غواړي هغوی ووژني، په لاس ورکړم او د
هغوی مړي به د مرغانو او ځنګلي حيواناتو د خوراک شي. ۲۱ زه
به همدارنګه د يهودا پاچا صدقيا او د هغه درباريان د هغوی دښمنانو
ته چې غواړي هغوی ووژني، ورتسليم کړم. هغوی به د بابل لښکرو
ته چې په تاسو باندې يې د حملې کولو نه لاس اخيستی دی،


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ورتسلیم کړم. ۲۲ زه به د بابل عسکرو ته حکم ورکړم او هغوی به
بېرته دې ښار ته راولم. هغوی به په دې ښار باندې حمله وکړي،
هغه به ونیسي او اور به ورته واچوي. زه به د یهودا ښارګوټې په
یوې داسې دښتې باندې بدل کړم چې هېڅوک به په کې نه
اوسیږي.» ما څښتن داسې ویلي دي.

# ارمیا او رکابیان

۱ په هغه وخت کې چې د یوشیا زوی یهویاقیم د یهودا پاچا ؤ،
څښتن ما ته وویل: ۲ «د رکابیانو طایفې ته ورشه او د هغوی سره
خبرې وکړه. بیا هغوی زما د کور یوې کوټې ته راوله او شراب ورته
ورکړه.» ۳ نو د رکابیانو ټوله طایفه یعنې یازنیا، د یو بل ارمیا زوی
او د حبصنیا لمسی او د هغه ټول ورونه، زامن او د رکابیانو ټوله
طایفه مې له ځان سره ۴ د څښتن کور ته بوتلل. هغوی مې د
یجدلیا د زوی حانان نبي د شاګردانو کوټې ته بوتلل. دا کوټه د نورو
مامورینو د کوټو سره نژدې وه او د شلوم د زوی معسیا د کوټې
دپاسه وه، هغه د څښتن د کور د دروازو ساتونکی ؤ. ۵ بیا ما د


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شرابو ډک جامونه او پیالې د رکابیانو په مخکې کېښودلې او هغوی ته مې وویل چې شراب وڅښي. ۶ خو هغوی په ځواب کې وویل: «مونږ شراب نه څښو. زمونږ نیکه یوناداب د رکاب زوی مونږ ته ویلي دي چې مونږ او زمونږه اولاده باید هېڅکله شراب ونه څښو. ۷ همدارنګه هغه مونږ ته ویلي دي چې نه به کورونه جوړوئ او نه به ځمکه کرئ، نه به د انګورو باغونه جوړوئ او نه به یې اخلئ. هغه مونږ ته امر کړی دی چې تل په خېمو کې اوسېږئ، ترڅو په هغه وطن کې چې تاسو په کې د پردیو خلکو په توګه اوسېږئ، زیات عمر ولرئ. ۸ زمونږ نیکه یوناداب چې مونږ ته کوم امرونه کړي وو، په هغو ټولو باندې مونږ عمل کړی دی. مونږ هېڅکله نه خپله شراب څښو او نه زمونږ ښځې، نه زمونږ زامن او نه زمونږ لورګانې شراب څښي. ۹-۱۰ مونږ د اوسېدلو دپاره کورونه نه جوړوو، مونږ په خېمو کې اوسېږو. مونږ نه د انګورو باغونه لرو، نه ځمکې لرو او نه فصلونه لرو. د هر څه په هکله چې زمونږ نیکه یوناداب مونږ ته امر کړی دی، په هغو باندې مو په پوره توګه عمل کړی دی. ۱۱ خو کله چې نبوکدنصر په وطن باندې حمله وکړه، نو مونږ دا پرېکړه وکړه چې اورشلیم ته راشو، ترڅو د بابلیانو او سوریایانو


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

لښکرو د حملې نه خوندي واوسو. نو څکه مونږ په اورشليم کې
اوسېږو.»

۱۲-۱۳ بيا مطلق قادر څښتن يعنې د اسراييلو خدای ما ته وويل
چې لاړ شه او د يهودا او اورشليم خلکو ته ووايه چې زه څښتن
ستاسو نه پوښتنه کوم چې تاسو ولې زما خبرو ته غوږ نه نيسئ او
زما لارښوونو ته غاړه نهږدئ. ۱۴ د يوناداب اولادې د هغه امر
منلی دی چې شراب به نه څښئ او تر نن ورځې پورې هغوی
شراب نه دي څښلي. خو ما ستاسو سره څو څو ځلې خبرې کړې
دي، خو تاسو زما خبرې نه منئ. ۱۵ ما تاسو ته په دوامداره توګه
خپل خدمتګاران يعنې نبيان درلېږلي دي او هغوی تاسو ته ويلي دي
چې خپلې بدې لارې پرېږدئ او خپل عملونه سم کړئ. هغوی تاسو
ته خبرداری درکړی ؤ چې د نورو خدايانو عبادت او خدمت مه
کوئ، ترڅو په هغه وطن کې چې تاسو او ستاسو نيکونو ته مې
ورکړی دی، خپل ژوند وکړئ. خو تاسو ما ته غوږ نه نيوه او نه مو
راته پام کاوه. ۱۶ د يوناداب اولادې د خپل نيکه په امرونو باندې
عمل کړی دی، خو تاسو زما اطاعت ونه کړ. ۱۷ نو اوس زه مطلق


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

قادر څښتن یعنې د اسراییلو خدای داسې وایم چې زه به د یهودا او اورشلیم په خلکو باندې هغه ټول مصیبتونه راولم چې د هغوی په ضد مې اعلان کړي وو. زه دا کار ځکه کوم چې کله به ما ستاسو سره خبرې کولې، نو تاسو ورته غوږ نه نیوه او کله چې به ما په تاسو باندې غږ کاوه، تاسو به ځواب نه راکاوه.

١٨ بیا ما ارمیا د رکابیانو طایفې ته وویل چې مطلق قادر څښتن یعنې د اسراییلو خدای ویلي دي: «تاسو په هغو حکمونو باندې عمل کړی دی چې ستاسو نیکه یوناداب تاسو ته درکړي وو او د هغه د لارښوونو څخه مو پیروي کړې ده او هر څه چې هغه درته امر کړی دی، هغه مو سرته رسولي دي. ١٩ نو په دې خاطر زه مطلق قادر څښتن یعنې د اسراییلو خدای دا وعده کوم چې یوناداب به تل نارینه اولادونه ولري چې زما خدمت وکړي.»

# باروک د څښتن په کور کې طومار لولي

١ د یهودا د پاچا د یوشیا زوی یهویاقیم د پاچاهۍ په څلورم


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کال ښبنتن ما ته وویل: ۲ «یو طومار راواخله او هغه شیان چې ما
د اسراییلو او یهودا او ټولو قومونو په ضد درته ویلي وو، په هغه
باندې ولیکه. د یوشیا د پاچاهۍ په وخت کې کومې خبرې چې مې
د لومړي ځل نه تر اوسه پورې کړې دي، هغه ټولې ولیکه. ۳
کېدای شي چې کله د یهودا خلک د هغه مصیبت نه خبر شي چې
زه غواړم په هغو باندې یې راولم، د خپلو بدو لارو نه راوګرځي، نو
بیا به زه د هغوی بدۍ او ګناهونه وبخښم.»

۴ نو ما د نیریا زوی باروک راوغوښت او هر څه چې ښبنتن ما
ته ویلي وو، هغه ته مې وویل چې ویې لیکي او باروک هغه په
طومار باندې ولیکل. ۵ بیا ما باروک ته وویل: «ما ته نوره اجازه
نشته چې د ښبنتن کور ته ورننوځم. ۶ خو په هغه ورځ چې خلک
روژه نیسي، ته باید هلته لاړ شې او هغه طومار په لوړ اواز سره
ولولې، ترڅو هغه څه چې ښبنتن ما ته ویلي وو او تا لیکلي دي،
هغوی یې واوري. دا په داسې ځای کې ولوله چې ټول خلک چې په
هغو کې د یهودا خلک چې د خپلو ښارګوټو نه راغلي دي، هم شامل
وي او هغه واوري. ۷ کېدای شي چې هغوی ښبنتن ته دعا او


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زاري وکړي او د خپلو بدو لارو نه راوګرځي، ځکه چې څښتن
خبرداری ورکړی دی چې د خپل قهر او غضب سره به دې خلکو ته
ډېره سخته سزا ورکړي.» ۸ نو لکه څنګه چې ما ورته ويلي وو،
باروک هماغه شان د څښتن په کور کې د څښتن کلام ولوست.

۹ د يهودا د پاچا يهوياقيم د پاچاهۍ د پنځم کال په نهمه
مياشت د اورشليم خلکو او هغو خلکو چې د يهودا د ښارګوټو نه
راغلي وو، د څښتن په حضور کې روژه ونيوله. ۱۰ نو په داسې حال
کې چې ټولو خلکو ورته غوږ نيولی ؤ، باروک هغه ټول شيان چې ما
ورته ويلي وو، هغه يې د دربار د منشي شافان د زوی جمريا په
کوټه کې چې په پاسنۍ حويلۍ کې وه او د څښتن د کور نوې
دروازې ته نژدې وه، د طومار له مخې خلکو ته ولوستل.

## درباريانو ته طومار لوستل کيږي

۱۱ کله چې د شافان لمسي او د جمريا زوی ميکايا د څښتن
ټولې خبرې چې باروک د طومار له مخې وکړې واورېدلې، ۱۲ نو


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

هغه شاهي ماڼۍ ته د دربار د منشي کوټې ته چې درباريانو په کې
غونډه لرله، لاړ. د دربار منشي اليشمع، د شمعياه زوی دلايا، د
عکبور زوی الناتان، د شافان زوی جمريا، د حننيا زوی صدقيا او
نور ټول درباريان هم هلته ناست وو. ۱۳ ميکايا هغه ټولې خبرې
چې باروک د طومار نه خلکو ته لوستلې وې، هغوی ته بيان کړې.
۱۴ نو درباريانو د يهودي په نوم يو کس چې د کوشي کړوسی، د
شلميا لمسی او د نتنيا زوی ؤ، ولېږه چې د نيريا زوی باروک ته
ووايي چې هغه طومار چې خلکو ته يې لوستلی ؤ، راوړي. نو
باروک د طومار سره ورغی. ۱۵ هغوی ورته وويل چې کښېنه او
هغه طومار مونږ ته ولوله. نو باروک هغه ولوست. ۱۶ کله چې هغوی
هر څه واورېدل، نو له وېرې نه يې يو بل ته وکتل او باروک ته يې
وويل: «مونږ بايد د دې ټولو شيانو په هکله پاچا ته راپور ورکړو.»
۱۷ بيا هغوی ورځخه پوښتنه وکړه: «اوس مونږ ته ووايه چې تا دا
ټولې خبرې څنګه د هغه د خولې نه وليکلې؟ ايا ارميا تا ته ويلې وو
چې دا وليکه؟» ۱۸ باروک په ځواب کې وويل: «ارميا هغه ټکي په
ټکي ما ته وويل او ما په رنګ په طومار باندې وليکل.»


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

۱۹ بیا هغوی باروک ته وویل: «ته او ارمیا لاړ شئ، خپل ځانونه
په یو ځای کې پټ کړئ او هېڅوک دربانديې پوه نه شي چې تاسو
چېرته يئ.»

## پاچا طومار سوځوي

۲۰ درباريانو هغه طومار د دربار د منشي اليشمع په کوټه کې
کېښود او د پاچا دربار ته لاړل چې د دې ټولو شيانو څخه پاچا
خبر کړي. ۲۱ نو پاچا د يهودي په نوم يو کس ولېږه چې هغه طومار
راوړي. هغه طومار د اليشمع د کوټې نه راوړ او هغه يې پاچا او هغو
ټولو درباريانو ته چې د هغه شاوخوا ته ولاړ وو، ولوست. ۲۲ دا
ژمی ؤ او پاچا د خپلې ماڼۍ په هغې کوټې کې اور ته ناست ؤ چې د
ژمي په موسم کې هلته اوسېده. ۲۳ کله چې يهودي د طومار درې يا
څلور برخې لوستلې، نو پاچا به هغه په خپل کوچني چاقو باندې
شکولې او اور ته به يې ورغورځولې، ترڅو هغه ټول طومار
وسوځېده. ۲۴ خو نه پاچا او نه د هغه کوم درباري د دې خبرو په
اورېدلو وويرېدل او نه يې له خفګانه خپل کالي وشکول. ۲۵ که څه


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هم الناتان، دلایا او جمریا پاچا ته زارۍ وکړې چې هغه طومار ونه
سوځوي، خو هغه یې پروا ونه کړه. ۲۶ بیا پاچا شهزاده یرحمییل، د
عزرییل زوی سرایا او د عبدییل زوی شلمیا ته امر وکړ چې باروک
منشي او ارمیا پیغمبر ونیسي، خو څښتن هغوی پټ ساتلي وو.

## ارمیا یو بل طومار لیکي

۲۷ له هغې وروسته چې یهویاقیم پاچا هغه طومار چې ما باروک
ته ویلي وو چې هغه ولیکي وسوځاوه، څښتن ما ته وویل: ۲۸ «یو
بل طومار راواخله او کوم شیان چې دې په لومړني طومار کې لیکلي
وو، هغه په دې طومار باندې بیا ولیکه.» ۲۹ څښتن ما ته وویل چې
پاچا ته ووایم: «تا طومار وسوځاوه او د ارمیا نه دې پوښتنه وکړه
چې داسې دې ولې لیکلي دي چې د بابل پاچا به راشي، دا وطن به
وران کړي او خلک او حیوانات به یې ووژني. ۳۰ نو اوس ای
یهویاقیم پاچا، زه څښتن تا ته وایم چې نور به ستا د نسل نه
هېڅوک هم د داود د پاچاهۍ په تخت باندې حکومت ونه کړي. ستا
مړی به دباندې وغورځول شي، ترڅو د ورځې له خوا لمر ته او د


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شپې له خوا يخنۍ ته پروت وي. ۳۱ زه به تا ته، ستا اولادې او ستا
درباريانو ته ستاسو د ګناهونو په سبب سزا درکړم. نه تاسو او نه د
اورشليم او يهودا خلکو زما د خبرداريو پروا وساتله، نو زه به په
تاسو باندې هغه ټول مصيبتونه چې ما ويلي وو، راولم.»

۳۲ بيا ما يو بل طومار راواخيست او هغه مې خپل منشي باروک
ته ورکړ او هر هغه څه چې په لومړني طومار باندې يې ليکلي وو
هغه يې بيا وليکل او نور شيان يې هم په کې اضافه کړل.

## د ارميا شخه د صدقيا غوښتنه

۱ د بابل پاچا نبوکدنصر د يوشيا زوی صدقيا د يهوياقيم د زوی
يهوياکين په ځای د يهودا پاچا وټاکه. ۲ خو نه صدقيا، نه د هغه
درباريانو او نه نورو خلکو هغه پيغام چې څښتن ما ته راکړی ؤ،
قبول کړ.

۳ صدقيا پاچا د شلميا زوی يهوکل او د معسيا زوی سفنيا
کاهن ما ارميا ته راولېږل، ترڅو د خپل قوم په خاطر خپل څښتن


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خدای ته دعا وکړم. ۴ په هغه وخت کې لا زه بندي شوی نه وم او
په ازاده توګه مې کولای شول چې د خلکو په منځ کې وګرځم. ۵ د
بابلیانو لښکرو اورشلیم کلابند کړی ؤ، خو کله چې هغوی خبر شول
چې د مصر لښکرې د مصر د سرحد نه راتېرې شوې دي، نو هغوی
بېرته په شا شول.

۶ نو بیا د اسراییلو څښتن خدای ما ته داسې وویل: ۷ «صدقیا
ته یعنې چا چې ته ما ته رالېږلی یې چې زما نه پوښتنه وکړې، ووایه
چې د مصریانو لښکرې راروانې دي چې ستا سره مرسته وکړي، خو
هغوی به بېرته مصر ته ستانه شي. ۸ نو بابلیان به بېرته راشي او په
ښار باندې به حمله وکړي، هغه به ونیسي او هغه ته به اور واچوي.
۹ زه څښتن تاسو ته خبرداری درکوم چې خپل ځانونه مه غولوئ
او داسې فکر مه کوئ چې بابلیان بېرته نه راځي، ځکه چې هغوی
بېرته راځي. ۱۰ که تاسو د بابلیانو ټول لښکر ته ماتې هم ورکړئ او
د هغوی نه په خپلو خېمو کې یوازې زخمیان هم پاتې وي، خو د
هغوی زخمیان به هم راپاڅېږي او دې ښار ته به اور واچوي.»


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

# د ارمیا نیول او بندي کېدل

۱۱ د بابلیانو لښکر د اورشلیم نه بېرته په شا لاړ، ځکه چې د
مصریانو لښکر رانژدې کېده. ۱۲ نو زه د اورشلیم نه روان شوم چې
د بنیامین سیمې ته لاړ شم او د خپلې کورنۍ په جایداد کې خپله
برخه واخلم. ۱۳ خو کله چې زه د بنیامین دروازې ته ورسېدم، نو د
هغه ځای د ساتونکو مشر چې یریيا نومېده او هغه د حننیا لمسی او
د شلمیا زوی ؤ، زه ودرولم او راته ویې ویل: «ته بابلیانو ته
ورتښتې!»

۱۴ ما ورته په ځواب کې وویل: «دا دروغ دي! زه نه تښتم.» خو
یریيا ما ته غوږ ونه نیوه، هغه زه ونیولم او درباریانو ته یې بوتلم. ۱۵
هغوی په ما باندې سخت په قهر شول او امر یې وکړ چې زه دې
ووهل شم او د دربار د منشي یوناتان په کور کې دې چې زندان
ورڅخه جوړ شوی ؤ، بندي کړای شم. ۱۶ زه یې د زندان په یوې
لاندېنۍ کوټه کې واچولم او تر ډېر وخته پورې یې هلته وساتلم.

۱۷ څه موده وروسته صدقیا پاچا زه راوغوښتلم او هلته په ماڼۍ


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کې يې ما ته پټ وويل: «ايا تا سره د څښتن له خوا کوم پيغام شته؟»

ما په ځواب کې ورته وويل: «هو شته، هغه دا چې ته به د بابل پاچا ته ورتسليم شې.»

١٨ بيا ما پوښتنه وکړه: «ما ستا يا ستا د درباريانو او يا د دې خلکو په وړاندې کوم جرم کړی دی چې زه مو په زندان کې اچولی يم؟ ١٩ ستاسو هغه پيغمبران څه شول چې تاسو ته به يې ويل چې د بابل پاچا به نه په تاسو او نه په دې وطن باندې حمله کوي؟ ٢٠ نو اوس ای اعليحضرته، زه تاسو ته سوال کوم چې ما ته غوږ ونيسئ. مهرباني وکړئ ما بېرته هغه زندان ته چې د يوناتان په کور کې دی، مه لېږئ. که ما ولېږئ، نو زه به بې له شکه هلته مړ شم.»

٢١ نو صدقيا پاچا امر وکړ چې زه دې د ماڼۍ د ساتونکو په حويلۍ کې بندي کړای شم. زه هلته پاتې شوم او هره ورځ به راته د نانوايي نه يوه ډوډۍ راکول کېدله تر هغې چې په ښار کې ټولې ډوډۍ خلاصې شوې.


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

# ارميا د اوبو په وچه ذخيره کې

١ د متان زوی شفطيا، د فحشور زوی جدليا، د شلميا زوی
يوکل او د ملکيا زوی فحشور واورېدل چې ما خلکو ته ويل چې
٢ څښتن داسې ويلي دي: «هرڅوک چې په اورشليم کې پاتې شي،
نو هغه به د جنګ، لوږې او وبا له لاسه مړ شي. خو هرڅوک چې
ووځي او خپل ځانونه بابليانو ته تسليم کړي، نو هغوی به ونه وژل
شي. هغوی به لږ تر لږه وکولای شي چې خپل ژوند وژغوري.» ٣
ما هغوی ته دا هم وويل چې څښتن داسې ويلي دي: «دا ښار به په
يقين سره د بابليانو لښکرو ته تسليم شي او هغوی به دا ښار
ونيسي.»

٤ نو بيا درباريان پاچا ته ورغلل او ورته ويې ويل: «دا سړی
بايد خامخا ووژل شي. ځکه چې د هغه په دې خبرو د ښار عسکر
او هغه خلک چې په ښار کې پاتې دي، خپل جرات له لاسه
ورکوي. هغه نه غواړي چې د خلکو سره مرسته وکړي، بلکې هغه
يوازې دا غواړي چې هغوی ته زيان ورسوي.» ٥ صدقيا پاچا په


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځواب کې ووېل: «ډېر ښه، نو څه چې مو خوښه وي ورسره ويې
کړئ، زه مو منع کولای نه شم.» ۶ نو هغوی زه بوتلم او د ملکيا
شاهزاده د اوبو په ذخيره کې چې د ماڼۍ په حوېلۍ کې وه، په پړي
باندې ورښکته کړم. په هغې ذخيره کې اوبه نه وې، يوازې خټې په
کې وې او زه په کې ډوب شوم.

۷ خو عبدملک ايتوپيايي چې په شاهي ماڼۍ کې يې کار کاوه،
خبر شو چې هغوی زه د اوبو په ذخيره کې اچولی يم. په هغه وخت
کې پاچا د بنيامين په دروازه کې په محکمه کې ناست ؤ. ۸ نو
عبدملک د ماڼۍ څخه ووت، هلته ورغی او پاچا ته يې ووېل: ۹
«اعليحضرته، دې خلکو غلط کار کړی دی. هغوی ارميا د اوبو په
ذخيره کې بندي کړی دی او هغه به هلته له لوږې مړ شي، ځکه چې
په ښار کې نوره ډوډۍ نشته.» ۱۰ نو پاچا عبدملک ته امر وکړ چې
دېرش تنه له ځان سره واخلي او مخکې له دې چې زه مړ شم ما د
اوبو د ذخيرې نه راوباسي. ۱۱ نو عبدملک د هغو کسانو سره د ماڼۍ
ګودام ته ورغی، څه زاړه کالي يې راواخيستل او په رسۍ باندې يې
ما ته راښکته کړل. ۱۲ هغه راته ووېل چې دا زاړه کالي د خپلو


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تخرګونو لاندې کېږدم چې په هغې رسۍ باندې زخمي نه شم. نو ما همداسې وکړل ۱۳ او هغوی زه د اوبو د ذخیرې نه راوویستلم. له هغې وروسته یې زه د ماڼۍ د ساتونکو په حوېلۍ کې بندي وساتلم.

## صدقیا د ارمیا څخه مشوره غواړي

۱۴ یوه ورځ صدقیا پاچا زه راوغوښتم او زه یې د څښتن د کور د درېمې دروازې خولې ته راوستلم او ما ته یې وویل: «زه ستا نه یوه پوښتنه کوم او ستا نه غواړم چې ټول حقیقت راته ووایې.» ۱۵ ما ورته په ځواب کې وویل: «که زه درته رښتیا ووایم، نو ته به ما مړ کړې او که چېرې زه درته مشوره درکړم، نو ته به ورته غوږ ونه نیسې.» ۱۶ نو صدقیا پاچا زما سره پټه وعده وکړه او ویې ویل: «زه د ژوندي څښتن په نوم چې مونږ ته یې ژوند رابخښلی دی، قسم خورم چې زه به تا ونه وژنم او نه به دې هغو خلکو ته په لاس ورکړم چې غواړي تا ووژني.»

۱۷ بیا ما صدقیا ته وویل چې مطلق قادر څښتن یعني د اسراییلو


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خدای داسې ویلي دي: «که چېرې خپل ځان د بابل د پاچا
منصبدارانو ته تسلیم کړې، نو ژوندی به پاتې شې او دا ښار به هم
ونه سوځول شي. ته او ستا کورنۍ دواړه به ژوندي پاتې شئ. ۱۸
خو که چېرې تسلیم نه شې، نو ښار به بابلیانو ته ورتسلیم کړای
شي، هغوی به ورته اور واچوي او ته به د هغوی نه خلاص نه شې.»

۱۹ خو پاچا په ځواب کې وویل: «زه د خپلو وطندارانو نه چې
لاپخوا د هغوی سره یوځای شوي دي، وېرېږم. کېدای شي چې
هغوی ته مې په لاس ورکړي او زما سره بد چلند وکړي.» ۲۰ ما
وویل: «ته به هغوی ته ونه سپارل شې. زه درڅخه غواړم چې د
څښتن پیغام قبول کړه، نو بیا به ستا هر کار سم روان وي او خپل
ژوند به کوې.» ۲۱ خو څښتن ما ته په رویا کې وښودل چې که
چېرې ته تسلیم نه شې، نو بیا به څه کیږي. ۲۲ ما په رویا کې ولیدل
چې هغه ټولې ښځې چې د یهودا په شاهي ماڼۍ کې پاتې دي، هغه
به د بابل د پاچا منصبدارانو ته دباندې راوستلې شي. هغوی په لاره
کې رواني وې او ستا په هکله به داسې وایي:

بې‌لارې کړی دی پاچا خپلو ښو دوستانو


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دي غالب شوي په هغه باندې

ړوبې شوې دي اوس ختهو کې پښې د هغه

خپلو دوستانو دی پریښی هغه

۲۳ بیا ما زیاته کړه او ومې ویل: «ستاسو ټولې ښځې او اولادونه
به د ښار دباندې بابلیانو ته بوتلل شي او ته به په خپله هم نه شې
کولای چې خپل ځان د هغوی نه خلاص کړې. ته به د بابل د پاچا
له خوا ونیول شې او دې ښار ته به اور واچول شي.»

۲۴ صدقیا په ځواب کې وویل: «د دې خبرو نه باید هېڅوک هم
خبر نه شي، که نه نو ته به مړ شې. ۲۵ که چېرې درباریان خبر شي
چې ما ستا سره خبرې کړې دي، نو هغوی به راشي او پوښتنه به
درڅخه وکړي چې تا او پاچا د څه شي په هکله خبرې کولې.
هغوی به ستا سره دا وعده وکړي چې که ته هغوی ته هغه ټول شیان
ووایې، نو هغوی به تا ونه وژني. ۲۶ هغوی ته یوازې دومره ووایه
چې تا ما ته زارۍ کولې چې بېرته دې د منشي یوناتان د کور زندان


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

ته ونه لېږم چې هلته مړ شي.»

٢٧ نو بیا ټول درباریان راغلل او زما څخه یې پوښتنه وکړه او
هر څه چې پاچا راته ویلي وو، کټ مټ مې هماغسې ورته وویل.
نو هغوی نور څه ونه ویل، ځکه چې هېچا هم زموږ خبرې نه وې
اورېدلې. ٢٨ او زه د اورشلیم د نیولو تر ورځې پورې د ماڼۍ په
حوېلۍ کې بندي پاتې شوم.

## د اورشلیم سقوط

١ د یهودا د پاچا صدقیا د پاچاهۍ د نهم کال په لسمه میاشت د
بابل پاچا نبوکدنصر د خپل ټول لښکر سره راغی، په اورشلیم باندې
یې حمله وکړه او ښار یې کلابند کړ. ٢ د صدقیا د پاچاهۍ په
یوولسم کال د څلورمې میاشتې په نهمه ورځ بابلیانو د ښار دېوالونه
سوري کړل.

٣ کله چې اورشلیم ونیول شو، نو د بابل ټول لوړرتبه
منصبداران راغلل او د منځنۍ دروازې په خوا کې کښېناستل چې په


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغو کې نرګل‌شرازر د سمګر ښخه، نبوسرسکیم مشر منصبدار یو بل نرګل‌شرازر چې د پاچا مشاور ؤ، هم شامل وو.

۴ کله چې صدقیا پاچا او د هغه عسکرو هغوی ولیدل، نو هغوی د شپې په وخت کې د ښار نه وتښتېدل. هغوی د شاهي باغ د هغې دروازې د لارې لاړل چې د دوو دېوالونو په منځ کې وه او د اردن د درې په لور روان شول. ۵ خو د بابلیانو لښکر هغوی تعقیب کړل او د اریحا ډاګ ته نژدې یې صدقیا ونیوه او هغه یې نبوکدنصر پاچا ته چې د حمات د سیمې په ربله ښارګوټي کې ؤ، وسپاره او نبوکدنصر هلته هغه محاکمه کړ او هغه په سزا محکوم شو. ۶ په ربله کې هغه د صدقیا زامن د هغه په مخکې ووژل او همدارنګه هغه د یهودا ټول بارسوخ خلک اعدام کړل. ۷ له هغې وروسته هغه د صدقیا سترګې راوویستلې او هغه یې په زنځیرونو وتاړه چې بابل ته یې بوځي. ۸ په همدې وخت کې بابلیانو شاهي ماڼۍ او د خلکو کورونه وسوځول او د اورشلیم دېوالونه یې راوغورځول. ۹ په پای کې د ساتونکو قوماندان نبوزرادان هغه خلک چې په ښار کې پاتې وو، د هغو خلکو سره چې هغه ته تسلیم شوي وو، د اسیرانو په توګه


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

بابل ته بوتلل. ۱۰ نبوزرادان وطن کې یو شمېر غریب خلک چې
جایداد یې نه درلود، پرېښودل او هغوی ته یې پټې او د انګورو
باغونه ورکړل.

## د ارمیا ازادېدل

۱۱ نبوکدنصر پاچا د ارمیا په هکله نبوزرادان ته امر وکړ: ۱۲
«لاړ شه، هغه راپیدا کړه او وربانديې ښه پام کوه. هغه ته زیان ونه
رسوې او څه چې غواړي د هغه دپاره یې تیار کړه.» ۱۳ نو
نبوزرادان، نرګل‌شرازر د پاچا مشاور، نبوشزبان او د بابل د پاچا
نورو لوړرتبه منصبدارانو، ۱۴ خلک راولېږل او زه یې د ماڼۍ د
حویلۍ نه راوویستلم. هغوی زه د شافان لمسي او د اخیقام زوی
جدلیا ته وسپارلم چې په خیریت سره مې خپل کور ته بوځي، نو زه
هلته د خپلو خلکو سره اوسېدلم.

## د عبدملک دپاره هیله


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۵ په هغه وخت کې چې زه لا د ماڼۍ په حوېلۍ کې بندي وم،
ښښتن ما ته وویل: ۱۶ «ایتوپیایي عبدملک ته ووایه چې مطلق قادر
ښښتن یعنې د اسراییلو خدای داسې ویلي دي: ‹لکه څنګه چې ما
ویلي دي، هغه به سرته ورسوم. زه به په دې ښار باندې تباهي
راولم، نه نېکمرغي. کله چې دا کار وشي، نو هغه وخت به یې ته په
خپلو سترګو ووینې. ۱۷ خو زه ښښتن به تا د هغې بلا څخه وساتم
او د کومو خلکو څخه چې ته وېرېږې، هغوی ته به دې په لاس
ورنه کړم. ۱۸ زه به تا په امن کې وساتم، ته به وژغورل شې او وبه
نه وژل شې، ځکه چې په ما باندې دې توکل کړی دی.› ما ښښتن
داسې ویلي دي.»

# ارمیا نبي د جدلیا په کور کې

۱ اسیران د اورشلیم او یهودا څخه بابل ته بېول کېدل او زه
ارمیا هم د هغوی په منځ کې وم. کله چې مونږ رامې ته ورسېدو، د
بابل د پاچا د ساتونکو قوماندان نبوزرادان زما نه زنځیرونه خلاص
او زه یې ازاد کړم.


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

۲ قوماندان زه یو ګوښه ځای ته بوتلم او راته ویې ویل: «ستا ښښتن خدای ستا خلکو ته اعلان کړی دی چې په دې وطن باندې به تباهي راولي ۳ او هغه چې څه ویلي وو، هغه یې اوس سرته ورسول. دا هر څه ځکه وشول چې ستا خلکو د هغه په وړاندې ګناه او نافرماني وکړه. ۴ خو اوس ستا د لاسونو نه زنځیرونه لېرې کوم او تا ازادوم. که ته غواړې چې زما سره بابل ته لاړ شې، نو کولای شې چې لاړ شې او زه به درباندې ډېر پام کوم. خو که چېرې نه غواړې چې لاړ شې، نو مه ځه. دا ټول وطن ستا په مخکې پروت دی او هرچېرته چې دې زړه غواړي، هلته تللی شې.»

۵ خو مخکې له دې چې زه لاړ شم، نو نبوزرادان وویل: «بېرته د شافان لمسي او د اخیقام زوی جدلیا ته چې د بابل پاچا هغه د یهودا د ښارونو والي ټاکلی دی، لاړ شه. ته کولای شې د هغه سره پاتې شې او هلته د خپلو خلکو سره واوسېږې یا هرچېرته چې غواړې، هلته لاړ شه.» بیا هغه ما ته یو څه خواړه او یو سوغات راکړ چې د ځان سره یې واخلم او زه یې پرېښودم چې لاړ شم. ۶ زه مصفې ته لاړم او د جدلیا او د هغو خلکو سره مې اوسېدل غوره


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

کړل چې په دې وطن کې پاتې شوي وو.

## د یهودا والي جدلیا

٧ د یهودا ځینې قومندانان او عسکر نه وو تسلیم شوي. هغوی
خبر شول چې د بابل پاچا جدلیا د دې وطن والي او د هغو ټولو
سړیو، ښځو او ماشومانو مسوول ټاکلی دی چې بابل ته نه وو بېول
شوي او ډېر غریب خلک وو. ٨ نو د نتنیا زوی اسماعیل، د قاریح
زامن یوحانان او یوناتان، د تنحومت زوی سرایا، د عیفای زامن چې
د نطوفې ښخه وو او د معکاتي زوی یزنیا د خپلو عسکرو سره
جدلیا ته چې په مصفه کې ؤ، ورغلل. ٩ جدلیا هغوی ته وویل: «زه
قسم خورم او تاسو ته ډاډ درکوم چې باید بابلیانو ته د تسلیمېدلو
ښخه ونه وېرېږئ. په دې وطن کې واوسېږئ او د بابل د پاچا
خدمت وکړئ، نو ستاسو هر کار به سم روان وي. ١٠ زه به په خپله
په مصفه کې واوسېږم او کله چې بابلیان دلته راشي، نو زه به ستاسو
استازیتوب وکړم. تاسو کولای شئ چې شراب، مېوې او د زیتونو
تېل راټول او هغه ذخیره کړئ او په هغو ښارګوټو کې چې تاسو


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نیولي دي، واوسېږئ.» ۱۱ په همدې وخت کې ټول یهودیان چې په
موآب، عمون، ادوم او نورو وطنونو کې اوسېدل، خبر شول چې د
بابل پاچا ځینو خلکو ته اجازه ورکړې ده چې په یهودا کې پاتې
شي او جدلیا یې د هغوی والي ټاکلی دی. ۱۲ نو هغوی د هغو
ځایونو نه چې په کې خواره واره شوي وو، یهودا ته راستانه شول
چې په کې واوسیږي. هغوی په مصفه کې جدلیا ته راغلل او هلته یې
په زیاته اندازه شراب او مېوې راټولې کړې.

## د جدلیا د قتل په هکله خبرداری

**(دوهم پاچاهان ۲۵:۲۵–۲۶)**

۱۳ د هغې نه وروسته یوحانان د قاریح زوی او د هغو عسکرو
قوماندانان چې تسلیم شوي نه وو، په مصفه کې جدلیا ته راغلل ۱۴
او هغه ته یې ووېل: «ایا ته خبر یې چې د عمون پاچا بعلیس،
اسماعیل د نتنیا زوی رالېږلی دی چې تا ووژني؟» خو جدلیا په دې
خبره باندې باور ونه کړ. ۱۵ نو یوحانان هغه ته پټ ووېل: «ما
پرېږده چې لاړ شم او اسماعیل ووژنم او هېڅوک به پوه نه شي چې


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

دا کار چا وکړ. هغه تا ولې ووژني؟ دا کار به د دې سبب شي چې هغه ټول يهوديان چې ستا په شاوخوا راټول شوي دي، خواره واره شي او په هغو ټولو خلکو باندې به چې په يهودا کې پاتې دي، تباهي راشي.»

۱۶ خو جدليا ورته په ځواب کې وويل: «داسې کار مه کوه! د اسماعيل په هکله چې ته څه وايې، هغه رښتيا نه دي!»

## د جدليا قتل

۱ د هماغه کال په اوومه مياشت اسماعيل د نتنيا زوی او د اليشمع لمسی چې د شاهي کورنۍ غړی او د صدقيا پاچا د لوړرتبه منصبدارانو څخه ؤ، د لسو کسانو سره مصفې ته لاړ چې د اخيقام د زوی جدليا سره ووينې. په هغه وخت کې هغوی يوځای سره ډوډۍ خوړله، ۲ اسماعيل او د هغه لسو کسانو خپلې تورې راوويستلې او جدليا يې چې د بابل پاچا هغه د يهودا د والي په توګه ټاکلی ؤ، وواژه. ۳ همدارنګه اسماعيل هغه ټول يهوديان چې په مصفه کې د


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

جدليا سره وو، هم ووژل او هغه بابلي عسکر چې هلته وو، هغوی
يې هم ووژل.

۴ بله ورځ مخکې له دې چې څوک د جدليا د قتل نه خبر شي،
۵ د شکيم، شيلوه او سامرې نه اتيا کسان راورسېدل. هغوی خپلې
ږيرې خرييلې وې، خپل کالي يې شکولي وو او خپل ځانونه يې
غوڅ کړي وو. هغوی د غلو دانو نذرانې او خوشبويي راوړلې چې د
څښتن په کور کې يې وړاندې کړي. ۶ نو اسماعيل په ژړا سره د
مصفې نه د هغوی د ليدلو دپاره روان شو. کله چې هغوی ته
راورسېده، هغه ورته ووېل: «راشئ او جدليا وګورئ.» ۷ څنګه چې
هغوی ښار ته ورننوتل، نو اسماعيل او د هغه کسانو هغوی ووژل او
د هغوی مړي يې په يوې کندې کې وغورځول. ۸ خو په هغې ډلې
کې لس کسان وو او اسماعيل ته يې ووېل: «مهرباني وکړه، مونږ مه
وژنه! ځکه چې مونږ په پټيو کې غنم، اوربشې، د زيتونو تېل او شات
پټ کړي دي. که مونږ ونه وژنې، نو هغه ټول به تا ته راوړو.» نو
هغوی يې ژوندي پرېښودل.

۹ اسماعيل چې کوم خلک وژلي وو او د هغوی مړي يې په


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

يوې لويې کندې کې اچولې وو، هغه کنده د آسا پاچا له خوا په هغه
وخت کې کيندل شوې وه چې د اسراييلو پاچا بعشا په آسا باندې
حمله کړې وه. اسماعيل هغه کنده د وژل شويو خلکو د مړو نه ډکه
کړه. ۱۰ بيا اسماعيل د پاچا لورګانې او په مصفه کې هغه ټول پاتې
خلک چې نبوزرادان د ساتونکو قوماندان جدليا ته سپارلي وو چې
ساتنه يې وکړي، بنديان کړل او د عمون د سيمې په لور روان شو.

۱۱ يوحانان د قاريح زوی او د لښکرو ټول قوماندانان چې د هغه
سره وو، کله چې هغوی د اسماعيل د جنايتونو نه خبر شول، ۱۲ نو
هغوی د خپلو ټولو کسانو سره په هغه پسې روان شول او د جبعون
ډنډ ته نژدې هغه ته ورورسېدل. ۱۳-۱۴ کله چې د اسماعيل بنديانو
يوحانان او د هغه د لښکرو قوماندانان چې د هغه سره وو وليدل، نو
هغوی خوشحاله شول او په منډه د هغوی خواته لاړل. ۱۵ خو
اسماعيل د خپلو اتو کسانو سره وکولای شول چې خپل ځانونه د
يوحانان نه خلاص کړي او د عمون وطن ته وتښتېدل. ۱۶ بيا
يوحانان او د هغه د لښکرو قوماندانانو چې د هغه سره وو، د هغو
خلکو مسووليت په غاړه واخيست چې هغوی يې په جبعون کې


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ژغورلي وو يعنې عسکر، ښځې، ماشومان او درباريان چې اسماعيل د جدليا د قتل نه وروسته د بنديانو په توګه بېولي وو. ١٧-١٨ هغوی د بابليانو نه وېرېدل، ځکه چې اسماعيل جدليا چې د بابل د پاچا له خوا د هغه وطن والي ټاکل شوی ؤ، په قتل رسولی ؤ. نو هغوی مصر ته روان شول چې د بابليانو نه ځانونه خلاص کړي. هغوی په لاره کې بيت‌لحم ته نژدې په جيروت‌کمهام کې پاتې شول.

## د ارميا څخه د دعا دپاره د خلکو غوښتنه

١ بيا نظامي قوماندانان چې په هغو کې د قاريح زوی يوحانان
او د هوشعيا زوی يزنيا او د وړو نه تر لويانو پورې ټول خلک
راغلل ٢ او ما ته يې وويل: «مهرباني وکړه زمونږ عرض واوره!
زمونږ دپاره خپل څښتن خدای ته دعا وکړه. زمونږ ټولو دپاره چې
ژوندي پاتې شوي يو، دعا وکړه. په يو وخت کې زمونږ شمېر زيات
ؤ، خو اوس لکه څنګه چې وينې مونږ ډېر کم پاتې يو. ٣ دعا وکړه
چې څښتن زمونږ خدای مونږ ته وښايي چې په کومه لاره لاړ شو
او څه بايد وکړو.»


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

۴ ما ورته په ځواب کې وویل: «ډېر ښه، نو لکه څنګه چې تاسو غوښتنه کړې ده، زه به ستاسو څښتن خدای ته دعا وکړم او هر څه چې هغه ما ته وویل، زه به یې تاسو ته ووایم. تاسو نه به یوه خبره هم پټه نه کړم.»

۵ بیا هغوی ما ته وویل: «که چېرې مونږ په هغو ټولو حکمونو باندې چې ستا څښتن خدای یې زمونږ په خاطر تا ته درکوي، عمل ونه کړو، نو څښتن دې په خپله زمونږ ترمنځ یو صادق او رښتینی شاهد اوسي. ۶ که مونږ خوشحالېږو یا خفه کېږو، خو څه چې مونږ ستا نه غواړو د هغه په خاطر خپل څښتن خدای ته دعا وکړه، د هغه د لارښوونې سره سم به اطاعت وکړو. مونږ په دې پوهېږو که د هغه اطاعت وکړو، نو زمونږ هر کار به سم روان وي.»

## خلک د څښتن ځواب نه مني

۷ لس ورځې وروسته څښتن زما سره خبرې وکړې، ۸ نو ما یوحانان او د هغه سره ټول نظامي قوماندانان او ټول خلک که واړه


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

وو او که لویان، راوغوښتل. ۹ هغوی ته مې وویل: «د اسراییلو
څښتن خدای چې تاسو ورته د خپلې غوښتنې سره لېږلی وم، وویل:
۱۰ ‹که تاسو غواړئ چې په دې وطن کې ژوند وکړئ، نو زه به
ستاسو شمېر زیات کړم او تاسو به تباه نه کړم، تاسو به لکه د ونې په
شان وکرم او له بېخه به مو ونه باسم. ما چې په تاسو باندې کوم
مصیبت راوستلی دی، په هغه باندې زه پښېمانه یم. ۱۱ د بابل د پاچا
څخه نور مه وېرېږئ. زه درسره مل یم او د هغه له لاسه به مو
خلاص کړم. ۱۲ ځکه چې زه رحم کوونکی یم، زه به هغه دې ته
مجبور کړم چې په تاسو باندې مهربانه شي او تاسو به پرېږدي چې
په خپل وطن کې پاتې شئ. ما څښتن داسې ویلي دي.› ۱۳-۱۵ خو ای
هغو خلکو چې په یهودا کې پاتې یئ، د څښتن د حکم څخه باید
سرغړونه ونه کړئ او په دې وطن کې باید د اوسېدلو نه انکار ونه
کړئ. تاسو باید دا ونه وایئ چې نه، مونږ ځو او په مصر کې اوسېږو،
هلته به نور د جنګ سره نه مخامخ کېږو، نه به د جنګ دپاره د
سرني اوازونه اورو او نه به وږي کېږو. که چېرې تاسو داسې ووایئ،
نو مطلق قادر څښتن یعنې د اسراییلو خدای وایي: ‹که چېرې تاسو
په ټینګې ارادې سره دا پرېکړه کړې وي چې لاړ شئ او په مصر کې


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

واوسېږئ، ۱۶ نو د کوم جنګ نه چې تاسو وېرېږئ، هغه به تاسو
پسې دورو رسيږي او د کومې قحطۍ نه چې وېرېږئ، هغه به زر
ستاسو لمن ونيسي او هلته په مصر کې به مړه شئ. ۱۷ هرڅوک چې
مصر ته د تللو او هلته د اوسېدلو ټينګه اراده لري، هغه به په جنګ
يا د لوږې او يا د وبا له لاسه مړ شي. د هغوی نه به يو تن هم
ژوندی پاتې نه شي او نه به د هغه مصيبت نه چې زه يې ورباندې
راولم، خلاص شي.›»

۱۸ مطلق قادر څښتن د اسراييلو خدای داسې وايي: «لکه څنګه
چې زما قهر او غضب د اورشليم په خلکو باندې نازل شوی ؤ، که
تاسو مصر ته لاړ شئ، نو په تاسو باندې به هم زما غضب نازل شي.
خلک چې تاسو ويني، نو هغوی به سخت ووېرېږي. خلک به
درباندې ملنډې ووهي او ستاسو نوم به د لعنت دپاره وکاروي. تاسو
به بيا هېڅکله خپل وطن ونه وينئ.»

۱۹ ما خپلو خبرو ته دوام ورکړ او ومې ويل: «ای هغو خلکو
چې په يهودا کې پاتې شوي يئ، تاسو ته څښتن ويلي دي چې مصر
ته لاړ نه شئ. نو اوس زه تاسو ته په جدي توګه خبرداری درکوم


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٢٠ چې تاسو به هلته خپل ژوند له لاسه ورکړئ. تاسو زما څخه
وغوښتل چې ستاسو په خاطر ستاسو څښتن خدای ته دعا وکړم او
تاسو دا وعده وکړه چې څښتن هر څه مونږ ته وايي، مونږ به هغه
سرته ورسوو. ٢١ نو څه چې هغه ويلي وو، هغه مې کټ مټ اوس
تاسو ته وويل. خو تاسو د هغو ټولو خبرو څخه سرغړونه کوئ چې
ستاسو څښتن خدای زه رالیږلی یم چې تاسو ته يې ووايم. ٢٢ نو بيا
دا خبره بايد په ياد وساتئ چې تاسو به په هغه وطن کې چې غواړئ
هلته لاړ شئ او په کې واوسېږئ، يا به په جنګ کې يا به د لوږې او
يا به د وبا له لاسه مړه شئ.»

## د یهودا مشران ارمیا مصر ته بیایي

١ ما ټولو خلکو ته هغه ټولې خبرې وکړې چې څښتن خدای د
هغې د ويلو دپاره زه رالیږلی وم. ٢ نو د هوشعيا زوی عزريا، د
قاريح زوی يوحانان او نورو ټولو مغرورو خلکو ما ته وويل: «ته
دروغ وايې. زمونږ څښتن خدای ته نه يې رالیږلی چې مونږ ته
ووايې چې مصر ته مه ځئ او هلته مه اوسېږئ. ٣ د نيريا زوی


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

باروک ته زمونږ په ضد لمسولی يې چې مونږ بابليانو ته په لاس
ورکړې چې هغوی مونږ ووژني او يا مو بابل ته د اسيرانو په توګه
بوځي.» ۴ نو نه يوحانان او نه د لښکرو کوم قوماندان او نه خلکو
د څښتن دا حکم ومانه چې هغوی دې په يهودا کې پاتې شي. ۵ نو
يوحانان او ټول عسکري قوماندانان، هغه ټول خلک چې په يهودا
کې پاتې شوي وو، د هغو خلکو سره چې نورو وطنونو ته شړل
شوي وو او بېرته يهودا ته راغلي وو چې په هغو کې ۶ نارينه،
ښځې، ماشومان او د پاچا لورګاني شاملې وې، له ځان سره مصر ته
بوتلل. هغوی هغه خلک هم بوتلل چې نبوزرادان قوماندان جدليا د
اخيقام زوی او د شافان لمسي ته سپارلي وو چې ويې ساتي. زه او
باروک يې هم له ځان سره بوتلو. ۷ هغوی د څښتن د حکم څخه
سرغړونه وکړه، مصر ته لاړل او د تحفنحيس ښار ته ورسېدل.

۸ په تحفنحيس کې څښتن ما ته وويل: ۹ «غټې تيږې
راواخله او هغه په ښار کې د فرعون ماڼۍ ته د ننوتلو دروازې ته
مخامخ د خښتو د فرش لاندې ښخې کړه او دا کار د ځينو يهوديانو
په مخکې وکړه چې ويې ګوري. ۱۰ هغوی ته ووايه چې زه مطلق


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

قادر څښتن یعنې د اسراییلو خدای به خپل خدمتګار د بابل پاچا نبوکدنصر دې ځای ته راولم او هغه به خپل تخت په دې تیږو باندې چې ما په تا باندې پټې کړې دي، کېږدي او خپله شاهانه خېمه به وړباندې خپره کړي. ١١ نبوکدنصر به راشي او په مصر باندې به حمله وکړي. د چا په قسمت کې که دا وي چې د ناروغۍ له لاسه دې مړه شي، نو هغوی به د ناروغۍ له لاسه مړه شي، د چا په قسمت کې چې اسیرتوب وي، هغوی به د اسیرانو په توګه بوتلل شي او د چا په قسمت کې چې مرګ یې په جنګ کې وي، نو هغوی به په جنګ کې ووژل شي. ١٢ زه به د مصر د خدایانو عبادتځایونو ته اور واچوم او د بابل پاچا به د هغوی ځینې خدایان وسوځوي او نور به د غنیمت په توګه یوسي. لکه څنګه چې شپانه خپل کالي د سپږو نه پاکوي، نو همداسې به د بابل پاچا د مصر وطن پاک کړي او په خپله به روغ رمټ له هغه ځایه لاړ شي. ١٣ هغه به د مصر د بیت‌شمس د ښار د مذهبي تیږې ماتې کړي او د مصر د خدایانو عبادتځایونه به وسوځوي.»

## په مصر کې یهودیانو ته د څښتن پیغام


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

١ ښبنتن د هغو ټولو یهودیانو په هکله چې د مجدل،
تحفنحیس، ممفیس او د مصر په جنوبي سیمې فتروس کې اوسېدل،
زما سره خبرې وکړې. ٢ مطلق قادر ښبنتن یعنې د اسراییلو خدای
داسې وویل: «تاسو هغه تباهي په خپله ولیدله چې ما په اورشلیم او
د یهودا په نورو ټولو ښارونو باندې راوستله. دا ټول تراوسه پورې
وران او ویجاړ پراته دي او هېڅوک په کې نه اوسېږي، ٣ ځکه چې
خلکو یې بد بد کارونه کړي وو او زه یې په قهر کړم. هغوی نورو
خدایانو ته خوشبویي سوځولې او د هغو خدایانو خدمت یې کاوه
چې نه تاسو او نه ستاسو نیکونو کله د هغو عبادت کړی دی. ٤ ما
په دوامداره توګه خپل خدمتګاران یعنې پیغمبران درلېږل او هغوی به
تاسو ته ویل چې داسې ناوړه کارونه مه کوئ چې زه ورڅخه کرکه
لرم. ٥ خو تاسو ورته نه غوږ نیوه او نه مو ورته پام کاوه. تاسو د
خپلو بدو کارونو څخه لاس وانخیست او نورو خدایانو ته مو
خوشبویي سوځولې. ٦ نو ما خپل قهر او غضب د یهودا په
ښارګوټو او د اورشلیم په کوڅو باندې د اور په شان نازل کړ. هغه
ټول په کنډوالو باندې بدل شول او تر ننه پورې وران او ویجاړ پراته
دي.


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

۷ نو زه مطلق قادر څښتن یعنې د اسراییلو خدای اوس ستاسو
نه پوښتنه کوم چې تاسو ولې د خپلو ځانونو سره داسې بد کوئ. ایا
تاسو غواړئ چې ستاسو په سړیو، ښځو، اولادونو او تي رودونکو
ماشومانو باندې دې داسې یو لوی مصیبت راشي چې ستاسو
یهودیانو نه هیڅوک هم پاتې نه شي؟ ۸ تاسو ولې دلته په مصر کې
چې غواړئ په کې واوسېږئ، نورو خدایانو ته په عبادت کولو او د
خوشبویۍ په سوځولو سره ما په قهر کوئ؟ ایا تاسو دا کارونه د دې
دپاره کوئ چې خپل ځانونه تباه کړئ، ترڅو د دنیا ټول قومونه په
تاسو باندې ملنډې ووهي او ستاسو نوم په چا باندې د لعنت دپاره
وکاروي؟ ۹ ایا تاسو هغه ټول بد کارونه چې ستاسو نیکونو، د
یهودا پاچاهانو او د هغوی ښځو او تاسو او ستاسو ښځو د یهودا په
سیمه او د اورشلیم په کوڅو کې کړي وو، هغه هیر کړل؟ ۱۰ خو تر
نن ورځې پورې تاسو خپل ځانونه خاکساره نه کړل. تاسو زما عزت
ونه کړ او نه مو د هغو قوانینو سره سم ژوند وکړ، کوم چې ما تاسو
او ستاسو نیکونو ته درکړي وو.

۱۱ نو ما مطلق قادر څښتن یعنې د اسراییلو خدای دا پرېکړه


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وکړه چې په تاسو باندې مصیبت راولم او ټول یهودا له منځه یوسم.
١٢ د یهودا کوم خلک چې پاتې دي او هغوی دا پرېکړه کړې ده
چې مصر ته لاړ شي او هلته واوسېږي، زه به هغوی ټول تباه کړم.
که واړه وي او که لویان، ټول به په مصر کې په جنګ کې او یا د
لوږې مړه شي. خلک چې هغوی ووینې، نو سخت به ووېرېږي.
خلک به ورباندې ملنډې ووهي او د هغوی نوم به په کوم چا باندې
د لعنت دپاره وکاروي. ١٣ زه به هغو خلکو ته چې په مصر کې
اوسېږي داسې سزا ورکړم، لکه څنګه چې مې د اورشلیم خلکو ته د
جنګ، لوږې او وبا په وسیله ورکړې وه. ١٤ د یهودا هغه پاتې شوي
خلک چې د اوسېدلو دپاره مصر ته راغلي دي، یو به هم ونه شي
کولای چې وتښتي او یا ژوندی پاتې شي. د هغوی څخه به هېڅوک
هم بېرته یهودا ته د اوسېدلو دپاره ستانه نه شي، کوم چې د هغوی
ډېر ارمان دی. د هغوی نه به یوازې ډېر لږ خلک وکولای شي چې
وتښتي او بېرته هلته لاړ شي.»

١٥ په هغه ځای کې د خلکو یوې لویې ډلې ما ته ځواب راکړ
چې په هغو کې ځینې کسان په دې پوهېدل چې د دوی ښځو نورو


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

خدایانو ته خوشبویي سوځولې او هغه بښځې چې هلته ولاړې وې، همدارنګه هغه ټول اسراییلیان چې د مصر په جنوبي سیمې فتروس کې اوسېدل.
۱۶ «تا چې مونږ ته د څښتن په نوم کومې خبرې وکړې، مونږ ورته غوږ نه نیسو.
۱۷ مونږ چې کومه وعده کړې ده، هغه به پوره کړو. مونږ به خپلې اسماني ملکې ته خوشبویي وسوځوو او هغې ته به د څښلو نذرانې راوړو چې د هغې په مخکې یې تویې کړو. مونږ هماغه کار کوو چې زمونږ نیکونو، زمونږ پاچاهانو او زمونږ مشرانو به د یهودا په ښارګوټو او د اورشلیم په کوڅو کې کول. ځکه چې په هغه وخت کې مونږ پرېمانه خواړه لرل، مونږ نېکمرغه وو او هېڅ مصیبت مو نه درلود.
۱۸ خو د کوم وخت نه چې مونږ د اسمان ملکې ته د خوشبویي سوځول او د څښلو د نذرانو راوړل او تویول بس کړل، نو مونږ بیا هېڅ هم نه لرل او زمونږ خلک په جنګ کې وژل کېدل او یا د لوږې له لاسه مړه کېدل.»

۱۹ هغو ښځو زیاته کړه: «کله به چې مونږ د اسمان د ملکې د څېرې په شان ډوډۍ پخولې، هغې ته به مو خوشبویي سوځولې او د څښلو نذرانې به مو ورته راوړلې او تویولې، نو زمونږ د مېړونو په


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

دې کار کې خوښه وه.»

۲۰ بيا ما هغو ټولو سړيو او ښځو ته چې ما ته يې داسې ځواب
راکړ، وويل: ۲۱ «ايا تاسو فکر کوئ چې څښتن په دې نه پوهيږي
او يا يې هېر کړي دي چې تاسو، ستاسو نيکونو، پاچاهانو، مشرانو
او د هېواد خلکو به د يهودا په ښارګوټو او د اورشليم په کوڅو کې
خپلو بتانو ته خوشبويۍ سوځولې؟ ۲۲ په دې خاطر چې څښتن نور
ستاسو بد او د کرکې وړ کارونه نه شول زغملی، نو هغه ستاسو وطن
په کنډوالو باندې بدل کړ او تر نن ورځې پورې هېڅوک په کې نه
اوسيږي، هغه د خلکو دپاره يوه وېروونکې ننداره شوه او خلک د
دې وطن نوم د لعنت دپاره کاروي. ۲۳ دا اوسنی مصيبت ځکه په
تاسو باندې راغلی دی چې تاسو نورو خدايانو ته خوشبويۍ
سوځوئ او د څښتن د قوانينو او حکمونو څخه په سرغړونې سره
مو د څښتن په وړاندې ګناه کړې ده.» ۲۴-۲۵ هر څه چې مطلق قادر
څښتن يعنې د اسراييلو خدای غوښتل په مصر کې اوسېدونکو
يهوديانو ته ووايي، ما هغه ټولو خلکو ته وويل: «تاسو او ستاسو
ښځو د اسمان د ملکې سره کلکې وعدې کړې وې. تاسو هغې ته


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نذرونه ورکړي دي يعنې خوشبويي مو ورته سوځولې دي او د
څښتن نذرانې مو راوړې دي او ورته مو توی کړې دي. تاسو خپلې
وعدې پوره کړې دي. ډېر ښه، خپلې وعدې پوره کړئ! خپل نذرونه
ورکړئ! نو نتيجه به يې ووينئ. ۲۶ خو اوس هغه قسم واورئ چې
ما څښتن په خپل زورور نامه باندې تاسو اسراييليانو ته چې په مصر
کې اوسېږئ، خوړلی دی چې زه به بيا هېڅکله تاسو يو ته هم دا
اجازه ورنه کړم چې زما په نوم قسم وخوري او ووايي: ‹زه د
ژوندي څښتن تعالی په نوم قسم خورم!› ۲۷ زه به په تاسو باندې
خپل نظر ساتم چې تاسو به نېکمرغه نه، بلکې تباه شئ. تاسو ټول به
په جنګ کې ووژل شئ او يا به د لوږې د لاسه مړه شئ، ترڅو
ستاسو يو کس هم ژوندی پاتې نه شي. ۲۸ خو ستاسو نه به لږ
خلک د مرګ نه خلاص شي او د مصر نه به يهودا ته ورستانه شي.
نو بيا به هغه کسان چې ژوندي پاتې شوي دي په دې پوه شي چې
د چا خبره رښتيا شوه، زما او که د هغوی. ۲۹ زه څښتن به تاسو ته
دا ثابته کړم چې زه به تاسو ته په دې ځای کې سزا درکړم او ما چې
ستاسو سره کومه وعده کړې وه چې په تاسو باندې به تباهي راولم،
هغه به رښتيا شي. ۳۰ څښتن داسې وايي چې زه به فرعون حفرع د


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مصر پاچا د هغه خپلو دښمنانو ته چې د هغه وژل غواړي تسلیم
کړم، لکه څنګه چې مې د یهودا پاچا صدقیا د بابل پاچا نبوکدنصر
ته چې د هغه دښمن ؤ او د هغه وژل یې غوښتل، ورتسلیم کړ.»

## د باروک سره د خدای وعده

١-٢ د یهودا د پاچا د یوشیا د زوی یهویاقیم د پاچاهۍ په څلورم
کال هر څه چې ارمیا باروک ته ویلي وو، هغه یې په یو طومار کې
ولیکل. بیا مې باروک ته وویل چې د اسراییلو څښتن خدای داسې
ویلي دي: «ای باروکه، ٣ ته وایې چې زه تباه شوی یم! څښتن زما
تکلیفونه او غمونه زیات کړي دي. زه په زګیروی باندې ستړی شوی
یم او هېڅ ارام نه مومم!

٤ خو ما څښتن چې څه ودان کړي دي، هغه ورانوم او څه چې
مې کرلي دي هغه له بېخه را باسم. زه به د ټولې نړۍ سره همداسې
کار وکړم. ٥ ایا ته په دې فکر کې یې چې تا ته ځانګړې پاملرنه
وشي؟ داسې فکر مه کوه. زه به په ټولو انسانانو باندې یو لوی


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مصيبت راولم، خو ته چې هرچېرته ځې، زه به تا د مرګ نه وساتم.
ما څښتن داسې ويلي دي.»

## په کرکميش کې د مصريانو ماتې

١ څښتن د دنيا د نورو قومونو په هکله زما سره خبرې وکړې،
٢ دا پيغام د مصر په هکله دی. دا هغه څه دي چې هغه د مصر د
پاچا نيکو د لښکرو په هکله چې د بابل د پاچا نبوکدنصر په وړاندې
يې په کرکميش کې د فرات سيند ته نژدې ماتې وخوړله، ويلي دي.
دا د يهودا د پاچا يهوياقيم چې د يوشيا زوی ؤ، د پاچاهۍ څلورم
کال ؤ.

٣ وهي چيغې د مصريانو منصبداران

تيار کړئ خپل سپرونه

او لاړ شئ د جنګ ميدان ته


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۴ قیضې واچوئ خپلو اسونو ته او شئ سپارهورباندې

خپلې د اوسپنې خولۍ په سر کړئ

او ودرېږئ خپل قطار کې

تېرې کړئ خپلې نېزې

لباس واغوندئ د زغرو

۵ څښتن پوښتنه وکړه، څو دا زه څه وینمه؟

هغوی له وېرې نه په شا شول بېرته

وخوړه ماتې د دوی عسکرو

له هرې خوا وېره راغلې په هغوی باندې

په منډه منډه تښتې او نه ګورې شاته هغوی


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ما څښتن داسې ویلي دي

۶ هغه کسان چې وهي تېزې منډې

ځغستلی نه شي هغوی، تښتېدلی نه شي عسکر

په شمال کې د فرات د سیند په غاړه

خوري تیندکونه او رالوېږي هغوی

۷ هغه څوک دی چې راڅکېږي د نیل د سیند په شان

د هغه سیند په شان چې یې اوبه اوړي له غاړو څخه؟

۸ دا دی مصر چې راڅکېږي د نیل د سیند په شان

د هغه سیند په شان چې یې اوبه اوړي له غاړو څخه

د مصر خلک وایي، مونږ به راپورته شو


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

او مونږ به راونیسو دنیا ټوله

مونږ به ښارونه وران کړو

او څوک چې اوسیږي په کې

مونږ به یې له منځه یوسو

٩ امر وکړئ اس سوارانو ته چې لاړ شي

او جنګي ګاډیو ته چې حرکت وکړي تېز

عسکر ولېږئ د ایتوپیا او د لیبیا سړي

چې وړي سپرونه

او تکړه غشي ویشتونکي د لود

١٠ دا د مطلق قادر ښتن تعالی ورځ ده


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

دا هغه ورځ ده چې اخلي بدل هغه

دا هغه ورځ ده چې ورکوي به

خپلو دښمنانو ته سزا

د هغه توره به خوري هغوی

تر هغه وخته چې مړه شي هغوی

او وينې به څښي د هغوی

ترڅو چې تنده يې ماته شوې نه وي

ځکه په شمال کې د فرات د سيند په غاړه باندې

مطلق قادر څښتن ته به شي وړاندې هغوی

د قربانۍ په توګه



Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

١١ ای د مصر بېچاره خلکو، لاړ شئ جلعاد ته

او ملهم راواخلئ!

وکارولې تاسو دواګانې ډېرې

خو فایده یې هېڅ ونه کړه

تاسو په هېڅ شي رغېدلی نه شئ

١٢ له رسوايۍ مو خبر شوي نور قومونه

ستاسو ژړا ده اورېدلې هرچا

خوري ټکرې یو عسکر بل سره

او راغورځيږي دواړه ځمکه باندې

## د نبوکدنصر راتلل



Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

۱۳ ښبتن زما سره خبرې وکړې چې د بابل پاچا غواړي چې په
مصر باندې حمله وکړي. هغه وويل:

۱۴ اعلان وکړه ته د مصر په ښارونو کې

يعنې مجدل او په ممفيس او په تحفنيس کې

شئ تيار خپلې دفاع دپاره

چې څوک دي ستاسو شاوخوا کې

هغوی ټول به شي تباه په جنګ کې

۱۵ زورور خدای اپيس ولې رالوېدلی ستاسو؟

راغورځولی دی هغه ښبتن

۱۶ ستاسو عسکر دي ښويېدلي او رالوېدلي هغوی

هر يو يې بل ته وايي


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

زر شئ! راځئ چې ځو خپل وطن

او خپلو خلکو لره

او تېښته وکړو د ظالم له توري

۱۷ نوی نوم کېږدئ په پاچا د مصر

غالمغالي لافو چې يې ورکړی خپل فرصت له لاسه

۱۸ زه مطلق قادر ښتن يم پاچا

زه ژوندی خدای يمه

لکه چې څنګه دی اوچت د تابور غر

د نورو غرونو څخه

او غر د کرمل اوچت ولاړ دی د بحيرې په غاړه



Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

نو څوک چې حمله کوي په تاسو باندې

وي به قوي همداسې

١٩ ای د مصر خلکو!

خپل کالي او خپل سامان راټول کړئ

دې ته تيار شئ چې اسيران مو يوسي

شي به بدل ممفيس په دښته باندې

او په داسې کنډواله باندې

چې هېڅوک به په کې نه اوسيږي

٢٠ مصر دی د ښکلې خوسۍ په شان

خو د شمال نه به مچۍ راشي



Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

او حمله به وکړي په هغې باندې

٢١ حتی عسکر دي تنخوا خواره د دوی

لکه چاغ شویو خوسیانو په شان

هغوی ټینګ نه شول، نه یې جنګ وکړلو

ټول بېرته لاړل او وتښتېدل

ځکه چې وخت د تباهۍ او د سزا

دی رارسېدلی د دوی

٢٢ مصریان تښتي او اواز کړي لکه مار په شان

چې له زور سره رانژدې کیږي دښمن

دوی په تبرونو کړي حمله په هغې


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

لکه ځوک چې وهي ونې

۲۳ مصر دی د ګڼ ځنګل په شان

دي بې‌شماره سړي د هغوی

خو بابلیان به یې تباه کړي

ځکه زیات دي د ملخانو نه هم عسکر د هغوی

۲۴ شي به رسوا د مصر خلک

شي به تسلیم هغوی د شمال خلکو ته

داسې ویلي دي ما څښتن

۲۵ مطلق قادر څښتن د اسراییلو خدای وایي: «زه به د تیبس
خدای آمون ته او د مصر او د هغه خدایانو او پاچاهانو ته سزا
ورکړم. زه به د مصر پاچا فرعون ته او هغو ټولو خلکو ته چې په
هغه باندې اعتبار کوي، سزا ورکړم. ۲۶ هغوی به بوځم او هغو خلکو


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ته به يې په لاس ورکړم چې د دوی وژل غواړي، يعنې د بابل پاچا
او د هغه منصبدارانو ته. خو وروسته به خلک یوځل بیا په مصر کې
واوسيږي، لکه څنګه چې پخوا اوسېدل. ما څښتن داسې ویلي دي.»

## څښتن خپل قوم ژغوري

٢٧ مه وېرېږئ ای زما قومه

ونه وېرېږئ ای د اسراییلو خلکو

تاسو به خلاص کړمه زه له هغه لېرې وطن نه

د هغه وطن نه چې اسیران یئ په کې

تاسو به راشئ خپل وطن ته بېرته

او ارام ژوند به کوئ

تاسو به اوسئ خوندي او څوک به مو نه وېروي


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۸ ای زما بنده یعقوبه یعنې د اسراییلو قومه

مه وېرېږه ځکه چې زه یمه د ستاسو سره

زه به تباه کړم هغه ټول قومونه

چې خواره کړي مې یئ د هغو منځ کې

خو زه به نه کړمه تاسو تباه

تاسې به نه پرېږدمه چې لاړ شئ بې‌سزا

خو چې کله تاسو ته سزا درکوم

وي هغه به د انصاف له مخې ما څښتن داسې ویلي دي

## د فلسطین په هکله د څښتن پیغام

۱ مخکې له دې چې مصر په غزه باندې حمله وکړي، څښتن



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زما سره د فلسطین په هکله خبرې وکړې. ۲ هغه داسې وویل:

ګوره! په شمال کې راټولیږي دښمنان

لکه سیند چې شي راپورته

د زورور سېلاب په شان

هغه به پټ کړي د فلسطین وطن

او څه چې په کې وي هلته

هغه به پټ کاندي ښارونه

او کوم خلک چې اوسیږي په کې

وهي به چیغې د کومک دپاره

ټول خلک د ځمکې په مخ به کوي سخته ژړا



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۳ هغوی به اوري د اسونو د سومانو اوازونه

د ګاډيو کړپهار او شورماشور د ارابو

شاته به نه ګوري ميندې او پلرونه خپلو بچيو پسې

له ډېرې وېرې به بېوسه وي دوی

۴ رارسېدلې ده د فلسطين د بربادۍ ورځ

رارسېدلی هغه وخت چې شي بند کومک

په صور او په صيدون باندې

زه څښتن به کړم نابود فلسطين

هغه خلک چې راغلي دي

د کريت د بحيرې له غاړو


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۵ دی راغلی یو لوی غم د غزې په خلکو

او دي خاموش د اشقلون خلک

پاتې خلک د فلسطين به کوي وير تر کومه؟

۶ تاسو چيغې وهئ، ای د ښبنتن تورې

ته ګوزارونه به ترڅو کوې؟

لاړه شه بېرته ته خپل پوښ ته

او هلته ارامه اوسه

۷ خو ته به څنګه شې ارامه؟

درکړې دنده ده ښبنتن تا ته چې سرته يې ورسوې

هغه حکم درته کړی چې حمله وکړې په اشقلون باندې


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او هغو خلکو باندې کوم چې اوسيږي د بحيرې په غاړه

## د موآب نابودي

١ مطلق قادر څښتن د اسراييلو خداى د موآب په هکله داسې وايي:

وي دې افسوس د نبو د خلکو په حال
ځکه وران شوى دى د هغوى ښار
قيريتايم دى نيول شوى
رالوېدلې يې ده قوي کلا
او خلک يې مخ شوي رسوايۍ سره

٢ شان او شوکت دى د موآب تللى


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

جوړه يې کړله دسيسه حشبون کې

د موآب په ضد چې برباد کړي د هغوی قوم

چوپ او چوپتيا به شي د مدمين په ښار کې هم

او جنګ به راشي په هغه باندې

٣ وهي به چيغې د حوروناېم خلک

د ورانۍ او لوېې تباهۍ چيغې

٤ دی وران شوی موآب

کړي ژړا ګانې ماشومان

٥ هغوی سلګۍ وهي

په ټوله لاره چې پورته لوحيت ته تللې


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

اورېدل کيږي د غمونو ژړا لاندې د حوروناييم په لاره

٦ زر شئ وتښتئ د خپل ژوند د بچ کېدو په خاطر

شئ په دښته کې د ځنګلي بوټو په شان

٧ ای موآبه، تا توکل کاوه

په خپل کار او شتمنۍ باندې

خو اوس به اسير شې ته هم

ستا خدای کموش به بوتلل شي په اسارت باندې

د خپلو کاهنانو او مامورينو سره

٨ خلاص به نه شي هيڅ يو ښار د نابودۍ نه

هم هوار ځای هم به دره شي ورانه


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

داسې ويلي دي ما څښتن

٩ وشيندئ مالګه په موآب باندې

ترڅو نه شي په کې شين هېڅ شی

شي به بدل د هغه ښارونه په کنډوالو باندې

نور به نه اوسيږي هېڅوک هلته

١٠ لعنت دې وي په هغو خلکو باندې چې د زړه د اخلاصه د
څښتن کارونه نه کوي او خپله توره په وينو نه رنګوي.

## څښتن به د موآب ښارونه وران کړي

١١ څښتن وويل: «موآب تل په امن او امان کې ؤ او هېڅکله
جلاوطن شوی نه دی. موآب د هغو شرابو په شان دی چې چا ورته
لاس نه وي وروړی او په خپل ځای پاتې وي او هېڅکله د يو
منګي څخه بل منګي ته نه وي اچول شوي. د هغو خوند خراب


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

شوی نه وي او مزه يې تل ښه وي.

١٢ نو اوس هغه وخت راروان دی چې زه به خلک ورولېږم چې
موآب د شرابو په شان توی کړي. هغوی به يې د شرابو منګکي خالي
کړي او هغه به ټوټې ټوټې کړي. ١٣ بيا به موآبيان د خپل خدای
کموش نه داسې نااميده شي، لکه څنګه چې اسراييليان د خپل خدای
بيت‌ييل نه چې هغوی ورباندې باور کاوه، نااميده شول.

١٤ ای د موآب خلکو، تاسو څنګه وايئ

چې مونږه يو اتلان او زړور جنګيالي؟

١٥ دی وران شوی موآب

دي ښارونه يې نيول شوي

او دي قتل شوي يې ډېر ښکلي ځوانان

يمه پاچا او يمه مطلق قادر څښتن


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

او داسې ويلي دي ما

۱۶ رانژدې شوی د موآب د نابودۍ وخت

او زر به يې راورسيږي د تباهۍ وخت

۱۷ ای هغو خلکو چې اوسېږئ د مواب سره نژدې

وکړئ ماتم د هغه قوم دپاره

ای هغو خلکو چې شهرت نه يې خبر يئ تاسو

ووايئ له منځه تللی قوي حکومت د هغه

نشته دی نور د هغه جلال او قدرت

۱۸ ای اوسېدونکو د ديبون شئ رانښکته

د خپل شان او شوکت له ځايه


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خاورو کې کښېنئ په ځمکه باندې

تباه کوونکي برید کړی هغه په موآب باندې

چې په کنډرو یې بدل کړي کلاګاني ورته

۱۹ ای هغو خلکو چې اوسېږئ عروعیر کې تاسو

ودرېږئ تاسو د سرک په غاړه او انتظار وکړئ

د هغو خلکو نه چې تېښته کوي پوښتنه وکړئ تاسو

معلومات واخلئ د هغوی نه چې شوي دي څه

۲۰ هغوی به درکړي ځواب چې ماتې خوړلې موآب

وژاړئ هغه دپاره چې سپکاوی یې شوی

کړئ دا اعلان د ارنون د سیند په غاړه


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۱ په هغو ښارونو باندې چې په لوړو ځايونو کې پراته دي يعنې
د حولون، يهصه، ميفاعت، ۲۲ ديبون، نبو، بيتدبلاتايم، ۲۳ قريتايم،
بيتجامول، بيتمعون، ۲۴ قريوت، بصره او د موآب د نورو ټولو
ښارونو په هکله د فيصلې کولو وخت رارسېدلی دی. ۲۵ د موآب
زور مات شوی او قدرت يې له منځه تللی دی. زه ښښتن داسې
وايم.»

## د موآب خوارېدل

۲۶ ښښتن وويل: «موآب نشه کړئ، ځکه چې هغه ځان ما نه
پورته ګڼلی دی. موآب به په خپلو کانګو باندې رغړېږي او خلک به
ورباندې ملنډې وهي. ۲۷ ای موآبه، ايا ستا په ياد دي چې د
اسراييلو په خلکو باندې دې ملنډې وهلې؟ تا د هغوی سره داسې
چلند کاوه چې ګوندې هغوی د داړه مارانو د ډلې سره نيول شوي
دي.


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۸ ای د موآب اوسېدونکو، د خپلو ښارونو نه لاړ شئ! لاړ شئ
او د تيږو په کمرو کښې اوسېږئ! د هغې کوترې په شان شئ چې خپله
ځاله د يوې تنګې درې په ښنګ کښې جوړوي. ۲۹ موآب ډېر مغرور
دی! مونږ اورېدلي دي چې دا څومره مغرور، کبرجن او ځان
ښودونکي خلک دي او خپل ځانونه د نورو نه لوړ ګڼي. ۳۰ زه
ښښتن د هغوی د غرور نه خبر يم. هغوی هسې لافې وهي او کوم
کارونه چې هغوی کوي، هغه به دوام ونه مومي. ۳۱ نو زه به د ټولو
موآبيانو دپاره وژاړم او د قيرحارس د خلکو دپاره به وير وکړم. ۳۲
زه به د يعزير د خلکو نه د سبمه په خلکو باندې ډېر وژاړم. ای د
سبمې ښاره، ته د انګورو د هغه تاک په شان يې چې ښانګې يې د
مړې بحيرې تر بلې غاړې او تر يعزير پورې رسېږي. خو دښمنانو
ستاسو د انګورو او نورې مېوې له منځه وړې دي. ۳۳ د موآب د
حاصلخېزه وطن نه خوشحالي او خوښي تللې ده. ما د شرابو
جوړول بند کړي دي او د چاټيو نه نور شراب نه راوځي. خلک به
چيغې وهي، خو د خوشحالۍ چيغې نه.

۳۴ د حشبون نه تر العاله پورې خلک دومره په لوړ اواز ژاړي


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې د هغوی د ژړا اوازونه تر یاهص، صوغر، حورونایم او عجلت‌شلیشیا پورې اورېدل کېږي. حتی د نمریم ویاله هم وچه شوې ده. ۳۵ زه به د موآب خلک خپلو عبادتځایونو ته د سوځېدونکو قربانیو او خپلو خدایانو ته د خوشبویۍ د سوځولو څخه منع کړم. ما څښتن داسې ویلي دي.

۳۶ زما زړه د موآب او قیرحارس د خلکو په خاطر داسې فریاد کوي لکه څوک چې په شپېلۍ باندې د غم سندره وایي، ځکه چې هغوی چې هر څه درلودل، هغه له منځه تللي دي. ۳۷ هغوی ټولو د غم نه خپل سرونه او خپلې ږیرې خریلې دي. هغوی ټولو خپل لاسونه غوڅ کړي او د ویر کالي یې اغوستي دي. ۳۸ د موآب د ټولو کورونو په بامونو او په ټولو چوکونو کې د ویر نه پرته بل څه نشته، ځکه چې ما موآب د منګي په شان داسې ټوټې ټوټې کړی دی چې هېڅوک ورڅخه کار نه اخلي. ۳۹ ګورئ، موآب څنګه ټوټې ټوټې شوی دی! د خلکو ژړا یې واورئ! موآب څنګه د رسوایۍ سره مخ شوی دی. هغه په کنډوالو باندې بدل شوی دی او شاوخوا ټول قومونه ورباندې ملنډې وهي. ما څښتن داسې ویلي


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دي.»

## د موآب په هکله د څښتن قضاوت

۴۰ څښتن داسې وايي: «يو قوم به لکه د عقاب په شان د خپلو
خلاصو وزرونو سره په موآب باندې غوټه راووهي ۴۱ او د هغه
ښارونه او کلاګانې به ونيسي. په هغه ورځ به د مواب عسکر داسې
وېرېږي لکه يوه ښځه چې د لنګون په وخت کې وېرېږي. ۴۲ موآب
به تباه شي او هغه به نور د يو قوم په توګه پاتې نه شي، ځکه چې
زما نه يې خپل ځان پورته ګڼلی دی. ۴۳ وېره، کندې او دامونه د
موآب خلکو ته سترګې په لاره دي. څښتن داسې ويلي دي. ۴۴
هرڅوک چې له وېرې د تښتېدلو کوښښ وکړي، نو هغه به کندې ته
وغورځېږي او هرڅوک چې د کندې نه راووځي، هغه به په دام کې
راګېر شي، ځکه چې څښتن د موآب دپاره د سزا ورکولو وخت
ټاکلی دی. ۴۵ بې‌وسه فراري خلک کوښښ کوي چې د حشبون
ښار ته چې يو وخت سيحون پاچا ورباندې حکومت کاوه پناه
يوسي، خو هغه ښار د اور په لمبو کې سوځي. اور د موآب د جنګ


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خوښوونکو خلکو غرنۍ لوړې سیمې او سرحدونه وسوځول. ۴۶ افسوس د موآب د خلکو په حال! کومو خلکو چې د کموش بت ته عبادت کاوه، هغوی له منځه تللي او د هغوی زامن او لورګانې د اسیرانو په توګه بېول شوي دي.

۴۷ خو په راتلونکي کې به څښتن یوځل بیا موآب ته نېکمرغي راولي.» څښتن د موآب د سزا په هکله داسې ویلي دي.

## د عمون خلکو ته د څښتن پیغام

۱ څښتن د عمونیانو په هکله داسې وویل: «د اسراییلو خلک چېرته دي؟ ایا داسې څوک نشته چې د هغوی د وطن نه دفاع وکړي؟ هغوی ولې هغه خلک چې د مولک عبادت کوي، پرېښي دي چې د جاد د قبیلې سیمه ونیسي او د هغې په ښارونو کې واوسېږي؟ ۲ خو هغه وخت راروان دی چې زه به د پایتخت یعنې د ربه د ښار په خلکو باندې د جنګیالیو اواز واوروم او هغه ښار به په کنډوالو باندې بدل شي او کلي به یې وسوځېږي. بیا به د اسراییلو


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خلک خپل وطن بېرته د هغو خلکو نه ونیسي چې د دوی شخه یې نیولی وُ. ۳ ای د حشبون خلکو، وژاړئ! ځکه چې د عای ښار وران شوی دی! ای د ربه ښځو، خپل د ویر کالي واغوندئ او ویر وکړئ. د وارخطایۍ نه اخوا دې خوا منډې وهئ. ستاسو خدای مولک به د خپلو کاهنانو او خادمانو سره د اسیرانو په توګه بوتلل شي. ۴ ای بې‌ایمانه خلکو، تاسو ولې لافې وهئ؟ ستاسو قوت له منځه تللی. تاسو ولې په خپلې شتمنۍ باندې تکیه کوئ او وایئ چې هېڅوک جرات نه شي کولای چې په تاسو باندې حمله وکړي؟» ۵ مطلق قادر څښتن وایي: «زه به په تاسو باندې د هرې خوا نه وېره راولم او تاسو ټول به وشړل شئ. هر یو به د خپل ځان له وېرې منډې وهي او هېڅوک به نه وي چې ستاسو لښکرې بېرته سره راټولې کړي. ۶ خو وروسته به زه یوځل بیا عمونیانو ته نېکمرغي راولم. ما څښتن داسې ویلي دي.»

## د ادوم په هکله د قضاوت پیغام

۷ مطلق قادر څښتن د ادوم په هکله داسې وویل: «ایا د ادوم


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

خلکو خپل عقل له لاسه ورکړی؟ ایا د هغوی مشاوران نور نه شي
کولای هغوی ته ووایي چې باید څه وکړي؟ ایا د هغوی ټول حکمت
له منځه تللی دی؟ ۸ ای د ددان خلکو، راوګرځئ، وتښتئ او پټ
شئ! زه د عیسو اولاده له منځه وړم، ځکه چې هغه وخت رارسېدلی
دی چې هغوی ته سزا ورکړم. ۹ کله چې خلک انګور راټولوي، نو
هغوی لږ څه په تاکونو کې پرېږدي او کله چې د شپې غله راشي، نو
کوم شی یې چې په کار وي، هغه وړي. ۱۰ خو زه به د عیسو د
اولادې نه هر څه واخلم او د هغوی د پټېدلو ځایونه به ښکاره کړم،
ترڅو هغوی ونه شي کولای خپل ځانونه پټ کړي. زه به د ادوم ټول
خلک یعنې د هغوی اولادونه، خپلوان او ګاونډیان له منځه یوسم.
۱۱ خو خپل یتیمان ما سره پرېږدئ، زه به په هغوی باندې پام کوم.
ستاسو کونډې کولای شي چې په ما باندې تکیه وکړي.

۱۲ حتی هغه خلک چې د سزا ورکولو وړ نه دي، مجبور دي
چې د سزا د پیالې نه وڅښي. ایا تاسو فکر کوئ چې تاسو به بې‌سزا
پاتې شئ؟ نه، تاسو به خامخا د دې پیالې څخه وڅښئ! ۱۳ ما خپله
دا قسم خوړلی چې د بصرې د ښار نه به دښته او یوه وېروونکې


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نندارە جوړه شي، خلک به ورباندې ملنډې وهي او د هغه نوم به د لعنت دپاره کاروي. ټول کلي به د تل دپاره کنډواله پراته وي. ما ښتن داسې ويلي دي.»

۱۴ ما وويل: «ای ادومه، ما د ښتن له خوا يو پيغام ترلاسه کړ. هغه يو استازی رالېږلی چې ټولو قومونو ته ووايي: ‹خپلې لښکرې راټولې کړئ او په ادوم باندې د حملې دپاره تيار اوسئ. ۱۵ ښتن غواړي چې تا د قومونو په منځ کې کمزوری کړي او هېڅوک به ستا درناوی نه کوي. ۱۶ ته خپل غرور غولولی يې. هېڅوک به ستا څخه دومره نه وېرېږي لکه څومره چې ته فکر کوې. ته په کمرونو او د لوړو غرونو په سر باندې اوسېږې، خو که ته د عقاب په شان په لوړ ځای کې هم اوسېږې، نو ښتن به دې لاندې راوغورځوي. ښتن داسې ويلي دي.›»

۱۷ ښتن وويل: «په ادوم باندې به چې کومه بلا راځي هغه به دومره وېرووونکې وي چې هرڅوک له هغه ځای څخه تېرېږي، نو هغه به ولړزيږي او حيران به پاتې شي. ۱۸ لکه څنګه مې چې د سدوم او عموره او د هغو شاوخوا ښارونه له منځه يووړل، نو د ادوم


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

سره به هم همداسې کار وکړم. هېڅوک به نور هلته نه اوسیږي. ما ښبنتن داسې ویلي دي. [١٩] لکه یو زمری چې د اردن د یو ګڼ ځنګل نه کوم شین څړځای ته راوځي، زه ښبنتن به هم همداسې راشم او بابلیان به دې ته مجبور کړم چې ناڅاپه د خپل ښار نه وتښتي. بیا به یو مشر وټاکم چې په هغه قوم باندې حکومت وکړي. څوک زما په شان کېدای شي؟ څوک خپل ځان ما سره برابرولی شي؟ کوم حکمران زما سره مخالفت کولای شي؟ [٢٠] نو بیا هغه پلان ته پام وکړئ چې ما د موآب په ضد جوړ کړی دی چې د تیمان د ښار د خلکو سره به څه وشي. حتی د هغوی ماشومان به د پسونو په شان په راښکلو راښکلو بوتلل شي او هر یو به ووېرېږي. [٢١] کله چې ادوم سقوط وکړي، نو هلته به داسې شورماشور وي چې ټوله نړۍ به ولړزېږي او د هغوی د ژړا اوازونه به تر سرې بحیرې پورې واورېدل شي. [٢٢] ګورئ، یو قوم به لکه د عقاب په شان د خپلو خلاصو وزرونو سره په بصرې باندې غوټه راووهي. په هغه ورځ به د ادوم عسکر داسې وېرېږي لکه یوه ښځه چې د لنګون په وخت کې وېرېږي.»


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د دمشق په هکله د قضاوت پیغام

(۲۳) څښتن د دمشق په هکله داسې وايي: «د حمات او ارفاد د ښارونو خلک پرېشانه او ناارامه دي، ځکه چې هغوی بد خبرونه اورېدلي دي. په هغوی باندې اندېښنې لکه د بحيرې د څپو په شان اوړي او رااوړي او هغوی نه شي کولای چې ارام وکړي. (۲۴) د دمشق خلک کمزوري شوي او له وېرې نه تښتېدلي دي. هغوی په داسې درد او کړاو باندې اخته دي لکه يوه ښځه چې د لنګون په وخت کې ورباندې اخته وي. (۲۵) هغه مشهور ښار يعنې د خوشحاليو ښار اوس وران او ويجاړ پروت دی. (۲۶) په هغه ورځ به د هغه ځوانان د ښار په کوڅو کې ووژل شي او ټول عسکر به يې له منځه لاړ شي. (۲۷) د دمشق دېوالونو ته به اور واچوم او د بنهدد پاچا ماڼۍګانې به وسوځوم. ما مطلق قادر څښتن داسې ويلي دي.»

## د قيدار د قبيلې او حاصور د ښار په هکله د قضاوت پیغام


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

۲۸ دا هغه څه دي چې څښتن د قيدار د قبيلې او هغو سيمو په
هکله ويلي دي چې د حاصور تر کنترول لاندې دي او د بابل د
پاچا نبوکدنصر له خوا فتح شوې وې: «د قيدار په خلکو باندې
حمله وکړئ او ختيځ خواته پرته قبيله له منځه يوسئ! ۲۹ د هغوی
خېمې او رمې، د هغوی د خېمو پردې او هر څه چې د هغوی په
خېمو کې دي، ونيسئ. د هغوی اوښان بوځئ او خلکو ته ووايئ: ‹له
هرې خوا نه په تاسو باندې وېره راخپره شوې ده!›

۳۰ ای د حاصور خلکو، زه څښتن تاسو ته خبرداری درکوم چې
لېرې وتښتئ او پټ شئ. د بابل پاچا ستاسو په ضد دسيسه جوړه
کړې ده. ۳۱ ما څښتن پخپله بابليانو ته دا حکم ورکړی دی: ‹په دې
خلکو باندې چې خپل ځانونه خوندي او ډاډه ګڼي، حمله وکړئ! د
هغوی ښار نه دروازې لري او نه قلفونه او نه ورسره په خوا کې کوم
ملاتړ کوونکي شته. ما څښتن داسې ويلي دي.›

۳۲ د هغوی اوښان او ټول څاروي د غنيمت په توګه بوځئ! زه
به هغه خلک چې خپل ويښتان يې لنډ کړي دي، هرې خواته خواره
واره کړم او په هغوی باندې به له هرې خوا نه مصيبت راولم. ۳۳


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

حاصور به د تل دپاره په یوې داسې دښتې باندې بدل شي چې یوازې سورلنډیان به په کې اوسیږي. هلته به نور هېڅوک نه اوسیږي. ما څښتن دا هر څه ویلي دي.»

## د عیلام په هکله د قضاوت پیغام

۳۴ کله چې صدقیا د یهودا پاچا شو، نو د هغه د پاچاهۍ لا ډېره موده نه وه تېره شوې چې څښتن د ارمیا سره د عیلام د وطن په هکله خبرې وکړې. ۳۵ مطلق قادر څښتن داسې وویل: «زه به هغه غشي ویشتونکي چې عیلام یې دومره قوي کړی دی، ووژنم. ۳۶ زه به له هرې خوا نه په عیلام باندې دښمنان راولم او د هغوی خلک به په هرځای کې خواره واره کړم، ترڅو داسې وطن نه وي چې د هغه خلک ورته مهاجر شوي نه وي. ۳۷ زه به د عیلام د خلکو په زړونو کې وېره واچوم، ترڅو د خپلو دښمنانو نه ووېرېږي چې غواړي دوی ووژني. زه به په خپل سخت قهر سره د عیلام خلک تباه کړم او تر هغې پورې به د هغوی په وړاندې لښکرې لېږم، ترڅو هغوی له منځه لاړ شي. ۳۸ زه به د هغوی پاچا او مشران له منځه یوسم او


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خپل تخت به هلته کېږدم. ۳۹ خو په راتلونکي کې به زه د عیلام خلک یوځل بیا نېکمرغه کړم. ما ښښتن داسې ویلي دي.»

## د بابل نیول

۱ دا هغه پیغام دی چې ښښتن ما ته د بابل د ښار او د هغه د شاوخوا سیمې په هکله راکړ:

۲ ټولو قومونو ته ورسوئ دا خبر

او اعلان کړئ هغه

بیرغ اوچت کړئ او کړئ اعلان دا خبر

مه ساتئ پټه دا خبره

بابل کړی دی سقوط

شرمېدلی دی د بیل بت


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او ټوټې ټوټې شوی بت د مرودک

وشرمېدل د بابليانو بتان

شولې ماتې مجسمې د هغه

۳ د شمال نه يو قوم راغلی دی چې په بابل باندې حمله وکړي
او هغه به په دښتې باندې بدل کړي. خلک او حيوانات به وتښتي او
هېڅوک به هلته ونه اوسيږي.

## د اسراييلو د قوم راستنېدل

۴ ښتن داسې وايي: «کله چې هغه وخت راشي، نو د اسراييلو
او يهودا خلک به په ګډه په ژړا ژړا راروان وي او خپل ښتن
خدای به ولټوي. ۵ هغوی به د صهيون د لارې په هکله پوښتنه
وکړي او بيا به هماغې خواته روان شي. هغوی به زما سره يو تلپاتې
لوظ وکړي او هغه به هېڅکله نه ماتيږي.


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۶ زما غوره شوی قوم د ورکو شویو پسونو په شان دی چې د
هغوی شپنو بې‌لارې کړي دي او هغوی په غرونو کې ورک شوي
دي. هغوی په غرونو او غونډيو کې سرګردانه ګرځي او خپل کور
ورڅخه هېر شوی دی. ۷ هرچا چې هغوی موندل، نو حمله يې
ورباندې کوله. د هغوی دښمنان وايي: ‹هغوی د څښتن په وړاندې
چې د هغوی رښتينی شپون ؤ، ګناه کړې ده، نو مونږ کوم غلط کار نه
دی کړی. د هغوی نيکونو په څښتن باندې توکل کاوه او هغوی هم
بايد هغه ته وفادار پاتې شوي وای.›

۸ ای د اسراييلو خلکو، د بابل نه وتښتئ! تاسو د ټولو نه
مخکې لاړ شئ، لکه د وزانو په شان چې د رمې څخه مخکې روان
وي. ۹ ځکه زه به په شمال کې د قوي قومونو څخه يوه ډله
راپورته کړم چې په بابل باندې حمله وکړي. هغوی به د دې وطن په
وړاندې د جنګ په ليکو کې ودرېږي او هغه به فتح کړي. هغوی
تکړه غشي ويشتونکي دي، هغوی داسې غشي ولي چې يوه نښه هم
ورڅخه نه خطا کيږي. ۱۰ بابل به لوټ کړای شي او لوټماران به کوم
شيان چې غواړي، هغه به له ځان سره يوسي. ما څښتن داسې ويلي


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

دي.»

## د بابل سقوط

۱۱ څښتن وايي: «ای د بابل خلکو، تاسو زما غوره شوی قوم
لوټ کړ. تاسو خوښ او خوشحاله يئ او لکه د خوسی په شان په
څړځايونو کې ټوپونه وهئ او يا لکه د قوي اس په شان شنهېږئ، ۱۲
خو ستاسو خپل هغه ښار چې تاسو يې روزلي يئ، سپک او د
رسوايی سره به مخ شي. بابل به په ټولو قومونو کې بې‌ارزښته قوم
وي، هغه به په يوه دښته، وچه ځمکه او صحرا باندې بدل شي. ۱۳
زما د قهر له امله به نور په دې ښار کې هېڅوک هم نه اوسيږي.
هغه به په داسې کنډوالو باندې بدل شي چې هرڅوک ورباندې
تېرېږي، نو د هغه د تباهی له امله به ورپيږي او حيران به شي.

۱۴ ای غشي ويشتونکو، د بابل په وړاندې د جنګ په ليکو کې
ودرېږئ او هغه کلابند کړی. په خپلو ټولو غشو باندې بابل وولئ،
ځکه چې هغه زما په وړاندې ګناه کړې ده. ۱۵ د ښار شاوخوا ته د


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

جنګ نارې ووهئ! ګورئ، بابل تسليم شوی دی. د هغه دېوالونه
راغورځېدلي او وران شوي دي. زه د بابليانو نه خپل بدل اخلم.
تاسو هم د هغوی نه خپل بدل واخلئ او د هغوی سره داسې چلند
وکړئ لکه څنګه چې هغوی د نورو سره کاوه. ۱۶ مه پرېږدئ چې
په هغه وطن کې تخم وکرل شي او يا حاصل راټول کړای شي. کوم
پردي خلک چې هلته اوسېږي، هغوی به د لښکرو د حملو نه
ووېرېږي او بېرته به خپل هېواد ته وتښتي.»

## د اسراييلو راستنېدل

۱۷ څښتن وايي: «د اسراييلو خلک د هغو پسونو په شان دي
چې زمريان ورپسې وي او خواره واره يې کړي. لومړی د آشور
پاچا هغوی تباه کړل او بيا د بابل پاچا د هغوی هډوکي وژول. ۱۸
نو په دې خاطر زه مطلق قادر څښتن د اسراييلو خدای به
نبوکدنصر پاچا او د هغه وطن ته سزا ورکړم لکه څنګه چې مې د
آشور پاچا ته ورکړه. ۱۹ زه به د اسراييلو خلک بېرته خپل وطن ته
راولم. هغوی به هغه خواړه خوري کوم چې د کرمل په غره او باشان


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په سیمه کې کرل کیږي او هر څه چې هغوی غواړي، نو د افرایم او
جلعاد د سیمو د حاصلاتو نه به یې خوري. ۲۰ کله چې هغه وخت
راشي، نو په اسراییلو کې به نه ګناه ولیدل شي او نه به په یهودا کې
بدي، ځکه چې زه به هغه خلک وبخښم چې د هغوی ژوند مې
ژغورلی دی. ما ښښتن داسې ویلي دي.»

## د بابل په هکله د خدای قضاوت

۲۱ زه ښښتن داسې وایم: «د مراتایم او فقود په خلکو باندې
حمله وکړئ. هغوی ووژنئ او بیخي یې له منځه یوسئ. زه چې درته
کوم حکم درکوم، په هغه باندې عمل وکړئ. ۲۲ په بابل کې د جنګ
شورماشور اورېدل کیږي او هلته لویه تباهي روانه ده. ۲۳ بابل لکه د
څټک په شان ؤ چې ټوله نړۍ یې ووهله. خو اوس په هغه څټک
کې زور نشته، ځکه چې مات شوی دی. د دې وطن سره چې څه
شوي دي، ټول قومونه په وېره کې دي. ۲۴ ای بابله، تا زما سره
جنګ کړی دی او ته په هغه دام کې راګیر شوی یې چې ما درته
ایښی ؤ او ته ورڅخه خبر نه وې. ۲۵ ما خپل وسله‌تون خلاص کړ


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې وسلې په کې ذخيره دي او د قهر وسلې مې ترې راوويستلې،
ځکه چې زه مطلق قادر څښتن تعالی به دا وسلې د بابليانو په
خلاف د هغوی په هېواد کې وکاروم. ۲۶ د هرې خوا نه په بابل
باندې حمله وکړئ او د هغه د غلو دانو ګودامونه خلاص کړئ! د
غنيمت مال لکه د غلو دانو د درمند په شان ډېری کړئ! هغه وطن
په پوره توګه وران کړئ! هېڅ شی هم پرېنږدئ! ۲۷ ټول عسکر يې
ووژنئ! د هغه ځوانان لکه د خارويو په شان حلالولو ته بوځئ!
افسوس د بابل د خلکو په حال! د هغوی د تباهۍ او د سزا وخت
رارسېدلی دی!

۲۸ هغو کسانو ته غوږ ونيسئ چې د بابل نه تښتي او اورشليم ته
راځي. هغوی وايي چې زمونږ څښتن خدای څنګه د بابليانو نه د
خپل عبادتځای د ورانولو بدل واخيست.

۲۹ غشي ويشتونکي راوغواړئ چې بابل کلابند کړي او هېڅوک
پرېنږدي چې وتښتي. هغوی ته د خپلو عملونو سزا ورکړئ او د
هغوی سره داسې چلند وکړئ لکه څنګه چې دوی د نورو سره کړی
دی، ځکه چې هغوی زما يعنې د اسراييلو د سپېڅلي خدای په


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خلاف د غرور نه ډک عمل کړی دی. ۳۰ نو ځوانان به يې د ښار په چوکونو کې ووژل شي او په هغه ورځ به د هغه ټول عسکر له منځه لاړ شي. ما ښښتن داسې ويلي دي.

۳۱ ای بابله، ته ډېر مغرور شوی يې، نو زه مطلق قادر ښښتن تعالی ستا سره مخالف يم! هغه وخت رارسېدلی دی چې سزا درته درکړم. ۳۲ ستا مغرور قوم به وښوييږي او وبه لوېږي او هېڅوک به درسره مرسته ونه کړي، ترڅو بېرته راپاڅېږي. زه به ستا ښارونو ته اور واچوم او شاوخوا ټول شيان به له منځه لاړ شي.»

۳۳ مطلق قادر ښښتن داسې وايي: «د اسراييلو او يهودا په خلکو باندې ظلم شوی دی. کومو خلکو چې هغوی يې د اسيرانو په توګه نيولي دي، د هغوی څخه سخته ځارنه کوي او هغوی نه پرېږدي چې لاړ شي. ۳۴ خو د هغوی ژغورونکی چې نوم يې مطلق قادر ښښتن دی، هغه قوي دی او د هغوی نه دفاع او ساتنه کوي. نو په دې توګه به نړۍ ته سوله او ارامي راولي، خو د بابل خلکو ته به نارامي راولي.


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ښښتن وايي:

۳۵ تباه دې کړي بابل د تباهۍ توره

وي دې تباه د هغه خلک

هم حاکمان او هم هوښيار خلک

۳۶ وي دې تباه دروغجن پيغمبران د هغه

شي به ثابت هغوی بېعقله

وي دې تباه جنګيالي د هغه

خومره ډار شوي هغوی

۳۷ کړئ تباه د هغه اسونه او جنګي ګاډۍ

وي دې تباه اجير عسکر د هغه



Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

خومره کمزوري دي هغوی

کړئ تباه خزانې د هغه

کړئ لوټ او تالا هغه

۳۸ وچکالي دې راشي په بابل باندې

او وچ دې شي د هغه سيندونه

ځکه ډک دی بابل د بتانو څخه

دي وېروونکي د بابل بتان

چې د خلکو نه يې جوړ کړي احمقان

۳۹ په بابل کې به سورلنډيان د دښتې د حيواناتو او بومانو سره
واوسيږي. هلته به خلک نور نه اوسيږي او تل به شاړ او نااستوګن
پروت وي. ۴۰ لکه څنګه چې مې سدوم او عموره او د هغو ګاونډي
ښارونه له منځه يووړل، نو د بابل سره به هم هماغسې وشي.


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هېڅوک به نور هلته نه اوسيږي. ما ښبنتن داسې ويلي دي.

۴۱ خلک راروان دي د شمال نه

يو زورور قوم د نړۍ د لېرې ځای نه

تياری نيسي د جنګ دپاره ډېر پاچاهان

۴۲ هغوی راخيستې دي خپلې ليندې او تورې

دي ظالمان او بې‌رحمه هغوی

ښنګه چې شي سپاره خپلو اسونو باندې

کوي اواز د غړمبېدونکې بحيرې په شان

د بابل په وړاندې هغوی تيار دي جنګ ته

۴۳ واورېد پاچا د بابل دا خبر


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

او شول لاسونه يې سست

هغه اخته شو په کړاو باندې

په داسې درد چې د لنګون په وخت کې

راځي په ښځې باندې

۴۴ لکه يو زمرى چې د اردن د يو ګڼ ځنګل نه کوم شين څړځاى ته راوځي، زه څښتن به هم همداسې راشم او بابليان به دې ته مجبور کړم چې ناځاپه د خپل ښار نه وتښتي. بيا به يو مشر وټاکم چې په هغه قوم باندې حکومت وکړي. څوک زما په شان کېداى شي؟ څوک ما سره سيالي کولاى شي؟ کوم حکمران زما سره مخالفت کولاى شي؟ ۴۵ نو بيا هغه پلان ته پام وکړئ چې ما د بابل د ښار په ضد جوړ کړى دى چې د هغه د خلکو سره به څه وشي. حتى د هغوى ماشومان به په کشولو کشولو سره بوتلل شي او هر يو به ووېرېږي. ۴۶ کله چې بابل سقوط وکړي، نو هلته به داسې شورماشور وي چې ټوله نړۍ به ولړزيږي او د هغوى د ژړا اوازونه


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

به نور قومونه هم واوري.»

## د بابل په هکله قضاوت

١ څښتن وايي: «زه به په بابل او د هغه په خلکو باندې يو تباه
کوونکی باد راوالوزوم. ٢ زه به پردي خلک ورولېږم چې بابل
داسې تباه کړي لکه باد چې بوس بادوي. کله چې د تباهۍ هغه ورځ
راورسيږي، نو هغوی به له هرې خوا حمله وکړي او هغه وطن به
وران او ويجاړ کړي. ٣ ای پرديو خلکو، د هغه عسکر مه پرېږدئ
چې خپل غشي ګوزار کړي او يا خپل د زغرو کالي واغوندي.
ځوانان ژوندي پرېنږدئ او ټول لښکر يې له منځه يوسئ! ٤ هغوی
به زخميان شي او د خپلو ښارونو په کوڅو کې به مړه پراته وي. ٥
ما مطلق قادر څښتن د اسراييلو او يهودا خدای هغوی نه دي
پرېښي، سره له دې چې هغوی په ټول هېواد کې زما يعنې د اسراييلو
د سپېڅلي خدای په وړاندې ګناه کړې ده.

٦ ای د اسراييلو خلکو، د بابل نه وتښتئ! د خپلو ځانونو د


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خلاصون په خاطر وتښتئ! د بابل د ګناه په خاطر خپل ژوند له
لاسه مه ورکوئ. زه اوس خپل بدل اخلم او داسې سزا به ورته
ورکړم چې هغوی يې لايق دي. ۷ بابل زما په لاس کې د سرو زرو
د هغې پيالې په شان ؤ چې ټولې نړۍ به ورڅخه شراب څښل او
نشه کېدل به. قومونو به د هغې نه شراب څښل او لېونيان به شول.
۸ بابل ناڅاپه سقوط وکړ او تباه شو! په هغه باندې وژاړئ! د هغه
د ټپونو دپاره ملهم واخلئ، کېدای شي چې هغه روغ شي. ۹ کوم
اسراييليان چې هلته اوسېدل، هغوی وويل: ‹مونږ کوښښ کاوه چې د
بابل سره مرسته وکړو، خو ناوخته شوې وه. راځئ چې اوس يې
پرېږدو او ټبرته خپل وطن ته لاړ شو. خدای په خپل ټول قدرت
سره بابل ته سزا ورکړه او هغه يې بېخي وران کړی دی.›»

۱۰ څښتن وايي: «ای زما قومه اعلان وکړئ، څښتن دا وښودله
چې مونږ په حقه يو. راځئ د اورشليم خلکو ته ووايو چې زمونږ
څښتن خدای څه کړي دي.»

۱۱ څښتن د ماد پاچاهان ولمسول، ځکه هغه اراده لري چې بابل
له منځه يوسي. هغه به په دې ډول د خپل عبادتځای د ورانېدلو بدل


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

واخلي. حمله کوونکو قومندانانو خپلو عسکرو ته امر وکړ: «خپل غشي تېره کړئ! خپل سپرونه تیار کړئ! ۱۲ په بابل باندې د حملې کولو په خاطر د جنګ بیرغ اوچت کړئ. د ساتونکو او پهره‌دارانو شمېر زیات کړئ او هغوی ځای په ځای کړئ! په کمین کې سړي کښېنوئ!» څښتن چې د بابل په هکله څه ویلي وو او کوم پلان یې چې درلود، هغه یې سرته ورساوه.

۱۳ هغه وطن ډېر سیندونه او غني خزانې لري، خو وخت یې پوره شوی دی او د ژوند سلسله یې ختمه شوې ده. ۱۴ مطلق قادر څښتن په خپل ذات باندې قسم خوړلی دی چې په بابل باندې به د حملې دپاره د ملخانو د ډلو په شان ډېر کسان راولي او هغوی به د بریالیتوب چیغې ووهي.

## خدای ته د ثنا او صفت سندره

۱۵ څښتن جوړه کړله ځمکه خپل قدرت باندې

کړله پیدا یې دنیا په خپل حکمت باندې


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او اسمان يې خپور کړ په خپلې پوهې باندې

۱۶ اوبه غړمبيږي پاس اسمان کې د هغه په حکم

راولي وريځې هغه د دنيا له بله سره

په باران کې پړقوي هغه بريښنا

راليږي باد هغه له خپلې ذخيرې څخه

۱۷ خو بېعقل او بېعلمه دي دوی

څوک چې بتان جوړوي وبه شرميږي هغوی

ځکه دي دروغ او بېساه

هغه خدايان چې جوړوي يې هغوی

۱۸ هغوی ارزښت نه لري، نو بايد سپک شي هغوی


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کله چې راشي د سزا وخت د هغوی

نو شي تباه به دوی

۱۹ د یعقوب خدای نه دی د دوی په شان

دي پیدا کړي ټول شیان هغه

او اسراییل یې غوره کړی چې خپل قوم یې شي

د هغه نوم دی مطلق قادر څښتن

## د څښتن وسله

۲۰ څښتن وایي:

ای بابله، ته یې څټک زما، یې زما د جنګ وسله

زه ټکومه ټول قومونه په تا او له منځه وړمه پاچاهۍ


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۱ چې اسونه او سپاره خلک يې کړم ټوټې ټوټې

جنګي ګاډی او چلوونکي يې کړم ټوټې ټوټې

۲۲ چې زه ووژنم سړي او ښځې

چې زه حلال کړمه زاړه او ځوانان

چې زه ووژنم ځوانان او پېغلې

۲۳ چې حلال کړمه شپانه او رمې د هغوی

چې حلال کړم بزګران او غويان د هغوی

چې تباه کړم واليان او مشران

## بابل ته سزا

۲۴ خښتن داسې وايي: «تاسو به ووينئ چې زه به بابل او د هغه


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خلکو نه د هغو ټولو بدو کارونو په خاطر چې د اورشلیم سره یې
کړي دي، بدل واخلم. ۲۵ ای بابله، ته د هغه غره په شان یې چې
ټوله نړۍ تباه کوي، خو زه څښتن ستا دښمن یم. زه به تا د ګړنګونو
نه راورغړوم، د ځمکې سره به دې برابر کړم او ایرې به درڅخه
جوړې کړم. ۲۶ ستا د کنډوالو د تیږو نه به نور د ودانیو د تهداب په
ایښودلو کې کار نه اخیستل کیږي. ته به تل د دښتې په شان پاتې
شې. زه څښتن داسې وایم.

۲۷ د حملې کولو دپاره اشاره ورکړئ! سرنی ووهئ چې ټول
قومونه یې واوري! د بابل په وړاندې د جنګ دپاره قومونه تیار
کړئ! د آرارات، میني او اشکناز پاچاهانو ته ووایئ چې حمله
وکړي. یو قوماندان وټاکئ چې د حملې کولو مشري وکړي. د ملخانو
د هجوم په شان زیات اسونه راولئ. ۲۸ د بابل سره د جنګ دپاره
قومونه تیار کړئ. د ماد پاچاهان، د هغوی والیان او مشران او د هغو
ټولو هېوادونو لښکرې چې د هغوی تر واک لاندې دي، راوغواړئ.
۲۹ ځمکه لړزیږي او له درده تاویږي، ځکه چې څښتن خپل پلان
عملي کوي او بابل په یوه داسې دښته باندې بدلوي چې هېڅوک به


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

په کې نه اوسيږي. ۳۰ د بابل عسکرو جنګ بس کړی او په خپلو
کلاګانو کې پاتې دي. هغوی خپل جرات له لاسه ورکړی او د ښځو
په شان شوي دي. د ښار دروازې راغورځېدلې او کورونه په اور کې
سوځي. ۳۱ استازي يو د بل پسې منډې وهي چې د بابل پاچا ته
ووايي چې د هغه ټول ښار له هرې خوا نه نيول شوی دی. ۳۲
دښمنانو د سيند ګودرونه نيولي دي او د سيند د غاړې لوخو ته يې
اور اچولی دی. د بابل عسکر وارخطا شوي دي. ۳۳ ډېر زر به
دښمن هغوی له پښو وغورځوي او هغوی به داسې تر پښو لاندې
کړي لکه غلې دانې چې په غوبل کې تر پښو لاندې کيږي. زه مطلق
قادر څښتن يعنې د اسراييلو خدای داسې وايم.»

د اورشليم خلک وايي:

۳۴ ټوټې ټوټې کړلو پاچا د بابل او ويې خوړلو

هغه خالي کړلو ښار لکه منګي په شان

لکه بلا په شان يې لواړ تېر کړلو


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کړله مړه يې خپله خېټه

زمونږ په ښو شيانو باندې

او نور يې وغورځول لېرې

۳۵ پر ېږده چې وايي د صهيون خلک

بابل دې واخلي د هغه ظلم مسووليت په غاړه

چې شوی دی په مونږ باندې

پر ېږده چې وايي د اورشليم خلک

بابل دې واخلي مسووليت په غاړه

زمونږ د وينې چې تويه کړې ده دوی

## د بابليانو څخه بدل اخيستل


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۳۶ نو څښتن د اورشليم خلکو ته وويل: «زه به ستاسو د دعوې
نه دفاع وکړم او ستاسو د دښمنانو نه به ستاسو بدل واخلم. زه به د
بابل د اوبو سرچينې او سيندونه وچ کړم. ۳۷ د هغه وطن نه به داسې
کنډواله جوړه شي چې سورلنډيان به په کې اوسيږي. د هغه نه به يوه
وېرووونکې منظره جوړه شي، هېڅوک به هلته نه اوسيږي او هرڅوک
چې هغه ووينې، نو حيران به پاتې شي. ۳۸ ټول بابليان به لکه د
زمريو په شان غړمبيږي او د زمريو د بچيانو په شان به غوريږي. ۳۹
ځرنګه چې هغوی ډېر وږي دي، نو زه به ورته مېلمستيا جوړه کړم،
هغوی به نشه کړم او خوشحاله به يې کړم. هغوی به په داسې ابدي
خوب ويده شي چې بيا به هېڅکله راويښ نه شي. ۴۰ زه به هغوی
بوځم چې د وريو، پسونو او وزو په شان يې حلال کړي. زه څښتن
داسې وايم.»

## د بابل سرنوشت

۴۱ څښتن د بابل په هکله وايي: «هغه ښار چې ټولې نړۍ به يې
صفت کاوه، هغه نيول شوی دی! بابل د نورو قومونو دپاره څومره په


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وېرووونکې ننداري باندې بدل شوی دی! ۴۲ په بابل باندې د بحيرې
اوبه راختلې دي او هغه يې په خپلو غړمبېدونکو څپو کې پټ کړی
دی. ۴۳ د هغه ښارګوټي په يوې وېرووونکې ننداري باندې بدل شوي
دي او د يوې وچې دښتې په شان دي چې هېڅوک په کې نه
اوسيږي او په هغه ځای باندې هېڅوک تګ راتګ نه کوي. ۴۴ زه به
د بابليانو خدای، بېل بت ته سزا ورکړم او څه چې هغه تېر کړي دي،
هغه به يې د خولې نه راوباسم. قومونه به نور د هغه عبادت نه کوي.
د بابل دېوالونه رالوېدلي دي.

۴۵ ای د اسراييلو خلکو، د هغه ځای نه وتښتئ! زما د سخت
قهر نه خپل ځانونه خلاص کړئ. ۴۶ تاسو چې کومې ګونګوسې
اورئ، نو د هغو له امله خپل جرات له لاسه مه ورکوئ او مه
وېرېږئ. هر کال ډول ډول اوازې خپرېږي يعنې په وطن کې د
زورزياتي او د يو پاچا د بل پاچا سره د جنګ اوازې. ۴۷ نو هغه
وخت راروان دی چې زه به د بابل بتانو ته سزا ورکړم. ټول بابل به
د رسوايۍ سره مخ شي او د خلکو مړي به په کې پراته وي. ۴۸ کله
چې بابل د هغو خلکو په لاس سقوط وکړي چې د شمال نه د هغه د


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

تباه کولو دپاره راځي، نو ځمکه، اسمان او ټول مخلوقات به د خوشحالۍ چيغې ووهي. ۴۹ بابل د ټولې نړۍ د خلکو دپاره د مرګ سبب شو او اوس به بابل سقوط وکړي، ځکه چې هغه د ډېرو اسراييليانو د مړينې سبب شوی دی. زه څښتن داسې وايم.»

## په بابل کې د اسراييليانو دپاره د خدای پيغام

۵۰ څښتن په بابل کې خپل قوم ته وايي: «تاسو د مرګ نه خلاص شوي يئ! اوس لاړ شئ! ځنډ مه کوئ! دلته په پردي وطن کې ما يعنې خپل څښتن راياد کړئ او د اورشليم په هکله فکر وکړئ.» ۵۱ تاسو وايئ: «مونږ رسوا او د سپکاوي سره مخ شوي يو. مونږ خپل ځانونه بيخي بې‌وسه ګڼو، ځکه چې پردي خلک د څښتن د کور سپېڅلي ځايونو ته ورننوتي دي.» ۵۲ نو زه څښتن داسې وايم چې هغه وخت راروان دی چې د بابل بتانو ته به سزا ورکړم او په ټول وطن کې به زخميان له درد نه زګېروي کوي. ۵۳ که بابليان اسمان ته هم وخېژي او هلته يوه قوي کلا جوړه کړي، نو زه هلته هم خلک ورولېږم چې هغه تباه کړي.


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# د بابل تباهي

۵۴ ښښتن وايي:

واورئ په بابل کې اوازونه د ژړا

د هېواد نه د لويې تباهۍ اواز

۵۵ زه ورانومه بابل

زه به خاموش کړم شورماشور د ښار

دي راروانې د مستو څپو په شان لښکرې تېزې

کوي حمله په شورماشور او چيغو

۵۶ هغوی راغلي چې تباه کړي بابل

دي نيول شوي د هغوی عسکر


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

او دي ماتې شوې لیندې د هغوی

ځکه زه هغه خدای یم چې ورکوم سزا بدکارو ته

او کوم به داسې چلند زه د بابل سره

چې یې لایق دي هغوی

٥٧ زه به نشه کړم د هغوی حاکمان

د هغوی هوښیار خلک، عسکر، مشران او والیان

شي به ویده په ابدي خوب هغوی

او راویښ به نه شي بیا هېڅکله

ما پاچا وویل داسې

دی زما نوم مطلق قادر څښتن


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۵۸ راغورځيږي به د بابل قوي دېوالونه

وسوځول به شي اوچتې دروازې د هغه

بېځايه لاړ به شي زحمت چې ايستلی دی هغو قومونو

وسوځول به شي د هغوی ټول شيان

وايم داسې زه مطلق قادر څښتن

## بابل ته د ارميا د پيغام لېږل

۵۹ سرايا د نيريا زوی او د محسيا لمسی د صدقيا پاچا ځانګړی
خدمتګار ؤ. د يهودا د پاچا صدقيا د پاچاهۍ په څلورم کال سرايا د
هغه سره بابل ته روان ؤ او ما ورته ځينې لارښوونې وکړې. ۶۰ ما د
هغو ټولو مصيبتونو په هکله چې په بابل باندې به راشي او هغه
پورته ذکر شوي دي، په يو کتاب کې وليکل. ۶۱ ما سرايا ته وويل:
«کله چې بابل ته ورسېدلې، نو هر څه چې په دې کتاب کې ليکل


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شوي دي، هغه به خامخا خلکو ته په لوړ اواز لولې. ۶۲ بیا دعا وکړه: ‹ای څښتنه تا ویلي دي چې دا ځای داسې ورانوې چې هلته هیڅ ژوندي مخلوقات پاتې نه شي، نه انسانان او نه حیوانات او دا ځای به د تل دپاره د دښتې په شان وي.› ۶۳ سرایا، کله چې دې خلکو ته دا کتاب ولوست، نو هغه یوې تیږې پورې وتړه، د فرات سیند ته یې وغورځوه ۶۴ او ووایه: ‹دا هغه څه دي چې په بابل باندې به راشي. د هغه مصیبت په سبب چې څښتن غواړي په بابل باندې یې راولي، هغه به غرق شي او بیا به هېڅکله راپورته نه شي.›»

په دې ځای کې د ارمیا خبرې پای ته رسیږي.

## د اورشلیم سقوط

**(دوهم پاچاهان ۲۴:۱۸ – ۲۵:۷)**

۱ صدقیا یوویشت کلن ؤ چې د یهودا پاچا شو او هغه یوولس کاله په اورشلیم کې پاچاهي وکړه. د هغه مور حموطل نومېدله او د


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

ارمیا لور وه چې د لبنه د ښار ښځه ؤ. ٢ صدقیا پاچا کټ مټ د
یهویاقیم پاچا په شان داسې کارونه وکړل چې د څښتن په نظر کې
بد وو. ٣ څښتن د اورشلیم او یهودا په خلکو باندې دومره په قهر
شو چې هغوی یې د خپل حضور څخه وشړل.

صدقیا د بابل د پاچا نبوکدنصر په وړاندې یاغي شو. ٤ نو د
صدقیا د پاچاهۍ د نهم کال د لسمې میاشتې په لسمه ورځ نبوکدنصر
د خپل ټول لښکر سره اورشلیم ته راغی. هغوی د ښار څخه دباندې
خپلې خېمې ودرولې او د هغه ګردچاپېره اصلي دېوال ته یې یو بل د
کلابندۍ دېوال د ختلو دپاره جوړ کړ. ٥ اورشلیم یې د صدقیا د
پاچاهۍ تر یوولسم کاله پورې تر محاصرې لاندې ونیوه. ٦ د
هماغه کال د څلورمې میاشتې په نهمه ورځ دومره سخته قحطي
راغله چې خلکو ته د خوراک دپاره هېڅ شی پاتې نه شو ٧ او
بابلیانو د ښار دېوالونه سوري کړل. که څه هم ښار د هغوی له خوا
کلابند ؤ، خو د شپې له خوا پاچا او ټول عسکر وتښتېدل. هغوی د
شاهي باغ د هغې دروازې له لارې لاړل چې د دوو دېوالونو په منځ
کې وه او د اردن د درې خواته روان شول. ٨ خو د بابلیانو لښکر


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

پاچا تعقیب کړ او د اریحا ډاګ ته نژدې هغه پسې ورورسېدل. نو د
هغه ټولو عسکرو هغه پرېښود او هرې خواته خپاره شول. ۹ صدقیا
ونیول شو او نبوکدنصر پاچا ته چې په ریبله کې ؤ، یووړل شو. په
هغه ځای کې نبوکدنصر صدقیا محاکمه کړ او هغه په سزا محکوم
شو. ۱۰ په ربله کې هغه د صدقیا زامن د هغه په مخکې ووژل او
همدارنګه هغه د یهودا ټول مامورین اعدام کړل. ۱۱ له هغې وروسته
هغه د صدقیا سترګې راوویستلې او هغه یې په زنځیرونو وتاړه چې
بابل ته یې بوځي. صدقیا د خپل مرګ تر ورځې پورې په بابل کې
په زندان کې پاتې شو.

## د څښتن د کور ورانېدل

**(دوهم پاچاهان ۲۵:۸–۱۷)**

۱۲ د بابل د پاچا نبوکدنصر د پاچاهۍ د نولسم کال د پنځمې
میاشتې په لسمه ورځ، نبوزرادان د پاچا مشاور او د ساتونکو
قوماندان اورشلیم ته ورننوت. ۱۳ هغه د څښتن کور، شاهي ماڼۍ او
په اورشلیم کې ټولې مهمې ودانۍ وسوځولې ۱۴ او د هغه ټولو


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

عسکرو چې د هغه سره وو، د ښار دېوالونه راوغورځول. ۱۵ بیا نبوزرادان هغه خلک چې په ښار کې پاتې وو، د ځینې غریبانو، پاتې شویو ماهرو کارګرانو او د هغو کسانو په شمول چې بابلیانو ته تسلیم شوي وو، بابل ته بوتلل. ۱۶ خو نبوزرادان په یهودا کې ځینې غریب خلک پرېښودل چې د انګورو په باغونو او پټیو کې کار وکړي.

۱۷ بابلیانو هغه برنجي ستنې او کراچۍ چې د څښتن په کور کې وې د لویې برنجي ټانکۍ سره یوځای ټوټې ټوټې کړلې او ټول برنج یې بابل ته یوووړل. ۱۸ همدارنګه هغوی بېلچې، د قربانۍ د ځای څخه د ایرو د لرې کولو لوښي، د څراغونو د پلتو پاکوونکي، د قربانیو د وینو کاسې، د خوشبویۍ د سوځولو کاسې او نور ټول هغه برنجي سامان چې د څښتن په کور کې د خدمت دپاره ورڅخه کار اخیستل کېده، یوووړل. ۱۹ هغوی هغه ټول شیان چې د سرو او سپینو زرو نه جوړ شوي وو، لکه: کوچنۍ کاسې، د سکارو د وړلو لوښي، د قربانیو د وینو د شیندلو کاسې، د ایرو د غورځولو لوښي،
څراغدانونه، د خوشبویۍ د سوځولو کاسې او د څښلو د نذرانو د تویولو دپاره کاسې، ټول یې د ځان سره یوووړل. ۲۰ دوه برنجي


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ستنې، برنجې کراچۍ، لويه برنجي ټانکۍ او دولس د غويانو مجسمې
چې تشت ورباندې ايښی ؤ، هغه چې سليمان د څښتن د کور دپاره
جوړ کړي وو، دومره درانه وو چې نه وزن کېدل. (۲۱-۲۲) دواړه ستنې
يوشان وې، هرې يوې يې اته متره لوړوالی درلود او ګردچاپېره يې
پنځه نيم متره ؤ. د هغوی منځونه خالي وو او د فلز پنډوالی يې پنځه
اويا ملي متره ؤ. د هرې ستنې په سر باندې د چت د ټينګولو په
خاطر يوه برنجي تخته ايښې وه چې لوړوالی يې دوه متره او شل
سانتي او ګردچاپېره يې د سيخونو يوه جالۍ وه چې په برنجي انارو
باندې ښکلې کړای شوې وه. (۲۳) د هرې ستنې په جالۍ باندې سل
سل اناره وو او د هغو څخه شپږنوي يې د ځمکې نه ښکارېدل.

## بابل ته د يهودا د خلکو اسارت

**(دوهم پاچاهان ۲۵:۱۸-۲۱،۲۷-۲۸)**

(۲۴) برسېره پردې، نبوزرادان قوماندان، لوی کاهن سرايا، دوهم
کاهن سفنيا او د خدای د کور درې مهم مامورين د اسيرانو په توګه
ونيول. (۲۵) نبوزرادان د هغه ښار څخه د لښکرو قوماندان، د پاچا


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه اووه شخصي مشاوران چې په ښار کې پاتې وو، د قوماندان مرستیال چې د جګړې دپاره د عسکرو د راټولولو مسوول ؤ او نور شپېته تنه ونیول. ۲۶ نبوزرادان هغوی د بابل پاچا ته چې د حمات په خاوره کې د ریبله په ښار کې ؤ، بوتلل. ۲۷ نو پاچا هغوی هلته اعدام کړل. د یهودا خلک جلاوطني شول.

۲۸ دا د هغو خلکو لست دی چې نبوکدنصر د بندیانو په توګه بابل ته بوتلل: د خپلې پاچاهۍ په اووم کال درې زره او درویشت تنه د یهودا څخه، ۲۹ په اتلسم کال اته سوه او دوه دېرش تنه د اورشلیم څخه، ۳۰ او د نبوکدنصر د پاچاهۍ په درویشتم کال نبوزرادان اووه سوه او پنځه څلوېښت تنه بوتلل. ټول څلور زره او شپږ سوه تنه د یهودا څخه بېول شوي وو.

## د زندان څخه د یهویاکین ازادېدل

۳۱ د یهودا د پاچا یهویاکین د جلاوطنۍ د اووه دېرشم کال د دولسمې میاشتې په پنځه ویشتمه ورځ، اویل‌مرودک د بابل پاچا شو.


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه یهویاکین د زندان څخه ازاد کړ. ۳۲ اویل‌مرودک د هغه سره په
مهربانۍ چلند وکړ او هغه ته یې د هغو پاچاهانو په پرتله چې د هغه
سره په بابل کې اوسېدل، ډېر لوړ مقام ورکړ. ۳۳ نو یهویاکین نور د
زندان کالي وانه غوستل او د ژوند تر پایه پورې یې د پاچا په
دسترخوان باندې ډوډۍ خوړله. ۳۴ ترڅو پورې چې یهویاکین
ژوندی ؤ د پاچا له خوا هغه ته به هره ورځ د هغه د اړتیاوو مصرف
ورکول کېده.

تاسو پوښتنې لرئ؟ +1 807.700.9066
afghanbibles.org © افغانستان ۲۰۲۳